


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شرک پېژندنه

لیکوال

الحاج پروفیسور دکتور قاضی حفیظ الله بناد جبارخیل

۱۳۹۳ ل کال

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د کتاب ځانګړنې:

د کتاب نوم: شرک پېژندنه

لیــــکوال : پروفیسور دکتور قاضي حفیظ الله ښاد جبارخېل

خپرندوی: د افغانستان ملي تحریک فرهنګي ځانګه

پښتی ډیزاین: فیاض حمید

کمپوز: ظفر اقبال

د خپرندوی پرله پسې نومره: (۶)

چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپ وار: لومړی

چاپ نېټه: ۱۳۹۳ ل کال


www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نیولیک


| سرلیک | مخ |
|---|---|
| سریزه | ۱ |
| شرک پېژندنه | ۷ |
| د شرک ډولونه: ذات، صفاتو، عباداتو سره | ۱۱ |
| آدم علیه السلام ته د پرښتو سجده کولو کې حکمت | ۳۳ |
| اوسنی وخت او شرک | ۳۴ |
| د نبوت علم او اختیار او د شرک کارونه | ۳۷ |
| د خالق او مخلوق د صفاتو توپیر | ۴۱ |
| د ذاتي او عطایي صفاتو توپیر | ۴۳ |
| له رحیم رسول الله صلی الله علیه وسلم د رحمت........ | ۴۴ |
| دم، تعویذ او شرک | ۱۵۷ |
| د عبادت او تعظیم توپیر | ۱۶۳ |
| ماخذونه | ۱۷۳ |
| لیکوال پېژندنه | ۱۷۴ |


www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحریک یادښت

فرهنګي څانګه د افغانستان ملي تحریک له اساسي څانګو څخه یوه اساسي څانګه ده. د دې څانګې دنده داده چې هېوادوالو ته فرهنګي خدمات وړاندې او ګټور فرهنګي کارونه ترسره کړي. د تاریخي، ملي، کلتوري ورځو او تاریخي او ملي شخصیتونو نمانځل د دې څانګې نورې دندې دي.

د هېواد د لیکوالو د علمي، دیني، روزنیزو او معلوماتي اثارو چاپ هم د دې څانګې له اساسي دندو څخه ګڼل کېږي. له هغې ورځې راهیسې چې تحریک خپل عملي فعالیتونه پیل کړي دي، نو د دې څانګې هم ورسره سم خپل فعالیتونه چټک کړي دي. تاریخي ورځې یې نمانځلي، تاریخي واټونو ته یې لوحې جوړې کړي. علمي سیمینارونه او ورکشاپونه یې جوړ کړي دي.

د تحریک دې څانګې د تحریک د عمومي هدفونو په رڼا کې وپتېیله چې په یوځایي ډول (شل عنوانه) کتابونه چاپ کړي. په دې اثارو کې اکثره دیني او علمي اثار شامل دي چې درنو هېوادوالو ته یې وړاندې کوي.

دا اثر (شرک پېژندنه) چې ستاسو په لاس کې دی، ښاغلي (پروفیسور دکتور قاضي حفیظ الله ښاد جبارخیل) لیکلی او د همدغو شلو عنوانو اثارو له جملې څخه دی. هیله ده درانه لوستونکي ترې ښه ګټه پورته کړي. تحریک خپلو هېوادوالو ته ډاډ ورکوي چې په راتلونکي کې به هم خپلو دې ډول هڅو ته دوام ورکړي.

د هېواد د فرهنګ د بډاینې په هیله

په درناوي

د افغانستان ملي تحریک

فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شرک پېژندنه

بسم الله الرحمن الرحیم

ان الشرک لظلم عظیم[1]

## سریـزه

الله! ستا حمد او په رسول الله صلی الله علیه وسلم درود وایم بیا غواړم د شرک په برخه کې مسلمانانو ته سمه عقیده وښییم، چې اهل سنت او جماعت یې لري او هغه تشویشونه چې د ځینو له خوا پېښ شوي ذهنیتونه یې صفا شي، نو له مقتدر الله جل جلاله نه مرسته غواړم چې هغه معلومات زما ذهن او قلم ته راولي چې درنو لوستونکو او ټولو مسلمانانو ته سمه لارښوونه او د الله جل جلاله حضور ته منظور او قبول وي. څو په دې توگه زما غاړه خلاصه او هر مؤمن ته له شرک ژغورنه ورپه برخه وي. الله تعالی دې مونږ له شرک وساتي او له نورو صغیره او کبیره گناهو مصئونیت راپه برخه کړي. ((اللهم علمنی ما جهلت و ذکرنی ما نسیت برحمتک یا ارحم الراحمین، امین یا رب العالمین)).

درنو لوستونکو! د مخه تر دې چې د شرک د معنی او د هغه د اقسامو او د حقیقي شرک د معرفي په برخه کې د معلوماتو په وړاندې کولو پیل وکړم غواړم په لنډه توگه وښیم چې ټول مخلوقات الله تعالی مني په یووالي یې عقیده لري او شرک ورسره حرام گڼي، دا مطالب د قرآن کریم د ایاتو په رڼا کې په لاندې ډول راوړو!

### ۱ـ د الله مننه:

---

[1]. ژباړه: بیشکه شرک هرو مرو ستر ظلم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاندې باندې کاینات، لوح او قلم، عرش او کرسي، وچ او لامده، بحر او بـر، شـپه او ورځ، ونـې او مېـوې، ځمکـه او اسـمان، لمـر او سـپوږمۍ، ستوري او سیارې، مرګ او ژوند، غرونه، او سیندونه او داسې نور ټول د (کن) امر تـه محتـاج دي او پـر کاینـاتو لا محدود تصرفات ټول د خالق او مالک او کل اختیـار الله جل جلالـه د ذات پـه موجودیت ځرګند او واضح ثبوت دی او له ده جل جلاه سره هیڅ شریک نشته. هر ضعیف او قوي د ده بې پایان رحمت ته محتاج دی، د ده ذات او صفات مثل نه لري، دی واحد او لاشریک دی، دا ټول مخلوقات فـاني او دی بـاقي دی، قـدیم دی اول نه لري باقي دی اخر نه لري ځکه ټولو مخلوقاتو یې په څېړنو او مناقشو د الله جل جلاله پاک ذات منلی په تسبیح او تهلیـل یې ځینې د حال او ځینې د قال په ژبه لګیا دي. دلیل یې دا مبارک ایت دی:

((تسـبح لـه السـموات السـبع والارض و مـن فـیهن و ان مـن شـيءٍ الا یسـبح بحمده ولکن لا تفقهون تسبیحهم انه کان حلیماً غفورا)) [اسرائیل: ۴۴][2]

ژباړه: تسبیح وایي ده ته اووه اسمانونه او ځمکه او هغه څوک چې په دوی کې دي او نشته هیڅ شی له مخلوقاتو مګر چې تسبیح یې وایي او په حمد سره یې یادوي مګر نه پوهیږئ تاسې په تسبیح د هغوی بېشکه دغـه (الله) دی ښه تحمل والا (په تاخیر د عقوبت لپاره د انابت) ښه رحم والا (پـه انعـام د اجر و ثواب سره).[3]

تفسیر: یعنې هر مخلوق د قال یا د حال په ژبه د الله تعالی تسبیح، ثنا او صـفت کـوي لکـن تاسـې نـه پـرې پـوهیږئ ځکـه چې ستاسې سـره یـې د پوهیدلو توان، قوت نشته چې د هغه پـه ذریعـه د ځینو مخلوقـاتو د (قال) تسبیح واورئ او پرې وپوهېدای شئ او کـه څـوک پـرې پـوه شي خو عمل پرې ونه کړي د هغه دغـه پوهـېدل د نـه پوهـېدلو پـه حکم کې دي، بېشکه

---

[2]. بني اسرائیل/ ۴۴.

[3]. کابلی تفسیر.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه الله دی ښه تحمل والا په تاخیر د عقوبت لپاره د انابت ښه رحم والا دی په انعام د اجر او ثواب سره یعني هغه ذات چې ګرد مخلوقات یې پاکي او تسبیح بیانوي تاسې ورته شریکان، لوڼې او اولاد تجویز کوئ نو دغه داسې ګستاخي او سپین سترګي ده، چې د هغه په مقابل کې ښایي تاسې سم له لاسه فوراً هلاک کړای شئ لیکن الله تعالی د خپل حلم په لحاظ په تلوار سره تاسې نه نیسي او که توبه وباسئ نو بخښني مو هم[۴] فرمایلي دي:

((الله یسبح من فی السموات و الارض و الطیر صفت کلاً قد علم صلاته و تسبیحه و الله علیم بما یفعلون))[۵]

ژباړه: الله تعالی په پاکۍ سره یادوي، د ده جل جلاله مخلوق او مملوک او بندګان دي هر څوک چې په اسمان کې دي او که په ځمکه کې او الوتونکي د وزرو په غوړولو کې، هرو مرو ټولو خپل لمونځ او خپل تسبیح پیژندلی او څه چې کوي الله تعالی پرې پوهیږي.[۶]

نو مخلوقات ځکه د الله تعالی عبادت کوي چې د خپلو پیدا کولو مننه ترې وکړي او شکر یې ادا کړي، خپله بندګي ورته په عمل کې ښکاره کړي او د ده جل جلاله د پاچاهۍ منلو او خدایۍ قبلولو اظهار ورته وکړي، الله تعالی خپله پاچاهي داسې بیان کړې ده:

((و لله ملک السموات والارض و الی الله المصیر))[۷]

ژباړه: او د ځمکي او اسمانو پاچاهي خاص الله لره ده او د هر هغه شیز چې په دې ځمکه او اسمانو کې دی یا هر چېرته دی او د ټولو ورتګ الله تعالی ته دی.[۸]

---

۴. کابلی تفسیر شیخ الهند مولانا محمود حسن دیوبندي او علامه شبیراحمد عثماني په اردو لیکنه بیا د افغانستان د سترو عالمانو د یوه ټولګي لخوا پښتو ته اړول شوی. ۱۵ جزء.

۵. النور / ۴۱.

۶. کابل تفسیر.

۷. النور / ۴۲.

۸. کابلی تفسیر.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲_ د الله تعالی یووالی :

الله تعالی په خپلې خدایۍ او خپلو صفاتو او د عبادت په استحقاق کې شریک نه لري، واحد ذات دی، د چا شراکت ته اړتیا نه لري، قادر او توانا دی د چا مرستې ته يې ضرورت نشته. د خدای تعالی په یووالي دال ایاتونه ډېر دي خو څو يې دلته راوړم چې دا دي:

**((يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لا تَغْلُوا فِي دِينِكُمْ وَلا تَقُولُوا عَلَى اللَّهِ إِلاَّ الْحَقَّ إِنَّمَا الْمَسِيحُ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ رَسُولُ اللَّهِ وَكَلِمَتُهُ أَلْقَاهَا إِلَى مَرْيَمَ وَرُوحٌ مِنْهُ فَآمِنُوا بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ وَلا تَقُولُوا ثَلاثَةٌ انتَهُوا خَيْراً لَكُمْ إِنَّمَا اللَّهُ إِلَهٌ وَاحِدٌ سُبْحَانَهُ أَنْ يَكُونَ لَهُ وَلَدٌ لَهُ مَا فِي السَّمَوَاتِ وَمَا فِي الأَرْضِ وَكَفَى بِاللَّهِ وَكِيلاً.))**[۹]

ژباړه: ای کتابیانو! تاسې مبالغه کوئ په دین ستاسې کې او مه وایئ پر الله مګر حق، بېشکه همدا خبره ده چې مسیح عیسی زوی د مریمې، د الله رسول دیاو (داسې) کلمه دده ده چې (الله) دغه کلمه مریمې ته غورځولې ده او د الله له جانبه روح دی نو په الله ایمان راوړئ او د الله په رسولانو او مه وایئ چې (معبودان) درېدي او منع شئ (له دې وینا توحید اختیار کړئ) تاسې ته خیر دی، بېشکه همدا خبره ده چې الله حق معبودیو دی (بې شریکه بې عیبه) ده لره پاکي ده له دې چې ده ته د ولد نسبت وشي ده لره دي هر څه چې په ځمکه او اسمانو کې دي سره له ځمکې او اسمانو کې او کافي دی الله له جهته د مدد مرستې او کار جوړونې.[۱۰]

او که بې له دغه حق یوه خدای بل خدای موجود وای نو فساد به پېښ شوی وای لکه چې فرمایلي يې دي :

**((لَوْ كَانَ فِيهِمَا آلِهَةٌ إِلاَّ اللَّهُ لَفَسَدَتَا...))**[۱۱]

ژباړه : یعنې کهچیرې په دې ځمکه او اسمانو کې غیر له یوه حق معبود الله جل جلاله څنې نور خدایان وای نو دا دواړه (ځمکه او اسمانونه) به

---

[۹]. النساء / ۱۷۱.

[۱۰]. کابلیتفسیر.

[۱۱]. سورة الانبیاء / ۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

خراب شوي وای، په دې چې یوه به د یوه کار د کولو اراده کوله او بل به یې د نه کولو نو د اختلاف د پیداکیدو لامله به یې د ځمکې او اسمانو خرابي منځته راتلای او که د یوه خبره سرته رسیدلای او د بل نه رسیدلای نو هغه به ضعیف او مغلوب واقع کیده، بیا هغه خدای نه شوای کیدلای ځکه چې خدای خو ضعیف او مغلوب نه وي او که دواړو په اتفاق او شراکت کار کولای بیا هم یو بل ته به اتفاق کې اړ کیدل چې اړتیا هم د خدای وصف نه شي کیدای نو لازم دي چې الله تعالی یو او لا شریک وي او دی.

له دې او داسې نورو مبارکو ایاتو د الله تعالی یووالی ثابت دی شریک نه لري یعنې یووالی یې د (لا شریک له) له حیث دی نه د عدد له حیثه ځکه چې عدد د اجزاء ۲/۱، ۳/۱، ۴/۱ او داسې نور اضعاف دو چند درې چند څلور چند او داسې نور لري او الله تعالی له اجزاء او اضعافو پاک او منزه دی.

## ۳_ د شرک حرمت:

له الله تعالی د شرک د نفي کولو ایاتونه ډېر دي څو یې دلته راوړو چې د شرک حرمت واضحه کوي:

((أئلَهٌ مَعَ اللّه)) [۱۲] ((وَاعبُدُوا اللّهَ وَلَا تُشرِكُوا بِهِ شَيْئاً...)) [۱۳] ((قُلْ إِنَّمَا هُوَ إِلَهٌ وَاحِدٌ وَإِنَّنِي بَرِيءٌ مِمَّا تُشْرِكُونَ)) [۱۴]

((وَمَنْ يُشْرِكْ بِاللّه فَقَدْ افْتَرَى إِثْماً عَظِيماً)) [۱۵] ((إِنَّهُ مَنْ يُشْرِكْ بِاللّهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللّهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ)) [۱۶]

---

۱۲. النمل / ۲۲، ژباړه: ایا شته بل معبود له الله سره؟ (نه نشته) (کابلي تفسیر).

۱۳. النساء / ۳۶، ژباړه: او عبادت کوئ تاسې د الله! او مه شریکوئ تاسې له ده سره هیڅ شی! (کابل تفسیر).

۱۴. الانعام / ۱۹، ژباړه: وو ایه (ای محمده دوی ته) زه خو شاهدي (په دې سره نه ورکوم، وو ایه خبره همدا ده چې الله دی معبود یو او ببشکه زه بېزار یم له هغو شیونو چې شریکان کوئ یې تاسې (له الله سره) (کابلي تفسیر).

(c) ketabton.com: The Digital Library

((فَمَنْ كَانَ يَرْجُوا لِقَاءَ رَبِّهِ فَلْيَعْمَلْ عَمَلاً صَالِحاً وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَداً))[۱۷] او داسې نور.

نو په دغو دلايلو شرک حرام دی، د دې لپاره چې له دغه حرام خيز ژغورنه وشي د هغه پېژاندنې له امله لاندې مطالب وړاندې کوم هېله ده د مسلمانانو ورونو د استفادې وړ شي.

(ښاد جبارخيل)

---

[۱۵]. النساء / ۴۸، ژباړه: او هر څوک چې شريک ونيسي له الله سره نو په تحقيق ويې تړل (په الله) دروغ لوی (او ويې کړه) گناه ډېره لويه. (کابلی تفسير)

[۱۶]. المائده / ۷۲، ژباړه: بېشکه شان دا دی هر چا چې شريک ونيو له الله سره (په عبادت کې بل شی) نو په تحقيق حرام کړی دی الله په دغه (شرک) باندې جنت او ځای د ده اور (د دوزخ دی) او نشته ظالمانو ته هيڅ مدد کوونکی (چې عذاب ترې دفع کړي) (کابلی تفسير).

[۱۷]. الکهف / ۱۱۰، ژباړه: نو هر څوک چې وي چې اميد لري د (اخروي) ملاقات د رب خپل (په ښه وجه سره) نو ښايي چې (تل) عمل وکړي عمل صالح (ښه) او نه دې شريکوي په عبادت د رب خپل کې هيڅوک.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شرک پېژندنه

## د شرک لغوي معنی :

شرک او مشارکت د دوه یا زیاتو ملکیتونو ګډولو او خلطیت ته وایي.[۱۸]

### د شرك اصطلاحي معنی :

شرک د داسې عقیدې یا عمل نوم دی چې په هغه کې د خدای تعالی حقوق د مخلوق له حقوقو سره شریک وګڼل شي په بل عبارت : کومه عقیده یا عمل چې د خدای تعالی لپاره اختصاص لري په هغه کې بل څیز یا بل څوک شریک ومنل شي.[۱۹]

### د شرك شرعي اصطلاحي معنی :

په شرعي اصطلاح کې شرک هغه څه ته وایي چې د هغه په توګه قرآن کریم ورته شرک ویلی وي.[۲۰]

### شرك عظیم ظلم دی :

شرک الله تعالی عظیم ظلم نومولی دی لکه چې فرمایلي یې دي : ((وَإِذْ قَالَ لُقْمَانُ لاِبْنِهِ وَهُوَ يَعِظُهُ يَا بُنَيَّ لاتُشْرِكْ بِاللّهِ إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ))[۲۱]

ژباړه : او یاد کړه (ای محمده) هغه وخت چې لقمان خپل زوی ته نصیحت کاوه، ورته ویې ویل : ای زما زویه! الله سره شریک مه نیسه بېشکه شرک لوی ظلم دی.[۲۲]

د بخاري شریف د تفسیر په کتاب کې له عبدالله بن مسعود رضي الله عنهما روایت دی چې :

---

۱۸. المفردات فی غریب القرآن.

۱۹. همدغه مرجع.

۲۰. همدغه مرجع.

۲۱. لقمان / ۱۲.

۲۲. کابلي تفسیر.

(c) ketabton.com: The Digital Library

((عن عبدالله قال : لما نزلت هذه الاية ((الذين امنوا و لم يلبسوا ايمانهم بظلم شق ذلک علی اصحاب رسول الله صلی الله علیه وسلم و قالوا : اینا لم یلبس ایمانه بظلم؟ فقال رسول الله : انه لیس بذلک الاتسمع الی قول لقمان لابنه ان الشرک لظلم عظیم)) [۲۳]

یعنې : لـه عبدالله روایت دی چې ویلي یې دي چې : ((الَّذِینَ آمَنُوا وَلَمْ یَلْبِسُوا إِیمَانَهُمْ بِظُلْمٍ)) [الانعام : ۸۲] ایت نازل شو پـه اصحابو رضي الله عنهم سخت تمام شو نو دوی وویل: زمونږ د کوم یوه ایمان له ظلم سره ملبس نه دی؟ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : داسې نه ده چې تاسې یې فکر کړئ (چې د هر چا ایمان په ظلم ملبس وي) بلکې له ظلم مراد شرک دی لکه لقمان چې په نصیحت کې خپل زوی ته وویل: چې شرک لویه ګناه ده.

په دې مبارک حدیث یو د لقمان تائید شو، چې ((عظیم ظلم شرک دی))؛ نو هر ظلم شرک نـه دی بـل دا چې هـره ګناه شـرک نـه ده بلکې: ستره نـه بخښونکې ګناه شرک دی چې الله تعالی یې نه بخښي او پـه همدې یې د لوی والي توپیر له نورو ګناهو کیږي نو کوم ګناهونه چې بخښل کیږي هغه د شرک د ګناه په اندازه عرمت نه لري. له دې کبله ورتـه کبیرې وایي او لـه هغې ښکته ګناهو تـه صغیرې وایي. نو دا هم څرګنده شوه، چې عظیمه ګناه، کبیره ګناه، او صغیره ګناه د ګناهو ډولونه دي. جلا جلا احکام لري، عظیمه ګناه شرک ده، چې نه بخښونکې ده. کبیره ګناه شرک نـه بلل کیږي او حکم یې دا دی چې بخښل یې د خدای تعالی په ارادې پورې اړه لري که چا ته یې خوښه شي ورته بخښي یې او کـه چا تـه یې خوښـه نـه شي نـه یې ورته بخښي عذاب یې ورکوي او صغایر ګناهونـه پـه اوداسه، لمانځـه او

---

[۲۳]. بخاری کتاب التفسیر.

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې نورو نیکیو بخښنل کیږي، د شرک د نه بخښلو او د نورو ګناهو د بخښلو دلیل دا مبارک ایه دی:

((إِنَّ اللّهَ لا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ وَمَنْ يُشْرِكْ بِاللّهِ فَقَدْ افْتَرَى إِثْماً عَظِيماً))[۲۴]

ژباړه: بېشکه الله تعالی بخښنه نه کوي هغه چا ته چې شرک ورسره ونیسي او بخښنه کوي د هغو ګناهو چې له شرک ښکته وي هغه هم د هغه چا لپاره بخښي چې ورته خوښه یې شي او څوک چې الله تعالی سره شریک نیسي نو هرو مرو یې له ځان نه ستره ګناه ځانته جوړه کړه.

په قدس حدیث کې هم شرک نه بخښونکې ګناه او مشرک د جهنم مستحق ګڼل شوی دی او هغه قدسي حدیث دا دی: ((و عن انس رضی الله عنه قال: سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم. یقول: قال الله تعالی: یا ابن ادم انک ما دعوتنی ورجوتنی غفرت لک علی ما کان منک ولا ابالی یا ابن ادم لوبلغت ذنوبک عنان ثم استغفرنی غفرت لک یاابن ادم انک لو اتیتنی بقراب الارض خطایا ثم لا تشرک بی شیئاً لاتینک بقرابها مغفرة))[۲۵]

یعنې له انس رضی الله عنه روایت دی ویلي یې دي: له رسول الله صلی الله علیه وسلم مې اوریدلي، فرمایلي یې دي چې الله تعالی ارشاد کړی: ای د ادم زویه! که ته هر څۀ په دعا کې له ما وغواړې او هیله رانه وکړې تا ته به په هغه څه چې له تا شوې وي بخښنه وکړم او زما پروا ورباندې نشته ای د ادم زویه! که ستا ګناهونه د اسمان کنارو پورې رسیدلې وي او بیا له ما بخښنه وغواړې تا ته به بخښنه وکړم. ای د ا دم زویه! که د ځمکې په قراب ( ) ګناهونو سره ما ته راشې بیا کوم څیز راسره شرک ونه نیسې زه به د ځمکې په قراب ( ) به (بخښنه درته وکړم).

---

[۲۴]. النساء/ ۴۸.

[۲۵]. رواه الترمذی ... و قال حدیث حسن.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د قرآن مجید او نبوي احادیثو په متعددو ځایو کې شرک نه بخښونکی او د معافي نه کولو قابل ګناه معرفي شوې دی او د نورو خطاګانو د بخښنې امکانات یې بیان کړي دي چې ځینې ارشادات یې دا دي:

((فَمَنْ تَابَ مِنْ بَعْدِ ظُلْمِهِ وَأَصْلَحَ فَإِنَّ اللَّهَ يَتُوبُ عَلَيْهِ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ))[26]

ژباړه: نو څوک چې پس له خپلې ګناه توبه وباسي او نیکي وکړي الله تعالی به یې ورته معاف کړي. بېشکه الله تعالی بخښونکی او مهربان دی.[27]

او فرمایلي یې دي:

((وَإِنِّي لَغَفَّارٌ لِمَنْ تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ صَالِحاً ثُمَّ اهْتَدَى))[28]

ژباړه: او بېشکه زه د هغه چا لپاره بخښونکی یم چې توبه یې ایستلې وي، ایمان یې راوړی وي، او نیک عمل یې کړی وي او په سمه لار سم شوی وي.[29]

او د ابوهریره او ابي ذر رضي الله عنهما په روایت بېلو بېلو حدیثو کې راغلي دي، چې:

((من قال: لا اله الا الله فقد دخل الجنة)) یعني څوک چې لا اله الا الله وو ایي هرو مرو جنت ته ننوځي.

دا پورتنی ذکر شوی نصوص پر دې دلالت کوي، چې د الهي رحمت له مخې هر ګناهګار د خدای تعالی د بخښنې حقدار دی په دې نصوصو کې نه یوازې توبې ته تلقین شوی دی، بلکې د توبې د قبولیت زیری هم په کې دی ... خو شرک په خلاف د نورو ګناهونو د دردناک عذاب وعید ورته شوی دی، حقیقت دادی چې انسان فطري کمزوري لري نو د خدای تعالی د

---

[26]. المائده / ۳۹.
[27]. کابلي تفسیر.
[28]. طه / ۸۲
[29]. کابلي تفسیر.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خصوصي کرم له مخې چې څوک یې رحم وغواړي او توبه وباسي نو د بې پایانه بخښنې له عطایاوو به یې معاف کړي لیکن د خدای تعالی د دغه بې پایانه رحمت او بخشش له بحر د یوه څاڅکي نصیبه او برخه مشرک ته نشته ده.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د شرک ډولونه

ځینې علماوو شرک په دوه ډولو کبیر او صغیر وېشلی چې کبیر نه بخښونکی او صغیر یې په توبه او د خدای تعالی په نسبت دبخښنې وړ دی خو اهل سنت او جماعت یې دوهم ډول کبیره ګناهو کې بولي او ځینو په جلي او خفي ویشلی. مونږ یې دلته هغه متفق علیه ډول چې شرک کبیر یې پولي ذکر کوو او د نورو یې لازمي معلوماتو نه وړاندې کوو انشاء الله.

## شرک درې ډوله دی :

شرک فی الذات، شرک فی الصفات، شرک فی العبادات.[۳۰]

### ۱ : شرک فی الذات:

اصله اعتقاد شریک لله فی الالوهیة و هو الشرک الاعظم و هو شرک الجاهلیة.[۳۱]

یعنې اصلي او خورا ستر شرک دا دی، چې خدای تعالی سره په الوهیت کې د شریک عقیده وشي چې (انسان، پیری، ونه، تیږه یا بل څه معبود وګڼل شي) چې د جاهلیت په وخت دا ډول شرک و ، دې ته په ذات کې شرک یا په الوهیت کې شرک وایي. لکه چې یو څیز له الله تعالی سره برابر یا یې اولاد وګڼي لکه چې چا به لمر چا به سپوږمۍ، چا به ستوري د الله په مقابل کې خدایان ګڼل او چا به بې سا او بې روحه مجسمې د کائناتو خالق سره شریکې بللې، چا به د انبیاوو او چا به پرښتې د الله تعالی اولاد شمېرلې او ځینو به پېریان الله تعالی سره شریک حسابول. له دې امله الله

---

۳۰. محمد اقبال قریشي، حقیقت شرک علمی څېړنه او تالیف د ۱۴۲۵هـ ق ۲۰۰۵م د تحریک فروع اسلام ضلع راولپنډۍ له خوا په اردو چاپ شوی کتاب.

۳۱. شرک فی الذات اصل کې هغه دی چې خدای تعالی سره په الوهیت کې د شرک اعتقاد وشي (العیاذ بالله) دا ستر شرک دی او د جاهلۍ شرک دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تعالی د دوی د دغه ناپاک او کړغېړنې عقیدې ذکر او د هغو شناخت په قرآن کې فرمایلی دی چې له هغې جملې د انبیاوو شریک نیونه یې له خدای تعالی سره داسې رد کړې ده:

((وَقَالَتْ الْيَهُودُ عُزَيْرٌ ابْنُ اللّه وَقَالَتْ النَّصَارَى الْمَسِيحُ ابْنُ اللّه ذَلِكَ قَوْلُهُمْ بِأَفْوَاهِهِمْ يُضَاهِئُونَ قَوْلَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ قَبْلُ قَاتَلَهُمْ اللّهُ أَنَّى يُؤْفَكُونَ)) [32]

ژباړه: او وایي یهودان، چې عزیر زوی د الله دی او وایي نصرانیان چې مسیح زوی د الله دی. دغه چټي (بېکاره) وینا د دوی ده په خولو خپلو سره (چې وایي یې بې دلیله) مشابه ده (خبره) د دوی له خبرو د هغو کسانو سره چې کافران شوي وو پخوا (له دوی یعنې پلرونه د دوی الله دې دوی هلاک کړي چې څرنګه دوی له سمې لارې څنې ګرځولی شي.

او د نصاراوو د تثلیث عقیده یې داسې ارشاد کړې ده:

((يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لا تَغْلُوا فِي دِينِكُمْ وَلا تَقُولُوا عَلَى اللّه إِلاَّ الْحَقَّ إِنَّمَا الْمَسِيحُ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ رَسُولُ اللّه وَكَلِمَتُهُ أَلْقَاهَا إِلَى مَرْيَمَ وَرُوحٌ مِنْهُ فَآمِنُوا بِاللّه وَرُسُلِه وَلا تَقُولُوا ثَلاثَةٌ انتَهُوا خَيْراً لَكُمْ إِنَّمَا اللّهُ إِلَهٌ وَاحِدٌ سُبْحَانَهُ أَنْ يَكُونَ لَهُ وَلَدٌ لَهُ مَا فِي السَّمَوَاتِ وَمَا فِي الأَرْضِ وَكَفَى بِاللّهِ وَكِيلاً)) [33]

ژباړه: ای اهل د کتابو! مه کوئ! تاسې مبالغه (تجاوز له حدودو) په دین ستاسې کې او مه وایئ تاسې پر الله مګر (ویل) حق (رښتیا) بېشکه همدا خبره ده بله نه ده چې مسیح عیسی زوی د مریمې رسول د الله دی او (داسې) کلمه د ده ده، چې غورځولې ده (الله) دغه کلمه مریمې ته او روح دی له جانبه د الله نو ایمان راوړئ په الله او په رسولانو د ده او مه وایئ

---

[32]. التوبه/ ۳۰.

[33]. النساء/ ۱۷۱. ولد له پلار سره برابر نه وي نو عیسی او مریم له خدای سره دوم او دریم ګڼل د عیسی له رسالت او د مریمې له ولایت انکار او خدای تعالی سره دویم او دریم ګڼل کفر دی. (العیاذ بالله)

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسې چې درې دي، منع شئ تاسې (له دې وينا توحيد اختيار کړئ چې) تاسې ته خير دی بېشکه همدا خبره ده چې الله حق معبود يو دی (بې شريکه بې عيبه) دی. پاکي ده ده لره له دې چې ده ته د ولد نسبت وشي. خاص ده ته دي هر هغه څه چې په اسمانونو کې دي (له علوياتو) او هر هغه څه چې په ځمکه کې دي (له سفلياتو سره له اسمانو او ځمکې ملکاً، خلقاً او عبيداً) او بس دی الله وکيل (کار جوړونکی).

د يهودو او نصاراوو هغه باطله عقيده چې خدای تعالی ته يې د خپلو ځانو اولاد ګڼلو نسبت کاوه داسې بيان کړې ده:

((وَقَالَتِ الْيَهُودُ وَالنَّصَارَى نَحْنُ أَبْنَاءُ اللَّهِ وَأَحِبَّاؤُهُ قُلْ فَلِمَ يُعَذِّبُكُمْ بِذُنُوبِكُمْ بَلْ أَنْتُمْ بَشَرٌ مِمَّنْ خَلَقَ يَغْفِرُ لِمَنْ يَشَاءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ يَشَاءُ وَلِلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا وَإِلَيْهِ الْمَصِيرُ))[34]

ژباړه: وويل يهودانو او نصرانيانو چې مونږ ځامن د الله يو (په قرب او منزلت کې) او دوستان د ده يو، ووايه (ای محمده! دې کتابيانو ته) نو ولې په عذابوي (الله) تاسې په سبب د ګناهونو ستاسې؟ بلکې تاسې (هم) يو بشر (بنيادم) يئ د هغو مخلوقاتو نه چې الله پيدا کړي دي. مغفرت کوي (الله) هغه چا ته چې اراده وفرمايي (د مغفرت يې) او عذابوي هغه څوک چې اراده وفرمايي (د عذاب يې) او خاص الله لره دی ملک (سلطنت) د اسمانونو او (سلطنت) د ځمکې او (سلطنت) د هغو شيانو چې په منځ د دوی کې دی او خاص همده ته دي بيا ورتلل (د ټولو، نو ور به کړي هر چا لره جزاء د عمل د ده).

کفارو او مشرکينو چې فرښتې د دخدای تعالی لورګانې بللې دغه باطله عقيده خدای تعالی داسې بيان کړې ده.

[34]. المائده / ۱۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library

((أَفَأَصْفَاكُمْ رَبُّكُم بِالْبَنِينَ وَاتَّخَذَ مِنَ الْمَلآئِكَةِ إِنَاثاً إِنَّكُمْ لَتَقُولُونَ قَوْلاً عَظِيماً))[۳۵]

ژباړه: ايا نو غوره کړي يئ تاسي رب ستاسي په ځامنو سره او (پخپله الله ځان ته په زغم ستاسي) نيولی دی له پرښتو څني ښځې (لوڼې) ببشکه تاسي چې يې خامخا وايئ خبره ډېره لويه.

مشرکينو چې له الله تعالی سره د پيريانو شريکولو عقيده لرله هغه خدای تعالی داسي ذکر کړې ده.

((وَجَعَلُوا لِلّهِ شُرَكَاءَ الْجِنَّ وَخَلَقَهُمْ وَخَرَقُوا لَهُ بَنِينَ وَبَنَاتٍ بِغَيْرِ عِلْمٍ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى عَمَّا يَصِفُونَ))[۳۶]

ژباړه: او له الله سره يې په ناپوهۍ پيريان شريکان ګرځولي دي حال دا چې دوی يې پيدا کړي دي او ده ته يې د زامنو او لوڼو د لرلو نسبت کړی دی، خدای تعالی ته له هغه څه چې دوی يې موصوفوي پاکي او لوړوالی دی.

الله تعالی ته په اولاد لرلو عقيده کفر ده د ده جسارت اندازه خدای تعالی داسي ښودلې ده:

((وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمَنُ وَلَداً (۸۸) لَقَدْ جِئْتُمْ شَيْئاً إِدّاً (۸۹) تَكَادُ السَّمَوَاتُ يَتَفَطَّرْنَ مِنْهُ وَتَنشَقُّ الْأَرْضُ وَتَخِرُّ الْجِبَالُ هَدّاً (۹۰) أَنْ دَعَوْا لِلرَّحْمَنِ وَلَداً (۹۱) وَمَا يَنبَغِي لِلرَّحْمَنِ أَنْ يَتَّخِذَ وَلَداً (۹۲) إِنْ كُلُّ مَنْ فِي السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضِ إِلاَّ آتِي الرَّحْمَنِ عَبْداً (۹۳)))[۳۷]

ژباړه: او کتابيان وايي: رحمن ولد نيولی دی په تحقيق تاسي په يوه لوی شي سره له حيثه د ګناه راتلل کړي دي چې له دې نسبته اسمانونه چوي (او نږدې ده چې) ځمکه ټوټې ټوټې شي او غرونه ولويږي غرکې غرکې (ذرې

---

[۳۵]. الاسراء/ ۴۰.
[۳۶]. الانعام/ ۱۰۰.
[۳۷]. مريم/ ۸۸-۹۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ذرې) شي له جهته د دې چې دوی رحمن ته ولد (زوی لور) بولي او نه ښايي رحمن ته چې ونيسي ولد (لور زوی) نه دي ټول هغه (گرد شيان) چې په اسمانونو او ځمکه کې دی مگر راتلونکي دي رحمن ته په دغه حال کې چې بنده وي هر يو (نه ولد).

له پورتنيو مبارکو اياتو څرگنده شوه چې د انبياوو عليهم الصلوت والسلام او د پرښتو او پېريانو په برخه کې د يهودو او نصاراوو له خوا طرح شوې د شرک عقيدې مردودې او باطلې دي.

ذات د خدای تعالی يو او د ټولو کائناتو پيدا کوونکی او مالک دی، د ده جل جلاله په برخه کې باطل نظريات ستر ظلم دی، نو دی جل جلاله له هغو ټولو تهمتونو چې کفارو ورپورې کول بيخي پاک دی، قرآن مجيد په کراتو مراتو د کفر عقايد رد کړي او فرمايلي يې دي:

((مَا اتَّخَذَ اللَّهُ مِنْ وَلَدٍ وَمَا كَانَ مَعَهُ مِنْ إِلَهٍ إِذاً لَذَهَبَ كُلُّ إِلَهٍ بِمَا خَلَقَ وَلَعَلَا بَعْضُهُمْ عَلَى بَعْضٍ سُبْحَانَ اللَّهِ عَمَّا يَصِفُونَ)) [38]

ژباړه: الله ولد نه دی نيولی او له ده سره بل خدای نشته که وی هر خدای به د خپل مخلوق طرف ته ورته ځينو به په ځينې نورو لوړتيا کوله، الله پاک دی.

همدارنگه الله تعالی فرمايلي دي:

((قُلْ إِنْ كَانَ لِلرَّحْمَنِ وَلَدٌ فَأَنَا أَوَّلُ الْعَابِدِينَ)) [39]

ژباړه: ووايه (ای محمده دوی ته، که وي (بالفرض و التقدير لکه چې تاسې وايئ) رحمن ته ولد (زوی لور) نو زه به (دغه ولد لره) وړومبنی له عبادت کوونکو وم (خو الله له گردو (ټولو) عيبو څخه پاک دی ولد نه لري).

په قابل نا انکار دلايلو ثابته شوه چې شرک فی الذات باطل دی، خدای تعالی يو دی شريک نه لري همدارنگه پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته د

---

[38]. المؤمنون / ۹۱.

[39]. الزخرف / ۸۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وحی په ژبه ویل شوي دي چې ووایئ که الله ته رښتیا لورګانې وای نو تر هر چا لومړی به ما هغو ته بندګي کړې وه خو دا چې الله تعالی یو ذات دی شریک نه لري، دا ډول تړلي تهمتونه ورپورې باطل او مردود دي.
همدارنګه د اخلاص سورت ته ژوره کتنه وشي د شرک فی الذات د رد او د الله تعالی د توحید لپاره کافي دی چې فرمایلي یې دي:
((قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ ○ اللّٰهُ الصَّمَدُ ○ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ ○ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُواً أَحَدٌ○)) [٤٠]

ژباړه: ووایه (ای محمده دوی ته) شان دا دی چې الله یو دی (په ذات او صفات خپل کې) الله بې پروا دی (الله ته هر شی محتاج دی) نه یې دی زیږولی (هیڅوک) او نه دی زیږولی شوی دی (له هیچا نه) او نشته دغه الله لره برابر سیال هیڅوک.
د اخلاص په سورت کې د خدای تعالی د ذات د توحید جامع بیان راغلی دی بېشکه چې د الله تعالی ذات یو او بې شریکه دی، ټول کائنات ده ته اړ او د ده مخلوق دی، دی بې نیازه او نور ټول کائنات ده ته اړ دی، څرنګه چې دی خالق او نور موجودات یې مخلوق دی نو په مخلوقاتو کې د کوم څیز برابرول له ده جل جلاله سره باطل دي. نو څوک چې انسان که څه هم نبي وي یا فرښته یا پیری یا بل څیز الله تعالی سره برابر وي یا یې ورته زوی یا لور ګڼي دا د شرک فی الذات مرتکب کیږي.
د (واحد) په ځای (احد) ذکر د اخلاص په صورت کې له دې لپاره راغلی دی، چې:
په عربي ژبه کې د یوه لپاره (واحد) او (احد) راځي او دواړه یوه معنی لري، د (واحد) په ځای د (احد) ذکر د اخلاص په سورت کې بې حکمته نه دی، دا د قرآن کریم له اعجازونو او د فصاحت او بلاغت له کمالونو یو کمال دی

---

[٤٠]. الاخلاص.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او هغه دا چې د (احد) لفظ مطلقاً د وصف په توګه استعمالیږي، چې صرف الله تعالی ته اختصاص لري لکه په (قل هوالله احد) کې چې لـه (صمد)، (لم یلد) اوصافو سره د (احد) وصف هم راغلی دی، اصل یې (واحد) دی او (واحد) هم د وصف او هم د صمد اسم په توګه راځي ځکه د نورو شیزو لپاره استعمالیږي.[41]

د خدای تعالی یووالی په دې معنی دی چې د صمدانیت د وصف لرونکی دی غیر له ده نور هر څه په یو ډول له ډولونو بل ته محتاج دي او هغه ذات چې احتیاج نه دی هغه یو (احد) خدای تعالی دی، لـه والد او ولد نه پاک دی، ده سره د برابری څه شی نشته نو د (احد) معنی همدا ده چې د ده په څېر یووالی بل څه کې نشته یوازې دی په دې وصف متصف دی چې انکار ترې شرک فی الذات دی.

## ۲ـ شرک فی الصفات:

دوهمه درجه شرک دا دی چې غیر له الله تعالی بل شیز د فعل په کولو کې مستقل وګڼل شي.[42] د الله تعالی ذات یو دی، په ذات او صفاتو کې شریک نه لري څوک چې نبي یا فرشتې یا پیری یا ولي یا بل مخلوق ته د الله تعالی له صفاتو کوم وصف باندې عقیده کوي دا شرک فی الصفات بلل شوی دی. مشرکینو به بتان تراشل او له هغو به یې ځانګړې توقعات لرل، ځینو نه به یې د اولاد او ځینو نه به یې د روزۍ او ځینو نه به یې د ناروغۍ جوړونې هیلې لرلې او د الله تعالی په څېر صفات به یې ورکول، الله تعالی د مشرکینو عمومي طرز عمل ته تفصیل ورکړی اولاد او مال ورکول یې خپله ستره عطا او دنیوي ښکلا بللې داسې یې فرمایلي دي:

---

[41]. المفردات فی غریب القرآن امام راغب اصفهانی رحمة الله.

[42]. همدغه مرجع.

(c) ketabton.com: The Digital Library

«هُوَ الَّذِي خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَاحِدَةٍ وَجَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا لِيَسْكُنَ إِلَيْهَا فَلَمَّا تَغَشَّاهَا حَمَلَتْ حَمْلاً خَفِيفاً فَمَرَّتْ بِهِ فَلَمَّا أَثْقَلَت دَّعَوَا اللّهَ رَبَّهُمَا لَئِنْ آتَيْتَنَا صَالِحاً لَّنَكُونَنَّ مِنَ الشَّاكِرِينَ (۱۸۹) فَلَمَّا آتَاهُمَا صَالِحاً جَعَلاَ لَهُ شُرَكَاء فِيمَا آتَاهُمَا فَتَعَالَى اللّهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ (۱۹۰) أَيُشْرِكُونَ مَا لاَ يَخْلُقُ شَيْئاً وَهُمْ يُخْلَقُونَ(۱۹۱)»[۴۳]

ژباړه: همدغه (الله) هغه ذات دی چې پیدا کړي یې یئ تاسې له یوه نفس څخه او پیدا کړي یې ده له دې نفس څخه ښځه لپاره د دې چې ارام ونیسي له دې سره، نو کله چې نارینه پټه کړه دغه ښځه (یعنې جماع یې ورسره وکړه) نو حامله شوه په حمل خفیف (سپک سره) نو ګرځیده به له دې حمل سره، کله چې دروند شو حمل نو سوال وکړ دواړو له الله رب د دوی نه که راکړې ته مونږ ته صالح (کامل روغ ولد) نو خامخا شو به مونږ هرومرو له شکر ایستونکو، نو کله چې ورکړ (الله) دوی ته صالح (ولد) نو وګرځول دوی دواړو الله ته شریکان په (نامه د) هغه کې چې ورکړ دوی ته (الله) نو پورته (لوی) دی الله له هغه چې دوی (او اولاده د دوی) یې شریکوي (له ده سره). آیا شریک ګرځوي دوی (له الله سره) هغه شی چې نه شي پیدا کولای هېڅ څیز حال دا چې دغه (بتان) پیدا کاوه شي (نو څرنګه به د بل چا خالق شي) او الله تعالی یوه مشرکانه عمل ته داسې توضیحات ورکړي دي:

«هُوَ الَّذِي يُسَيِّرُكُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ حَتَّى إِذَا كُنتُمْ فِي الْفُلْكِ وَجَرَيْنَ بِهِم بِرِيحٍ طَيِّبَةٍ وَفَرِحُوا بِهَا جَاءتْهَا رِيحٌ عَاصِفٌ وَجَاءهُمُ الْمَوْجُ مِن كُلِّ مَكَانٍ وَظَنُّوا أَنَّهُمْ أُحِيطَ بِهِمْ دَعَوُا اللّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ لَئِنْ أَنجَيْتَنَا مِنْ هَذِهِ لَنَكُونَنَّ مِنَ الشَّاكِرِينَ (۲۲) فَلَمَّا أَنجَاهُمْ إِذَا هُمْ يَبْغُونَ فِي الأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّمَا بَغْيُكُمْ عَلَى أَنفُسِكُم مَّتَاعَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ثُمَّ إِلَينَا مَرْجِعُكُمْ فَنُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ (۲۳)»[۴۴]

---

[۴۳]. الاعراف/ ۱۸۹-۱۹۱.

[۴۴]. یونس/ ۲۲-۲۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه: الله هغه ذات دی چې ګرځوي تاسې په وچه او بحر کې تر هغه پورې چې په کشتیو کې سپاره شي او په ښه باد سورلۍ سره روانه شي او پرې خوشاله شي بیا سخت باد پرې ولګیږي او له هره ځایه پرې موجونه راشي او وګڼي دوی دا چې بېشکه دوی احاطه کړې شول الله ته دعا وکړي ده ته د خپل دین خالص کوونکی وي (او وايي) قسم دی که نجات دې راکړ مونږ ته له دې (سختۍ) نو خامخا به مونږ هرومرو (لازماً) له شکر کوونکو شو نو کله چې نجات ورکړي دوی ته ناڅاپه دوی فساد شرارت کوي په ځمکه کې په ناحقه سره، ای خلقو بېشکه همدا خبره ده چې جزا د شرارت ستاسې په نفسونو (ځانونو) ستاسې ده (اوس کوئ تاسې دا) عیش د ژوندون لږ خسیس بیا خاص مونږ ته راتله ستاسې دي (په قیامت کې) نو خبر به درکړو تاسې ته په هغه عمل چې تاسې به کاوه.

د تکلیف او عاجزۍ وخت پسې یې د خوشحالۍ په وخت شرک راوړل داسې بیان کړی دی.

((وَإِذَا مَسَّ النَّاسَ ضُرٌّ دَعَوْا رَبَّهُمْ مُنِيبِينَ إِلَيْهِ ثُمَّ إِذَا أَذَاقَهُمْ مِنْهُ رَحْمَةً إِذَا فَرِيقٌ مِنْهُمْ بِرَبِّهِمْ يُشْرِكُونَ. لِيَكْفُرُوا بِمَا آتَيْنَاهُمْ فَتَمَتَّعُوا فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ)) [۴۵]

ژباړه: او کله چې ورسیږي خلکو ته څه ضرر نو بولي دوی رب خپل په داسې حال کې چې رجوع کوونکی وي خاص الله ته بیا چې (الله) پر دوی له خپل پلوه کوم رحمت (مهرباني) وڅکي ناڅاپه یوه ډله له دوی نه له خپل رب سره شریکان نیسي لپاره د دې چې کافر شي په هغو (نعمتونو) چې ورکړي دي مونږ دوی ته پس ګټه (فایده) واخلئ (اې کفارو څو ورځې) نو ژر به معلوم کړئ تاسې (عاقبت د عمل خپل).

---

[۴۵]. الروم / ۳۳-۳۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله تعالی په قرآن کریم کې ژوند او مرګ د روزۍ تنګوالی او فراخوالی، عزت او ذلت د دنیا او مافیها په خپل اختیار کې ښوولی داسې یې فرمایلي دي:

«اللَّهُ الَّذِي خَلَقَكُمْ ثُمَّ رَزَقَكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ هَلْ مِنْ شُرَكَائِكُمْ مَنْ يَفْعَلُ مِنْ ذَلِكُمْ مِنْ شَيْءٍ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى عَمَّا يُشْرِكُونَ»[۴۶]

ژباړه: الله هغه ذات دی چې تاسې یې پیدا کړي یئ بیا یې تاسې ته روزي درکړې ده بیا مو مړه کوي بیا مو ژوندي کوي ایا شته له دغو شریکانو ستاسې داسې څوک چې کولای شي هغه له دغو (څلورو واړو کارونو) څخه کوم شی؟ (بلکې کولای یې نه شي) پاکي ده الله ته او ډېر پورته دی شان د الله له دې نه چې شریک پیدا کوي دوی (له الله سره)

خدای تعالی د شرک فی الصفات یو مثال داسې بیان کړی دی:

«يَا أَيُّهَا النَّاسُ ضُرِبَ مَثَلٌ فَاسْتَمِعُوا لَهُ إِنَّ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ لَنْ يَخْلُقُوا ذُبَابًا وَلَوِ اجْتَمَعُوا لَهُ وَإِنْ يَسْلُبْهُمُ الذُّبَابُ شَيْئًا لَا يَسْتَنْقِذُوهُ مِنْهُ ضَعُفَ الطَّالِبُ وَالْمَطْلُوبُ»[۴۷]

ژباړه: ای خلقو یو مثال بیان شوی دی نو غوږ کیږدئ تاسې هغه ته (چې) بېشکه هغه بتان چې تاسې عبادت کوئ (د هغو) غیر له الله نه له سره نه شئ پیدا کولی یو مچ هم او که راټول شي (دا ټول معبودان ستاسې پیدا کولو د هغه مچ ته (نو پیدا به یې نه کړای شي) او که چیرې وتښتوي له دوی څخه مچ یو شی نو نه شي خلاصولی دوی هغه شی له هغه مچ څخه نو کمزوري دی د اطاعت (چې د باطلو معبودانو عابد دي) او دا مطلوب (هم چې باطل معبود یا مچ دی).

الله تعالی د شرک فی الصفات منونکو ته د هغوی د شرک بطلان ثرګند کړی چې ایا که څوک خدای تعالی په کومې ناروغۍ اخته کړي دوی هغه

---

[۴۶]. الروم / ۴۰.

[۴۷]. الحج / ۷۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورنه لرې کولای شي، چې داسې معمولي کار نه شي کولای. څرنګه د خدای تعالی صفاتو کې شریکیدای شي؟ ځکه چې کمزوری څیز له خدای تعالی سره شریکول باطل دي، دا مطلب قرآن کریم کې داسې راغلی دی:

((وَإِنْ يَمْسَسْكَ اللّهُ بِضُرٍّ فَلاَ كَاشِفَ لَهُ إِلاَّ هُوَ وَإِن يَمْسَسْكَ بِخَيْرٍ فَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدُيرٌ)) [۴۸]

ژباړه: او که ورسوي تا ته الله څه سختي (لکه مرض او فقر) نو نشته هیڅ لرې کوونکی د هغه مګر هم دی دی او که ورسوي تا ته څه خیر (لکه صحت او غناء) نو دی پر هر شي (چې اراده وفرمايي) ښه قادر دی (نو ټول خیر او شر نفع او ضرر هم د الله په اراده رسیږي).

له پورتنیو دلایلو ثابته شوه، چې د هر واړه او ستر کار اختیار خدای تعالی سره دی هیڅوک بې د ده له ارادې ا و رضا کوم کار سرته نه شي رسولای، نو ددې لپاره چې الله تعالی صفات ځانګړې او لاشریکه دي نو ضروري ده چې د ایمان او یقین څښتنان د هر مشکل د حل لپاره خدای تعالی ته سوال وکړي ځکه چې دی جل جلاله خالق، مالک، رازق او د نورو صفاتو لرونکی دی، او نه ښايي چې د شرک في الصفات په بدۍ د خپل ایمان لمن[۴۹] الوده کړي.

---

[۴۸]. الانعام / ۱۷.

۴۹. ایمان د تسلیم او رضا نوم دی، کفر: مطلق انکار ته وايي. شرک: یو طرف د خدای تعالی په ذات اقرار او بل طرف غیر له ده جل جلاله بل څیز معبود نیول دي. مشرک: هغه دی چې له ذات د خدای تعالی منکر نه وي خو د عقیدې د ضعف له کبله باطل معبودان نیسي، قرآن کریم د دا ډول مشرکانو حال داسې بیان کړی دی: وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ مَنْ خَلَقَ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضَ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ قُلْ الْحَمْدُ لِلَّهِ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لا يَعْلَمُونَ. (لقمان/۲۵) بل ځای یې داسې فرمايلي دي: وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ مَنْ خَلَقَهُمْ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ فَأَنَّى يُؤْفَكُونَ (۸۷) وَقِيلِهِ يَا رَبِّ إِنَّ هَؤُلاءِ قَوْمٌ لا يُؤْمِنُونَ. (الزخرف/۸۷-۸۸)

ژباړه: او قسم دی که وپښتې ته دغه (کفار) چې چا پیدا کړي دي دغه اسمانونه او ځمکه نو خامخا وبه وايي دوی هرو مرو (خامخا) چې الله (کله چې مقرر شول دوی نو ای محمده) ووایه ټوله ثنا (خاص) الله لره ده، بلکې زیاتره د دوی نه پوهیږي (لقمان/۲۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۳_ شرک فی العبادات :

دا وروستنۍ درجه شرک دی او معنی یې دا ده، چې څوک د خدای تعالی له عبادت کولو سره بل څوک یا بل څیز هم د عبادت وړ وبولي، یا الله تعالی ته عبادت کوي او دعا (غوښتنه) بل چا یا بل څیز نه کوي او یا په عبادت کې ریا کاري کوي دې ته شرک فی العبادت وایي.

مشرکینو د خدای تعالی په ذات او صفاتو کې شریک نیوه او د هغه عبادت به یې کاوه، چې د شرک فی العبادت مرتکب کیدل. قرآن کریم کې د هغوی مشرکانه رسومات توضیح شوي دي څو چې مؤمنان سمه لاره وپېژني له مشرکانه افعالو او اعمالو ځانونه وساتي، اوس مونږ ګورو چې باطلو معبودانو باندې د مشرکینو څه ډول عقیده وه، دې برخه کې د خدای تعالی ارشادات په قرآن مجید کې داسې راغلي دي :

((وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ لأَبِيهِ آزَرَ أَتَتَّخِذُ أَصْنَاماً آلِهَةً إِنِّي أَرَاكَ وَقَوْمَكَ فِي ضَلالٍ مُبِينٍ)) ۵۰

ژباړه : او (یاد کړه ای محمده) هغه وخت چې وویل ابراهیم پلار خپل ازر ته ایا ته نیسې بتان په خدایۍ سره، بېشکه چې زه وینم تا او قوم ستا په ګمراهۍ ښکاره کې.

قرآن کریم کې د مشرکینو طرز عمل او د حضرت ابراهیم علیه السلام استدلال داسې بیان شوی دی :

---

او قسم دی که وپوښتې ته دوی چې چا پیدا کړي دي دغه (عابدان او معبودان) نو خامخا وبه وایي هرومرو (خامخا) دوی چې الله (پیدا کړي دي) نو کوم طرف ته ګرځول کیږي دغه (مشرکان له عبادت د الله) او (قسم دی) پر دغې وینا د دغه (رسول) چې ای رب زما بېشکه دغه (قریشي منکران) دي چې ایمان نه راوړي دوی (په مؤمن به شیانو باندې)

۵۰

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

«وَلَقَدْ آتَيْنَا إِبْرَاهِيمَ رُشْدَهُ مِنْ قَبْلُ وَكُنَّا بِهِ عَالِمِينَ (٥١) إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِ مَا هَذِهِ التَّمَاثِيلُ الَّتِي أَنْتُمْ لَهَا عَاكِفُونَ (٥٢) قَالُوا وَجَدْنَا آبَاءَنَا لَهَا عَابِدِينَ (٥٣) قَالَ لَقَدْ كُنتُمْ أَنْتُمْ وَآبَاؤُكُمْ فِي ضَلَالٍ مُبِينٍ (٥٤) قَالُوا أَجِئْتَنَا بِالْحَقِّ أَمْ أَنْتَ مِنَ اللَّاعِبِينَ (٥٥) قَالَ بَلْ رَبُّكُمْ رَبُّ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضِ الَّذِي فَطَرَهُنَّ وَأَنَا عَلَى ذَلِكُمْ مِنَ الشَّاهِدِينَ (٥٦) وَتَاللَّهِ لَأَكِيدَنَّ أَصْنَامَكُمْ بَعْدَ أَنْ تُوَلُّوا مُدْبِرِينَ (٥٧) فَجَعَلَهُمْ جُذَاذاً إِلَّا كَبِيراً لَهُمْ لَعَلَّهُمْ إِلَيْهِ يَرْجِعُونَ (٥٨) قَالُوا مَنْ فَعَلَ هَذَا بِآلِهَتِنَا إِنَّهُ لَمِنَ الظَّالِمِينَ (٥٩) قَالُوا سَمِعْنَا فَتًى يَذْكُرُهُمْ يُقَالُ لَهُ إِبْرَاهِيمُ (٦٠) قَالُوا فَأْتُوا بِهِ عَلَى أَعْيُنِ النَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَشْهَدُونَ (٦١) قَالُوا أَأَنْتَ فَعَلْتَ هَذَا بِآلِهَتِنَا يَا إِبْرَاهِيمُ (٦٢) قَالَ بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ هَذَا فَاسْأَلُوهُمْ إِنْ كَانُوا يَنطِقُونَ (٦٣) فَرَجَعُوا إِلَى أَنفُسِهِمْ فَقَالُوا إِنَّكُمْ أَنْتُمُ الظَّالِمُونَ (٦٤) ثُمَّ نُكِسُوا عَلَى رُءُوسِهِمْ لَقَدْ عَلِمْتَ مَا هَؤُلَاءِ يَنطِقُونَ (٦٥) قَالَ أَفَتَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَنفَعُكُمْ شَيْئاً وَلَا يَضُرُّكُمْ (٦٦) أُفٍّ لَكُمْ وَلِمَا تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ أَفَلَا تَعْقِلُونَ (٦٧)»

ژباړه:

مشرکينو په خپله بوتان جوړول او عقيدې به يې ورته لرلې. قرآن کريم او احاديثو کې يې بيان راغلی، اوس ثابته شوې ده چې يوازې په کعبه شريفه کې درې سوه بتان نصب وو (انصاف) او (نائله) په صفا او مروه کې ودرول شوي او (هبل د حرم په حدودو کې و او سربېره پر هغه د مکې شريفې په ټولو محلو او د عربو په اکثرو علاقو کې بت پرستۍ عروج کړی و، دې برخه کې قرآن کريم داسې ارشاد فرمايلی دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

((أَفَرَأَيْتُمْ اللاَّتَ وَالْعُزَّى (١٩) وَمَنَاةَ الثَّالِثَةَ الأُخْرَى (٢٠) أَلَكُمْ الذَّكَرُ وَلَهُ الأُنثَى (٢١) تِلْكَ إِذاً قِسْمَةٌ ضِيزَى (٢٢))) [٥١]

ژباړه: آیا نو وینئ تاسې لات او عزی (په مرتبه کې) او بل دریم منات ایا تاسې لره (ای کفارو) هلکان دي او دغه (الله) لره لونې دي دا (قسمت د اولاد) په دې شان قسمت دی ډېر کوږ ناکاره.

بل ځای یې داسې فرمایلي دي:

[قَالَ نُوحٌ رَبِّ إِنَّهُمْ عَصَوْنِي وَاتَّبَعُوا مَنْ لَمْ يَزِدْهُ مَالُهُ وَوَلَدُهُ إِلاَّ خَسَاراً (٢١) وَمَكَرُوا مَكْراً كُبَّاراً (٢٢) وَقَالُوا لا تَذَرُنَّ آلِهَتَكُمْ وَلا تَذَرُنَّ وَدّاً وَلا سُوَاعاً وَلا يَغُوثَ وَيَعُوقَ وَنَسْراً (٢٣) وَقَدْ أَضَلُّوا كَثِيراً وَلا تَزِدْ الظَّالِمِينَ إِلاَّ ضَلالاً (٢٤)] [٥٢]

ژباړه: نوح وویل: ای زما ربه! بېشکه دوی زما نافرماني وکړه او متابعت یې وکړ د هغه چا چې نه یې دی زیات کړی ده ته مال د ده او نه اولاد د ده مګر زیان کاری او مکر وکړ دغو (رؤساوو د دوی) ډېر لوی مکر او وویل (مشرانو کشرانو ته) چې مه پرېږدئ تاسې (عبادت د) معبودانو خپلو او مه پرېږدئ (عبات د هغه بت چې) و د (نومېږي) او مه (پرېږدئ عبادت د هغه بت چې) سواع (نومیږي) او مه (پرېږدئ تاسې عبادت د هغو بتانو چې) یغوث او یعوق او نسر (نومیږي) او په تحقیق ګمراه کړي دي (دغو مشرانو په سبب د عبادت د بتانو) ډېر (کشران خلق) او مه زیاتوه (ای ربه زما) ظالمانو بې انصافانو لره مګر خو ګمراهي هلاکت عذاب.

د شرک د تاریخ له کتابو معلومیږي چې هر بت د خاص تصور او مقصد لپاره تراشل شوی او د خاص مقصد لپاره یې عبادت کېده، لات منات او عزی یې داسې تاریخ لري:

۱ـ لات: د ثقیف د قبیلې بت و چې طائف کې یې درولی و.

---

[٥١]. النجم / ۱۹-۲۲.

[٥٢]. نوح / ۲۱-۲۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲_ عزی : له عزت اخستل شوی دی او مؤنث نوم دی، دا د بنو عطفان او د بني شيبان او قريشو او د عربو د نورو قبايلو بت و چې د عکاظ په بازار کې يې د نخله وادي ته نږدې خراض نومي ځای کې درولی و، نوموړی قبيلې به يې زيارت ته ورتللې، بوده به يې قربانۍ ته وروستلې او هلته به يې ذبح کولې او زيات عزت به يې کاوه.

۳_ منات : دا د اوس او خزرج او بنو خزاعه قبيلو بت و چې د مکې او مديني ښارونو ترمنځ د احمر بحيرې پر غاړه يې درولی و چې د حج مناسکو ته ورتلل رسومات به يې ورته کول، ددې بتانو په برخه کې خدای تعالی په قرآن مجيد کې داسې فرمايلي دي :

[إِنْ يَدْعُونَ مِنْ دُونِهِ إِلاَّ إِنَاثاً وَإِنْ يَدْعُونَ إِلاَّ شَيْطَاناً مَرِيداً (۱۱۷) لَعَنَهُ اللَّهُ وَقَالَ لأَتَّخِذَنَّ مِنْ عِبَادِكَ نَصِيباً مَفْرُوضاً (۱۱۸) وَلأُضِلَّنَّهُمْ وَلأُمَنِّيَنَّهُمْ وَلآمُرَنَّهُمْ فَلَيُبَتِّكُنَّ آذَانَ الأَنْعَامِ وَلآمُرَنَّهُمْ فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلْقَ اللَّهِ وَمَنْ يَتَّخِذْ الشَّيْطَانَ وَلِيّاً مِنْ دُونِ اللَّهِ فَقَدْ خَسِرَ خُسْرَاناً مُبِيناً (۱۱۹)]

ژباړه : نه غواړي دوی (عبادت نه کوي دا مشرکان) بې له الله نه مګر د ښځو او نه غواړي (عبادت نه کوي دوی) مګر د شيطان سرکښ چې الله له خپل رحمته لرې کړی دی (شيطان) وويل چې خامخا به ونيسمه زه (ای الله) د بندګانو ستا نه يوه برخه مقرره کړې شوې او زه به هرومرو (لازماً) دوی ګمراه کړم خامخا دوی او هرومرو (لازماً) به زه په باطلو اميدو کې دوی خامخا واچوم او هرومرو (لازما) به زه دوی ته امر وکړم چې پس هرو مرو (لازماً) ځيروي به دوی خامخا غوږونه د چارپايانو او زه به هرومرو (لازماً) امر وکړم خامخا دوی ته نو هرو مرو (لازماً) تغيير به ورکړي دوی خامخا پيدا ايښت د الله ته او هر څوک چې ونيسي شيطان دوست بې له الله څخې نو په تحقيق زيان يې وکړ زيان ښکاره.

بل ځای کې مشرکانه رسم او رواجونه خدای تعالی داسې بيان کړي دي :

[وَجَعَلُوا لِلَّهِ مِمَّا ذَرَأَ مِنْ الْحَرْثِ وَالأَنْعَامِ نَصِيباً فَقَالُوا هَذَا لِلَّهِ بِزَعْمِهِمْ وَهَذَا لِشُرَكَائِنَا فَمَا كَانَ لِشُرَكَائِهِمْ فَلا يَصِلُ إِلَى اللَّهِ وَمَا كَانَ لِلَّهِ فَهُوَ يَصِلُ إِلَى شُرَكَائِهِمْ سَاءَ مَا يَحْكُمُونَ (۱۳۶)

(c) ketabton.com: The Digital Library

وَكَذَلِكَ زَيَّنَ لِكَثِيرٍ مِنْ الْمُشْرِكِينَ قَتْلَ أَوْلادِهِمْ شُرَكَاؤُهُمْ لِيُرْدُوهُمْ وَلِيَلْبِسُوا عَلَيْهِمْ دِينَهُمْ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ مَا فَعَلُوهُ فَذَرْهُمْ وَمَا يَفْتَرُونَ (١٣٧) وَقَالُوا هَذِهِ أَنْعَامٌ وَحَرْثٌ حِجْرٌ لا يَطْعَمُهَا إِلاَّ مَنْ نَشَاءُ بِزَعْمِهِمْ وَأَنْعَامٌ حُرِّمَتْ ظُهُورُهَا وَأَنْعَامٌ لا يَذْكُرُونَ اسْمَ اللَّهِ عَلَيْهَا افْتِرَاءً عَلَيْهِ سَيَجْزِيهِمْ بِمَا كَانُوا يَفْتَرُونَ (١٣٨) وَقَالُوا مَا فِي بُطُونِ هَذِهِ الأَنْعَامِ خَالِصَةٌ لِذُكُورِنَا وَمُحَرَّمٌ عَلَى أَزْوَاجِنَا وَإِنْ يَكُنْ مَيْتَةً فَهُمْ فِيهِ شُرَكَاءُ سَيَجْزِيهِمْ وَصْفَهُمْ إِنَّهُ حَكِيمٌ عَلِيمٌ (١٣٩) قَدْ خَسِرَ الَّذِينَ قَتَلُوا أَوْلادَهُمْ سَفَهاً بِغَيْرِ عِلْمٍ وَحَرَّمُوا مَا رَزَقَهُمْ اللَّهُ افْتِرَاءً عَلَى اللَّهِ قَدْ ضَلُّوا وَمَا كَانُوا مُهْتَدِينَ (١٤٠)][٥٣]

ژباړه: او دغو (مشرکانو) له هغه شي چې الله تعالی پیدا کړي دي له کښت او بوده وو یوه برخه الله ته ده نو دوی وایي دا برخه او د دوی په زعم (عقیده) د الله لپاره ده او دا (بله برخه) زمونږ د شریکانو لپاره ده، نو هغه برخه چې د دوی د شریکانو لپاره وي نو هغه الله تعالی ته نه رسیږي او هغه برخه چې د الله لپاره وي د دوی شریکانو (بتانو) ته رسیږي. بد دی هغه حکم چې دوی یئ کوي او لکه چې دوی ته دا قسمت د اموالو مزین کړې شوی دی همداسي ښایسته کړی شوی دی ډېرو مشرکانو ته وژل د اولادو خپلو، شریکانو د دوی (چې شیطانان دي) د دې لپاره چې دوی هلاک کړي او (بل) د دې لپاره چې (دا شیطانان) پر دوی باندې د دوی ابراهیمي دین ګډ کړي، او که الله تعالی اراده فرمایلی وای نو دوی به دا کار نه وو کړی، نو پرېږده دوی او هغه چې دوی (پر الله باندې) دروغ وایي او دوی وایي چې (د بتانو دغه برخه که) چارپایان دي او (که) کښت ممنوع چې له دې به نه خوري مګر هغه څوک چې زمونږ خوښ وي په ګمان د دوی سره سم او (ځینې) چارپایان دي چې خرابې کړې شوي دي شاګانې د دوی (له سوربدلو او ځینې نور) چارپایان دي چې نه یادوي دغه (مشرکان په وخت د ذبح کې) نوم د الله پر دوی بلکې (نوم د بتانو پرې یادوي او نسبت کوي د دغو احکامو الله ته) په طریقه د دروغ تړلو په الله، ژر به سزا ورکړي دوی ته

[٥٣]. سورة الانعام/ ١٣٦-١٤٠

(c) ketabton.com: The Digital Library

(الله) په نسبت د دې چې دوی به (پر الله تعالی) دروغ تړل، او دوی وایې چې هغه شی چې په ګېډو د دې چارپایانو کې دی خاص دي لپاره د نارینه وو زمونږ او حرام کړی شوي دي پر ښځو زمونږ او که وي هغه مرداره نو دوی (نر او ښځه) په کې شریکان دي، ژر به سزا ورکړي (الله) دوی ته د (دې) تقریر د دوی، بېشکه دغه (الله) ښه حکمت والا دی ښه علم والا. بېشکه هغو کسانو زیان کړی دی چې وژلي یې دي اولاد خپل له جهته د بې عقلۍ بې له پوهې او حرام کړي یې دي هغه شیونه چې رزق ورکړی دی دوی ته الله له جهته د دروغ تړلو پر الله پورې بېشکه ګمراهان شوي دي دوی او نه دي دوی لاره موندونکي (حق ته).

د شیطان دښمني له انسان سره خدای تعالی څرګنده کړې ده، چې د انسان په ګمراه کولو کې یو ملت دریغ نه کوي، عقایدو کې یې د یوه خدای عباداتو کې د نورو معبودانو په عبادت کولو ګماري او نور مشرکانه رسوماتو باندې یې اموخته کوي، نو په عالم کې یې نه یوازې مشرکینو د نظریاتو پېروي کړې، بلکې نور عوام وګړي یې هم مسخر کړي دي، او په مقابل کې یې د رحمة اللعلمین صلی الله علیه وسلم د لارښوونو خوشبویي نړۍ معطر کړې د لارښوونو او صفا عقایدو بیانولو لمن یې په هر ځای کې غوړېدلې ده، په دې هکله پورتنیو ذکر شویو ایاتونو کې توضیحات مو ولیدل اوس په راتلونکو ایاتو کې د عقایدو د سمولو ارشادات وګورئ چې داسې یې فرمایلي دي:

[أَلا لِلَّهِ الدِّينُ الْخَالِصُ وَالَّذِينَ اتَّخَذُوا مِنْ دُونِهِ أَوْلِيَاءَ مَا نَعْبُدُهُمْ إِلاَّ لِيُقَرِّبُونَا إِلَى اللَّهِ زُلْفَــى إِنَّ اللَّهَ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ فِي مَا هُمْ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ إِنَّ اللَّهَ لا يَهْدِي مَنْ هُوَ كَاذِبٌ كَفَّارٌ] [۵۴]

ژباړه: واورئ خبردار اوسئ دین خاص الله لره دی او هغه کسان چې نیولي یې دي غیر له دغه (الله) څخه نور دوستان (وایي) نه کوو عبادت د دوی مګر لپاره د دې چې نږدې کړي دوی، مونږ طرف د الله ته نږدې کړي،

---

[۵۴]. الزمر / ۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بېشکه الله به فیصله (حکم) کوي په منځ د دوی کې په هغه څیز کې چې دوی په هغه سره اختلاف کوي. بېشکه الله نه ښیي سمه لاره د هدایت هغه چا ته چې دی دروغجن وي ناشکره.

خدای تعالی د دوی د ناوړه کړو د پوښتنې ځواب داسې ارشاد کړی دی چې:

[إِنَّهُمْ كَانُوا إِذَا قِيلَ لَهُمْ لا إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ يَسْتَكْبِرُونَ (٣٥) وَيَقُولُونَ أَئِنَّا لَتَارِكُوا آلِهَتِنَا لِشَاعِرٍ مَجْنُونٍ (٣٦)] [٥٥]

ژباړه: بېشکه دوی وو کله به ورته وویل شو چې نشته بل برحق معبود هیڅوک مګر یوازې الله دی نو تکبر به یې کاوه (له ویلو د کلمې نه یا کبر او لویي کوي دوی په دې بلونکي باندې) او وایي (دغه منکران) چې ایا بېشکه مونږ خامخا د یوه شاعر لیوني لپاره د خپلو خدایانو پرېښودونکي یو؟

یعنې د یوه خدای د عبادت کولو په ونج له ځان نه د جوړې کړیو عقیدو پیروي کوي، خدای تعالی د سمو عقیدو له پیروۍ دغه ناشکره او نااهله بندګان محروم کړي دي لایق دا و چې د الله تعالی بندګي یې کړې وای. رکوع، سجده، قیام، قعده، تسبیح او تهلیل او هر ډول عبادت یې یوه حق لرونکي الله تعالی ته کولی نور کائنات چې د ده مخلوق دی، په خپلې بقا او سلامتۍ کې خدای تعالی ته محتاج دي نو د عبادت وړ صرف خدای تعالی دی غیر له ده د بل چا یا د نورو څیزو عبادت ناشکري او کرغېړن کار دی، حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم چې صفا عقاید ورته ښیي دوی وایي: دا یو شاعر او لیونی دی، د ده په خوله خپل معبودان نه شو پرېښودلای.

شرک فی العبادات په دې مبارک ایاتو رد شوی:

١ـ ((وَإِلَهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ لا إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الرَّحْمَنُ الرَّحِيمُ)) [٥٦]

---

[٥٥]. الصافات / ٣٥-٣٦.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه : او معبود ستاسې معبود يو دی نشته بل څوک لايق د عبادت مگر همدی خورا (ډېر) مهربان پوره رحم کوونکی دی.

۲ـ ((شَهِدَ اللَّهُ أَنَّهُ لا إِلَهَ إِلاَّ هُوَ وَالْمَلائِكَةُ وَأُوْلُوا الْعِلْمِ قَائِماً بِالْقِسْطِ لا إِلَهَ إِلاَّ هُـوَ الْعَزِيـزُ الْحَكِيمُ)) [۵۷] ژباړه : شاهدي ادا کړې ده الله (د وحدانيت او د قدرت د اياتونو د دلائلو په اقامت خلقو ته) په دې شان چې نشته هيڅ مستحق د عبادت مگر همدی دی او (شاهدي ادا کړې ده) پرښتو (د وحدانيت په اقرار سره) او (شاهدي ادا کړې ده) خاوندانو د علم (له انبياوو او مؤمنانو د وحدانيت په اعتقاد سره) په دې حال کې چې ثابت دی (الله او حاکم دی په تدبير د مصنوعاتو) په عدل سره، نشته هيڅ مستحق د عبادت مگر همدی دی ښه غالب (قوي په انفاذ د احکامو) ښه حکمت والا (چې هر کار په تدبير او مصلحت سره کوي).

۳ـ ((ولا تجعلوا مع الله الها آخر انی لکم نذير مبين)) [۵۸]

ژباړه : او مه گرځوئ مه شريکوئ له الله سره معبود، ببشکه زه تاسې ته د الله له طرفه ښکاره وېروونکی يم.

۴ـ ((ولا تدع مع الله الها آخر لا اله الا هو، کل شیء هالک الا وجهه له الحکم و اليه ترجعون)) [۵۹] ژباړه : او مه بوله ته الله سره معبود بل (ځکه چې) نشته هيڅ لايق د بللو بل هيڅوک مگر همدی دی (يوازې ځکه چې) هر څيز فاني کيدونکی دی مگر ذات د ده (چې تل باقي دی) همده ته دی حکم (نافذه قضاء) او همده ته بيرته بوتلای شئ تاسې (لپاره د جزاء).

۵ـ ((قل يا ايها الکافرون لا اعبد ما تعبدون ولا انتم عابدون ما اعبد ولا انا عابد ما عبدتم ولا انتم عابدون ما اعبد لکم دينکم ولی الدين)) [۶۰]

---

[۵۶]. البقره / ۱۶۳.

[۵۷]. ال عمران / ۱۸.

[۵۸]. الذاريات / ۵۱.

[۵۹]. القصص / ۸۸.

[۶۰]. الکافرون.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه : ((وو ایه (ای محمده چې) ای کافرانو نه کوم زه (فی الحال) عبادت د هغه شي چې تاسې یې عبادت کوئ (ای کافرانو چې بتان دي) او نه یئ تاسې (ای کافرانو فی الحال) عبادت کوونکي د هغه ذات چې زه یې عبادت کوم او نه یم زه عبادت کوونکی (په وروستۍ زمانه کې) د هغه شي چې تاسې یې عبادت کوئ (ای کافرانو) او نه یئ تاسې (ای کافرانو په وروستۍ زمانه کې) عبادت کوونکی د هغه ذات چې زه یې عبادت کوم (چې الله دی) تاسې لره دین ستاسې دی (شرک) او ما لره دین (د توحید اسلام) زما دی.))

نو څرګنده شوه چې د عبادت وړ یوازې یو الله تعالی دی او بس غیر له ده جل جلاله د بل څیز عبادت او شرک نجس بلل شوی دی لکه چې الله تعالی فرمایلي دي :

((انما المشرکون نجس)) [21] ژباړه : بېشکه همدا خبره ده چې مشرکان نجس (پلیت) دي.

نجس په دې معنی چې نه یوازې په دنیا کې منفور دي بلکې په آخرت کې هم د مغفرت وړ نه دي لکه چې د مخه ذکر شول او هغه دا فرمووده د الله تعالی ده :

((ان الله لا یغفر ان یشرک به و یغفر ما دون ذلک لمن یشاء)) [22]

ژباړه : بېشکه الله نه بخښي دا چې شریک ونیول شي له (الله سره او بښي هغه (ګناه) چې ښکته وي له شرکه (لویه وي که وړه) هغه چا ته چې اراده وفرمایي (د مغفرت یې).

## ریا شرک فی العبادت دی :

---

[21]. التوبه / ۲۸.

[22]. النساء / ۴۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ریاکاري د انسان د داخلي کیفیت یا نفساني غوښتنې نوم دی چې انسان د نیکۍ کوم عمل د خدای تعالی په خلقو د ځان د مقبولیت لپاره کوي یا تقوی کوي چې خلقو کې یې رعب او تاثیر او شهرت راشي دا کار یې د خدای تعالی لپاره نه وي بلکې زړه یې د خدای تعالی له وېرې او د رسول الله صلی الله علیه وسلم له محبت خالي وي نو ګویا دی د خدای تعالی بندګي نه کوي، بلکې د نفس د غوښتنې پیروي کوي چې دا مشرکانه عمل بلل شوی دی او الله تعالی داسې یاد کړی دی :

۱ـ ((ارایت من اتخذ الهه هواه – افانت تکون علیه وکیلا)) [۲۳]

ژباړه : ایا لیدلی دې دی خبر یې ته (بلکې خبر یې) په هغه چا چې نیولي یې دي خدای خپل هوا خپله (د نفس خپل) ایا نو ته به یې په ده باندې وکیل (ساتونکی چې منع یې کړې له هوا خپلې بلکې نه یې).

۲ـ ((والذین ینفقون اموالهم رئاء الناس ولا یؤمنون بالله ولا بالیوم الاخر و من یکن الشیطن له قریناً فساء قرینا)) [۲۴]

ژباړه : او (نه خوښوي الله) هغه کسان چې صرفوي دوی مالونه خپل لپاره د ښوونې خلقو ته او نه لري ایمان په الله باندې او نه په ورځ اخرې (د قیامت باندې او هر څوک چې وي شیطان ده لره ملګری نو بد ملګری دی (دا شیطان).

۳ـ ((فویل للمصلین الذین هم عن صلاتهم ساهون الذین هم یراؤن)) [۲۵]

ژباړه : نو هلاک افسوس کنده د دوزخ یا خرابي ده لپاره د لمونځ کوونکی هغه کسان چې دوی له لمانځه خپله غافله بې خبره وي (په خپلو اوقاتو او ادابو سره یې نه ادا کوي) هغه کسان چې دوی ریاکاري کوي (په عمل خپل کې، ځان ښوونه کوي، خلقو ته)

---

[۲۳]. الفرقان / ۴۳.

[۲۴]. النساء / ۳۸.

[۲۵]. الماعون / ۳-۵.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴ـ په حدیث شریف کې ریاکارۍ داسې راغلې ده :
عن بن سعيد قال : خرج علينا رسول الله و نحن نذاكر المسيح الدجال فقال : الا اخبركم بما هوا خوف عليكم عندى من المسيح الدجال فقال : الا اخبركم الشرک الخفى ان يقوم الرجل يصلى فيزين صلوته لما يرى من نظر الرجل.[۲۶]

ژباړه : د سعید له زوی روایت دی چې ویلي یې دي : رسول الله صلی الله علیه وسلم پر مونږ راووت مونږ د دجال خبرې کولې نو ویې فرمایل : آیا تاسې په هغه څیز خبر نه کړم چې زما په نزد له دجال پر تاسې ډېر وېروونکی دی؟ بیا یې وویل : ایا حفي شرک نه مو خبر نه کړم؟ چې سړی ودرېږي لمونځ کوي نو خپل لمونځ ښکلی وکړي چې د سړي په نظر کې ښه ښکاره شي.

عن عمر بن خطاب انه خرج يوماً الى مسجد رسول الله صلى الله عليه وسلم فوجد معاذ بن جبل قاعداً عند قبر النبي صلى الله عليه وسلم يبكى فقال : ما يبكيک؟ قال : يبكينى شىء: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول : ان يسير الرياء الشرک ...الحديث.[۲۷]

ژباړه : له عمر د خطاب زوی رضي الله عنه روایت دی چې دی یوه ورځ د رسول الله صلی الله علیه وسلم مسجد ته ووت ویې مونده چې معاذ بن جبل د نبي صلی الله علیه وسلم قبر مبارک سره ناست دی ژاړي. نو عمر رضي الله عنه ورته وویل څه شی دې ژړوي؟ معاذ رضي الله عنه وویل : یو شی مې ژړوي : له رسول الله صلی الله علیه وسلم مې اوریدلي ویل یې : چې ریاء شرک ته رسېږي.

پاسني مبارک ایاتونه او حدیثونه ښه یې چې ریاکاري شرک ته رسېږي ځکه چې د مؤمنانو صالح عمل ته نیت شرط دی چې هغه نیک عمل به

---

[۲۶]. سنن ابن ماجه باب الرياء.

[۲۷]. سنن ابن ماجه باب ترجى من باب سلامة العتن.



www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

خالص الله تعالی ته کوي نو دا ریاکار چې د خدای تعالی لپاره یې له نیک عمل کولو او حسن نیت نه خالي وي عبادت او ریاضت یې محض نمایشي حرکات او سکنات وي نه یې په زړه کې د خدای جل جلاله وېره وي او نه یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له محبت د سینې ځراغ روښانه وي، د خدای له عبادت او د رسول له اطاعت او فرمان وړلو له جذبې، یې بیخي زړه خالي وي. منظور نظر یې دا وي، چې د تقوی په بڼه ځان وښیي په عباداتو (بدني، مالي، مرکب) وارو کې بنیادي فلسفه دا ده چې انسان له هر لوري یوه خالق مالک طرف ته مخ کړي او د (التحیات لله والصلوت و الطیبات) عملي تصویر ته په ځان کې ځای ورکړي. لیکن ریاکار د عبادت د ثواب ګټلو په ونج او غولول کوي چې شرک ته رسېږي، د حشر په ورځ یې حکم دا وي چې ریاکار ته د نوم بندګۍ اجر نه ورکول کیږي، سربېره پر دې نور ډېر اعمال دي لکه جادو، فال او د نجوم علم چې غیب وایي او په هغو یقین کوي قرآن او سنتو کې وعید لاندې راغلی او ناروا اړخونه یې شرک ته تېرېږي.[۲۸]

د شرک د اقسامو او مشرکینو په برخه کې ډېر ایاتونه او احادیث شته دي خو د ټولو راوړلو باندې د تالیف د ضخامت د زیاتولو په ځای غوره دا ده چې اختصار، اصول او جامعیت په نظر کې ونیول شي. له دې کبله مو علمي نکتو ته اشاره وکړه او د هغو په متعلق مو رباني ارشادات او د نبي صلی الله عیله وسلم فرامین په غور او فکر د دې کتاب په هره برخه کې راوړل.

---

[۲۸]. رجن بحث به مفصل وروسته راشي انشاء الله تعالی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ادم علیه السلام ته
# د فرښتو په سجده کولو حکمت

د حضرت ادم علیه السلام تخلیق پسې خدای تعالی فرښتو ته امر وفرمایه چې :

[وَلَقَدْ خَلَقْنَاكُمْ ثُمَّ صَوَّرْنَاكُمْ ثُمَّ قُلْنَا لِلْمَلائِكَةِ اسْجُدُوا لآدَمَ فَسَجَدُوا إِلاَّ إِبْلِيسَ لَمْ يَكُنْ مِنَ السَّاجِدِينَ (۱۱) قَالَ مَا مَنَعَكَ أَلاَّ تَسْجُدَ إِذْ أَمَرْتُكَ قَالَ أَنَا خَيْرٌ مِنْهُ خَلَقْتَنِي مِنْ نَارٍ وَخَلَقْتَهُ مِنْ طِينٍ (۱۲) قَالَ فَاهْبِطْ مِنْهَا فَمَا يَكُونُ لَكَ أَنْ تَتَكَبَّرَ فِيهَا فَاخْرُجْ إِنَّكَ مِنَ الصَّاغِرِينَ (۱۳)] [۶۹]

ژباړه : او خامخا په تحقیق پیدا کړ مونږ (پلار) ستاسې بیا صورت جوړ کړ مونږ د (پلار) ستاسې بیا وویل مونږ پرښتو ته چې سجده (د تحیت) وکړئ تاسې ادم ته، نو سجده وکړه دوی (ټولو) مګر ابلیس (سجده ونه کړه او) نه و دی له سجده کوونکو څنې، وویل (الله ابلیس ته) څه شي منع کړی ته (زما د حکم له تعمیل څخه) چې سجده دې ونه کړه کله چې امر (حکم) وکړ ما تا ته!؟ وویل : (ابلیس) زه غوره یم له ادمه، چې پیدا کړی دې یم زه له اوره او پیدا کړی دې دی تا دغه (ادم علیه السلام) له خټې، وویل (الله ابلیس ته) نو کوز شه! له دغه (اسمان یا جنت) څخه نو نه دې لایق تا ته (ای ابلیسه دا کار) چې تکبر (لویي نافرماني) وکړې! په دې ځای کې نو ووځه (ترې) بېشکه چې ته یې له ذلیلانو.

خدای تعالی فرښتې مطیعې او له نور پیدا کړې دي بې له خدای تعالی د هیڅا عبادت نه کوي یوازې د ده په تسبیح، تحلیل او عبادت لګیا دي او الله تعالی چې ادم علیه السلام ته په سجده کولو ماموري کړې د هغې حکمتونه دا وو:

---

[۶۹]. الاعراف / ۱۱-۱۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ـ یو حکمت دا و چې له لمر، سپوږمۍ او هر څه د ادمیت د مقام غوره والی څرګند کړي.
۲ـ دوم حکمت دا چې ملکو بغیر له الله تعالی هیچا ته او هیڅ څیز ته سجده او عبادت نه کوي خو د الله تعالی د امر د اطاعت لپاره او بل یې چې خدای تعالی د ادمیت د مقام لوړتیا څرګندوله د الله تعالی امر یې ومانه او ادم علیه السلام ته یې سجده چې هغه وخت روا وه وکړه.
۳ـ دریم حکمت دا و چې د شیطان تکبر او نافرماني څرګنده شوه، هغه سجده ونه کړه لعنتي او د خدای تعالی له دره ورټل شو. ادم علیه السلام او د هغه اولاد ته یې تر فرښتو مکرم مقام وبانبه د نړۍ خلافت یې ورکړ. ادم علیه السلام ته د فرښتو له سجدې کولو پسې هیڅوک او هیڅ شی بغیر له خدای تعالی د سجدې او عبادت حقدار نه دی. یوازې الله تعالی لا شریک د سجدې او عبادت وړتیا لري او بس.

## اوسنی وخت او شرک:

د قرآن مجید او احادیثو په رڼا کې د مشرکینو اعمال او افعال او د هغوی د دنیا او اخرت عبرتناک انجام مطالعې نه پس اوس غور لاندې نیسو چې: هره زمانه کې په کفارو او مشرکینو سربېره له مؤمنانو هم په کوم مؤمن او مسلمان د شرک اطلاق راځي او که نه؟ او دا سوال هم مطرح کیږي چې ایا مسلمان د شرک غوندې د عظیم جرم مرتکب کیږي؟ او که په کوم مؤمن او مسلمان باندې د شرک اطلاق نه شي کیدلای نو بیا مؤمن او مسلمان ته مشرک ویل د قرآن مجید او احادیثو له مخې څه حکم لري؟ او انبیاء علیهم السلام او د امت نور پاکان (صدیقین، شهداء، صالحین) چې لوړ مقامونه او مدارج لري بالخصوص پس له وصال (اخرت ته) د هغوی د زیارتونو په متعلق د اهل سنت او جماعت په عقایدو او نظریاتو او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی له توصل د خدای تعالی دربار کې دعا او مناجات کولو په برخه کې هم غور او فکر وکړو ځکه چې د قرآن او سنتو په رڼا کې مونږ د خپلې عقیدې حفاظت او اصلاح وکړو همدارنګه شرف او فضیلت ... د خدای تعالی عنایت (لورونه) ده، څرنګه خدای تعالی انسان ته په ټولو مخلوقاتو زیات فضیلت، شرف او فوقیت ورکړی دی.)

د دغو پوښتنو ځوابونه لاندې مبارکو ایاتو کې راغلي چې له ترجمې سره داسې ذکر شوي دي:

۱_ [وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ] [۷۰] ژباړه: او هرو مرو په تحقیق ډېر عزت ورکړی دی مونږ اولاده د ادم ته یعنې کرامت یې ورکړی دی معزز کړی یې دی د فرښتو مسجود یې وګرځاوه او عظمت یې وروباښه او په انسانانو کې یې ځینو ته پر ځینو نورو فضیلت ورکړی او داسې یې فرمایلي دي:

۲_ [انظُرْ كَيْفَ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ وَلَلْآخِرَةُ أَكْبَرُ دَرَجَاتٍ وَأَكْبَرُ تَفْضِيلاً] [۷۱]

ژباړه: وګوره چې څرنګه فضیلت ورکړی (غوره کړي) دی مونږ ځینې د دوی ته پر ځینې نورو (په رزق او نورو کې) او خامخا اخرت ډېر لوی دی له جهته د مرتبو او ډېر لوی دی له جهته د بهتروالي (له دنیا نه).

۳_ او د ښځو مقام یې داسې ټاکلی دی [الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاءِ بِمَا فَضَّلَ اللَّهُ بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ وَبِمَا أَنفَقُوا مِنْ أَمْوَالِهِمْ ...الايه] [۷۲]

ژباړه: سړي حاکمان (مقرر شوي) دي پر ښځو باندې په سبب د دې چې فضیلت (لویي) ورکړی دی الله ځینې د دوی ته پر ځینو نورو باندې او په سبب د دې چې نفقه (لګښت) کوي دوی (په دغو ښځو) له مالونو خپلو.

۴_ د روزۍ په برخه کې یې توپیر داسې فرمایلی دی:

---

[۷۰]. الاسراء / ۷۰.

[۷۱]. سورة الاسراء / ۲۱.

[۷۲]. النساء / ۳۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library

[وَاللَّهُ فَضَّلَ بَعْضَكُمْ عَلَى بَعْضٍ فِي الرِّزْقِ فَمَا الَّذِينَ فُضِّلُوا بِرَادِّي رِزْقِهِمْ عَلَى مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ فَهُمْ فِيهِ سَوَاءٌ أَفَبِنِعْمَةِ اللَّهِ يَجْحَدُونَ] [۷۳]

ژباړه : او الله فضل (زیادت) ورکړی دی ځیني تاسې ته پر ځینو (نورو) په رزق (روزۍ په غنا، فقر، مالکیت او مملوکیت) کې، او نه دي هغه کسان چې فضل زیات ورکړی شوی دی دوی ته رد کوونکی د رزق (روزي، مال) خپل په هغه چا چې یې مالکان شوي دي ښې لاسونه د دوی (یعني له خپلو ځانونو سره یې نه شریکوي) ایا نو دا مالکان او مملوکان په دې (اموالو) کې سره برابر دي؟ (بلکې نه دي سره برابر) ایا نو په نعمت د الله باندې انکار کوي دغه (چې الله ته شریکان ثابتوي).

[لا یستوی الاعمی والبصیر] [۷۴] چې مراد یې داسې ښودل شوی دی :

[لا یستوی الذین یعلمون والذین لا یعلمون] [۷۵]

ژباړه : پوه کسان له ناپوه کسانو سره برابر نه دي.

همدارنګه له چا چې الله تعالی رضا شي او له چا چې ناراض وي مراتب یې سره توپیر لري، داسې په عزت، وقار او مرتبه کې د هر چا خاص مقام دی. خدای تعالی د دغو مراتبو ورکړه چې فرمایلې دا د عین فطرت تقاضا ده.

د نبوت او نورو انعام والاوو مقام له پورتنیو ذکر شویو مبارکو ایاتو څرګند شو چې اهل علم پرې پوهیږي او عوامو ته یې توضیح ضرور ده، چې د قرآن کریم د مبارکو ایاتو او د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د فرامینو په رڼا کې د انبیاوو علیهم السلام او نورو مقربینو درجې د خدای تعالی په دربار کې کومې دي او حکمونه یې څه دي؟ قرآن کریم کې رب العزت د قدسیه نفسونو څلور مقامونه په تفصیل بیان کړي دي داسې یې فرمایلي دي :

---

۷۳. النحل / ۷۱.

۷۴.

۷۵.

(c) ketabton.com: The Digital Library

٦ـ [وَمَنْ يُطِعْ اللَّهَ وَالرَّسُولَ فَأُوْلَئِكَ مَعَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ مِنْ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ وَالصَّالِحِينَ وَحَسُنَ أُوْلَئِكَ رَفِيقاً (٦٩) ذَلِكَ الْفَضْلُ مِنْ اللَّهِ وَكَفَى بِاللَّهِ عَلِيماً (٧٠)] ٧٦

ژباړه : او هر څوک چې حکم ومني د الله او د رسول (د الله) نو دغه کسان به له هغو سره وي (په جنت کې) چې انعام کړی دی الله پر دوی باندې چې انبياء دي او صديقان دي او شهيدان دي او صالحان دي، او ښه دي دغه کسان له جهته د رفاقته (چې ښه ملګري دي) دا (ملګرتيا) فضل (احسان رحمت) دی له (جانبه د) الله او کافي دی الله ښه پوه (په ټولو نيتونو او عملونو هم).

په دې مبارک ايت کې په جامع الفاظو د الله تعالی د غوره بندګانو درجې فرمايلي چې افضل او په سر کې يې د انبياوو عليهم السلام مقام دی چې د صدق او صفا له مخې عظيم شخصيتونه دي او په رښتيا سمه لار باندې برابر تللي دي او په دغې لارې يې د تللو توفيق ورکړی دی، دې مورد کې د فاتحې سورت داسې ارشادات لري :

٧ـ [اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ. صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ...] ٧٧

ژباړه : وښيه مونږ ته سمه لاره د هغو کسانو چې انعام کړی تا په هغو باندې.

شک نشته چې انبياء او شهداء صديقين صالحين دي، د انبياء، شهداء صديقين او صالحين څلور درجې دي چې د انبياوو عليهم السلام درجه يې داسې ستايلې ده.

٨ـ [إِنَّ اللَّهَ اصْطَفَى آدَمَ وَنُوحاً وَآلَ إِبْرَاهِيمَ وَآلَ عِمْرَانَ عَلَى الْعَالَمِينَ. ذُرِّيَّةً بَعْضُهَا مِنْ بَعْضٍ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ] ٧٨

---

٧٦. النساء / ٦٩-٧٠.

٧٧. الفاتحه / ٦.

٧٨. ال عمران / ٣٣/٣٤.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه: بېشکه چې الله غوره کړي دي ادم او نوح او اولاده د ابراهيم (او ابراهيم) او اولاده د عمران (او عمران) پر ټولو خلقو (د زماني خپلې په رسالت او روحاني او جسماني خصائصو سره) حال دا چې اولاده وو ځيني د دوی له ځينو نورو څخه او الله ښه اورېدونکي دي (د ګردو د ټولو افعالو) ښه عالم (پر ټولو احوالو).

۹_ د ابراهيم عليه السلام د درجې په هکله يې داسې فرمايلي دي:

[وَتِلْكَ حُجَّتُنَا آتَيْنَاهَا إِبْرَاهِيمَ عَلَى قَوْمِهِ نَرْفَعُ دَرَجَاتٍ مَنْ نَشَاءُ إِنَّ رَبَّكَ حَكِيمٌ عَلِيمٌ (٨٣) وَوَهَبْنَا لَهُ إِسْحَقَ وَيَعْقُوبَ كُلاًّ هَدَيْنَا وَنُوحاً هَدَيْنَا مِنْ قَبْلُ وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِ دَاوُودَ وَسُلَيْمَانَ وَأَيُّوبَ وَيُوسُفَ وَمُوسَى وَهَارُونَ وَكَذَلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ (٨٤) وَزَكَرِيَّا وَيَحْيَى وَعِيسَى وَإِلْيَاسَ كُلٌّ مِنْ الصَّالِحِينَ (٨٥) وَإِسْمَاعِيلَ وَالْيَسَعَ وَيُونُسَ وَلُوطاً وَكُلاًّ فَضَّلْنَا عَلَى الْعَالَمِينَ (٨٦) وَمِنْ آبَائِهِمْ وَذُرِّيَّاتِهِمْ وَإِخْوَانِهِمْ وَاجْتَبَيْنَاهُمْ وَهَدَيْنَاهُمْ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ (٨٧)] [٧٩]

ژباړه: او دا (چې تېر شو) دليل زمونږ دی چې ورکړی و مونږ هغه ابراهيم ته به (مقابله د) قوم د ده چې پر دوی غالب شي پورته کوو مونږ درجې هر چا ته چې اراده وفرمايو (د پورته کولو يې) بېشکه رب ستا ډېر حکمت والا دی (چې هر کار به تدبير او مصلحت سره کوي) ښه عالم (په ټولو احوالو) او وبانبه مونږ ابراهيم ته اسحق (چې د ده زوی او د اسرائيلي انبياوو پلار دی) او يعقوب (مو هم ورو بانبه چې لمسی يې و، دغو ټولو ته هدايت کړی و مونږ، او نوح ته مو هدايت کړی و له (ابراهيم څخه) پخوا او (هدايت مو کړی و) اولادې د ده ځې داؤد او سليمان ته او ايوب او يوسف ته او موسی او هارون ته او همداسې لکه چې (دغو انبياوو ته بدل ورکړ) بدل ورکوو مونږ محسنانو (نيکوکارانو ته) او (هدايت مو کړی و) زکريا او يحيی ته او عيسی او الياس ته دوی ګرد (ټول) دي له صالحانو (کاملانو) ځنې او (هدايت مو کړی و) اسمعيل او اليسع ته او يونس او لوط ته، او دا ټولو ته فضيلت ورکړی و مونږ پر تمامو عالميانو او (فضيلت مو ورکړی و په

---

٧٩.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نبوت ا و اسلام سره) ځينو ته له پلرونو د دوی او له اولادې د دوی او له ورونو د دوی، او غوره کړی و مونږ دا ټول انبیاو او لارښوونه کړې وه مونږ دوی لره سمې صالحې لارې ته.

د داؤد او سلیمان علیهما السلام په برخه کې یې داسې فرمايلي دي:

[وَلَقَدْ آتَيْنَا دَاوُودَ وَسُلَيْمَانَ عِلْماً وَقَالا الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي فَضَّلَنَا عَلَى كَثِيرٍ مِنْ عِبَادِهِ الْمُؤْمِنِينَ (١٥) وَوَرِثَ سُلَيْمَانُ دَاوُودَ وَقَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ عُلِّمْنَا مَنطِقَ الطَّيْرِ وَأُوتِينَا مِنْ كُلِّ شَيْءٍ إِنَّ هَذَا لَهُوَ الْفَضْلُ الْمُبِينُ][80]

ژباړه: او خامخا په تحقیق ورکړی و مونږ داود ته او سلیمان ته (یو خاص) علم او وویل دواړو چې ټولې ثناوې ستاینې (صفتونه) دي الله ته هغه چې مشرتیا (فضیلت) یې راکړی دی مونږ ته پر ډېرو له (هغو) بندګانو خپلو چې مؤمنان دي او سلیمان (نبوت علم، سلطنت) له داود او له نورو اولادې یې میراث واخیست او وویل (سلیمان) ای خلقو ښوولې شوي دي مونږ ته خبرې د الوتونکو مرغانو او راکړی شوی دی مونږ ته هر څیز څخه (چې انبیاوو او باچایانو ته ورکاوه شي) ببشکه دغه (عطا) خامخا د همدغه فضل ښکاره فضیلت دی:

قرآن کریم د ځینو انبیاوو فضیلت په ځینو نورو داسې بیان فرمايلي دي:

[وَرَبُّكَ أَعْلَمُ بِمَنْ فِي السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ وَلَقَدْ فَضَّلْنَا بَعْضَ النَّبِيِّينَ عَلَى بَعْضٍ وَآتَيْنَا دَاوُودَ زَبُوراً][81]

ژباړه: او رب ستا ښه عالم دی په هغه چا چې په اسمانونو کې دی او چې په ځمکه کې دی (له علویاتو او سفلیاتو) او خامخا په تحقیق فضیلت ورکړی دی مونږ ځینو انبیاوو ته پر ځینو (نورو) او ورکړی و مونږ داود ته زبور.

دا مضمون د بقرې سورت کې داسې راغلی دی:

---

[80]. النمل / ۱۵/۱۶.

[81]. بني الاسراء / ۵۵.

(c) ketabton.com: The Digital Library

[تِلْكَ الرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ مِنْهُمْ مَنْ كَلَّمَ اللَّهُ وَرَفَعَ بَعْضَهُمْ دَرَجَاتٍ وَآتَيْنَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ الْبَيِّنَاتِ وَأَيَّدْنَاهُ بِرُوحِ الْقُدُسِ ...] [۸۲]

ژباړه : دا ټول رسولان (چې له ادم تر محمده پورې یاد شول) فضیلت ورکړی دی مونږ ځینې د دوی ته پر ځینو نورو ځینې له دوی څخه هغه دي چې کلام کړی دی الله (له دوی سره چې ادم، موسی او محمد صلی الله علیه وسلم دی) او پورته کړې یې دي ځینو د دوی ته درجې (لکه محمد صلی الله علیه وسلم) او ورکړی دی مونږ عیسی علیه السلام زوی د بي بي مریمې ته ښکاره معجزې او قوي کړی دی مونږ هغه په روح القدس (جبرائیل یا انجیل یا اسم اعظم یا عیسوي روح) سره.

د محمد صلی الله علیه وسلم په برخه کې دا مبارک ایت کافي دی:

[وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِلْعَالَمِينَ] [۸۳]

ژباړه : او نه یې لیږلی مونږ ته (ای محمده!) مگر رحمت لپاره د (ټولو) عالمیانو.

د حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم د لوړ شرف او فضیلت مقام او مرتبې په برخه کې لاندې حدیث شریف یې فرمایلی دی :

[ان الله اصطفی کنانه من ولد اسمعیل قریشاً من کنانه و اصطفی هاشما من قریش و اصطفانی من بنی هاشم] [۸۴]

یعني : بیشکه الله تعالی د اسمعیل له اولادې (کنانه) قبیله غوره کړې او له کنانه قبیلې یې د (قریشو) قبیله غوره کړې ده او له قریشو یې د (هاشم قبیله غوره کړې ده او بني هاشمو کې یې زه غوره گرځولی یم.

په پورتنیو ایاتو او احادیثو کې چې یو ځل بیا په غور وگورو معلومیږي چې الله تعالی انبیاء علیهم السلام ته ظاهري او باطني کمالات ورکړي

---

۸۲. البقره / ۲۵۳.

۸۳. الانبیاء / ۱۰۷.

۸۴. ترمذي ... ابواب المناقب.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوک يې د (صفي) ځوک يې د (نجي) ځوک يې د (خلت) ځوک يې د (کلام) ځوک يې د ديدار په دولت نازولی دی. دا ځکه چې دوی مقدس انساني نفسونه درلودل، شپه او ورځ د ځمکې د کرې هر ګوټ ته د لا اله الا الله رسولو هاند او هڅې کولې او ټولو کې اعلی احمد مجتبی محمد مصطفی د ستايلو وړ اوصافو والا دی، د انبياوو اخرنی نبي دی او ده سره محبت د ايمان روح دی، ايمان او اسلام د رسول الله صلی الله عليه وسلم محبت شرط کړی دی.

## د نبوت علم او اختيار او د شرک کارونه:

خدای تعالی هر مخلوق ته د خپلې مرتبې سره سم صلاحيتونه او د هغوی د کړنو مناسب علم او اختيار ورکړی دی چې: په دې لړ انبياوو عليهم السلام ته يې په کائناتو کې نه يوازې لوړ او اعلی منصب ورکړ شوی دی بلکې د انسانيت د ښوونې مهمه ذمه واري او د وساطت دنده په غاړه لري، انبيا او مرسلين د خدای تعالی او د بندګانو ترمنځ واحده رابطه ده، د دغې مرتبې او مقام او فرائضو ښوولو له منصب سره يې سم پراخه علم او بې شماره اختيارات ورکړي دي، خو ځينې د غلط فهمی له کبله علم او اختيار سره سره او د انبياوو عليهم السلام د لوړ مرتبو لرونکو د ارشاداتو باوجود د شرک کارونه پيل کړي دي اوس نو، زړ په کار دی چې ايا دا د انسانيت د لوړ مقام له عزت او عظمت له لرلو او برياليتوب سره او د پيغمبرانو عليهم السلام د علم او اختيار په نظر کې نيولو باوجود شرک دی؟ او که شرک نه وي نو د پيغمبر عليه السلام د شرع له مخې مشرک ځوک دی؟

## د خالق او مخلوق د صفاتو توپير:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خدای تعالی ذات او صفات او عبادات لا شریک دی خو قرآن کریم د خالق او مخلوق صفات ظاهراً مشترک ذکر کړي دي یعنې کوم ځای کې یې چې قرآن کریم کوم صفت د خدای تعالی لپاره ذکر کړی دی. بل ځای یې هغه د انسان لپاره هم راوړی دی. لکه: د معراج په ایت کې یې چې خدای تعالی ته د سمیع او بصیر صفات یاد کړي دي بل ځای یې همدغه صفات د انسان لپاره هم راوړي دي. لکه:

## اول ـ د خدای تعالی لپاره:

[سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَى بِعَبْدِهِ لَيْلاً مِنْ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الأَقْصَى الَّذِي بَارَكْنَا حَوْلَهُ لِنُرِيَهُ مِنْ آيَاتِنَا إِنَّه هُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ][۸۵]

ژباړه: پاکي ده هغه ذات لره چې بیولی یې و بنده خپل (محمد) په (یوه برخه د) شپې کې له (مخه یا له څنګه د) مسجد حرام څخه تر مسجد اقصی پورې هغه چې برکت اچولی دی مونږ چارچاپیر د هغه (بیول د محمد د دې لپاره و) چې (هلته) وښیو مونږ دغه (محمد) ته ځینې له دلائلو (د قدرت) خپل بېشکه چې دغه (الله) هم دی دی ښه اوریدونکی (د ګردو، ټولو، اقوالو) ښه لیدونکی (عالم په پټو او ښکاره و).

## دوم ـ د انسان لپاره:

[هَلْ أَتَى عَلَى الإِنسَانِ حِينٌ مِنَ الدَّهْرِ لَمْ يَكُنْ شَيْئاً مَذْكُوراً (۱) إِنَّا خَلَقْنَا الإِنسَانَ مِنْ نُطْفَةٍ أَمْشَاجٍ نَبْتَلِيهِ فَجَعَلْنَاهُ سَمِيعاً بَصِيراً (۲)] [۸۶]

ژباړه: ایا راغلی دی (یعنې په تحقیق سره راغلی دی) پر انسان څه وخت له زمانې څخه چې نه و دی یو شی یاد کړی شوی، په یوه نامه سره، بېشکه مونږ انسان د نر او ښځې له ګډې وډې شوې نطفې څخه پیدا کړی دی ازمایو یې نو دغه انسان مو اوریدونکی او لیدونکی وګرځاوه.

---

۸۵. بني اسرائیل / ۱.

۸۶. الدهر / ۱-۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنگه د (رؤف) او (رحیم) صفات یوه ځای کې قرآن کریم د خدای تعالی لپاره او بل ځای کې د انسان لپاره راوړي دي. لکه :

## اول ـ د خدای تعالی لپاره :

[أَلَمْ تَرَى أَنَّ اللَّهَ سَخَّرَ لَكُمْ مَا فِي الأَرْضِ وَالْفُلْكَ تَجْرِي فِي الْبَحْرِ بِأَمْرِهِ وَيُمْسِكُ السَّـــمَاءَ أَنْ تَقَعَ عَلَى الأَرْضِ إِلاَّ بِإِذْنِهِ إِنَّ اللَّهَ بِالنَّاسِ لَرَءُوفٌ رَحِيمٌ] [87] ژباړه : ایا نه دی لیدلی تا (نه یې خبر ای مخاطبه) چې بېشکه الله مسخر (تابع) کړي دي تاسې ته هر هغه څه چې په ځمکه کې دي او (مسخره کړې یې ده) بېړۍ چې گرځي په سمندر کې په حکم د هغه سره، او ساتي اسمان له دې نه چې راولویږي په ځمکه باندې مگر په حکم د ده بېشکه الله پر خلقو خامخا ښه نرمي کوونکی ښه مهربان دی (په انعام د اجر او ثواب سره).

## دوم ـ د انسان لپاره :

[لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِنْ أَنفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُمْ بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ] [88]
ژباړه : خامخا په تحقیق راغلی دی تاسې ته یو رسول له جنسه ستاسې چې ډېر سخت دروند دی په ده باندې هغه کار چې تاسې تکلیف مومئ (له هغه ډېر) حرصناک دی په (هدایت د) تاسې خاص پر مؤمنینو باندې نهایت شفیق ډېر مهربان دی.

دا د غور ځای دی چې خدای تعالی سمیع او بصیر، رؤف او رحیم په خپل کلام کې یو طرف ته انسان سمیع او بصیر موصوف کړ او پېغمبر صلی الله علیه وسلم یې په رؤف او رحیم اوصافو ستایلی دی له بلې خوا یې په دې صفاتو خپل ځان موصوف کړی او دغه کلمات مشترک ذکر شوي دي خو حقیقت دا دی چې الله تعالی واحد او لا شریک ذات دی او په دې تلاوت شویو ایاتو کې چې له یوې خوا الله تعالی په رؤف او رحیم صفاتو متصف

---

[87]. الحج / ۶۵.
[88]. توبه / ۱۲۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښودل شوی دی او له بلې خوا په همدغو صفاتو رسول الله صلی الله علیه وسلم متصف شوی دی او د الله تعالی په فرمان ایمان راوړل فرض عین دی نو که انسان په سمیع او بصیر اوصافو او پیغمبر علیه السلام په رؤف او رحیم اوصافو ونه منل شي نو دا به د الله تعالی له فرمان انکار او مرتکب به يې منکر وي.[۸۹]

## د ذاتي او عطايي صفاتو توپير :

اوس چې په ذهن کې دا عقيده کښېناستله چې الله تعالی خالق او نور اعلی او ادنی هر څه مخلوق دي، د خالق او مخلوق صفات يو رنګه نه وي، هيڅ نه شي کيدلای چې د مخلوق صفات د خدای تعالی له صفاتو سره مساوي وي، او که د چا په نظر کوم صفت مساوي راشي لکه پورته چې د سميع او بصير، رؤف او رحيم صفاتو کې يې چې ذکر وشو هغه صرف لفظي اشتراک وي. اصلي حقيقت دا دی چې د الله تعالی صفات ذاتي، قديم او مستقل دي او د مخلوق صفات عطايي، حادث او غير مستقل وي نو په پورتنيو ذکر شويو مبارکو اياتو کې د سميع، بصير او رؤف او رحيم صفات د الله تعالی ذاتي، قديم او مستقل صفات دي او د مخلوق په طرف کې يې معنی دا ده چې دغه صفات د مخلوقاتو لپاره عطايي، حادث او غير مستقل دي، د الله تعالی په برخه کې د سماعت او بصارت د اوصافو ايت په (سبحان) پيل شوی دی چې په هغه کې اشاره دې ته ده چې دا صفات د الله تعالی لپاره ذاتي صفات دي او د انسان لپاره يې چې په ذکر شوي ايت کې الله تعالی د (لم يکن شيئاً مذکور) فرمايلي دي. دې کې اشاره ده چې د انسان لپاره عطايي صفات دي چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم په مؤمنانو رؤف او رحيم دی نو دا ډول که د ذاتي او عطايي توپير

---

[۸۹]. محمد اقبال قريشي حقيقت شرک طبع راولپنډی کال ۲۰۰۵ معادل ۱۴۲۵هـ.ق.



www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

وشي شرک ته امکان نه پاتې کيږي، له دې امله د خالق او د مخلوق د صفاتو توپير په ذاتي او عطاييکې دي، د خالق هر صفت ذاتي دی او د مخلوق هر صفت د هر کمال خالق ورکړی او د ورعطا شويو کمالاتو نه يې انکار کفر دی.[90]

## د رحيم رسول الله صلی الله عليه وسلم نه د رحمت غوښتنه شرک نه دی:

له پورتني بحث نه ثابته شوه چې الله تعالی حضور صلی الله عليه وسلم ته د ټول جهان رحمت ويلی دی او په پاسني ذکر شوي ايت کې يې چې ورته (رحيم) ويلی هغې کې اشاره دې ته ده چې الله تعالی خپل پيغمبر محمد صلی الله عليه وسلم ته د رحمت سوغات ورعطا کولو اختيار ورکړی دی، د رحمت مراد دا دی، چې څوک يې لمنې لمنې پورې نښتی له رحمت به مالا مال کيږي او د (رحيم) معنی دا ده چې د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم د رحمت د فيض اثر کوم طرف ته وشي هغې خوا ته يې د سند مخه کيږي، نو اوس چې د رحيمي صفت رباني عطايي تصور شي د رحيم پيغمبر صلی الله عليه وسلم د رحمت نظر نه خيرات غوښتل قطعي شرک نه دی، د دې مطلب توضيح داسې ده چې نبوت د خالق او مخلوق ترمنځ د يوې رابطې ذريعه او وسيله ده له دې امله د نبي کريم صلی الله عليه وسلم د دربار پرېښودلو الهي دروازه کې د قبليدلو تصور نهايت گمراه کوونکی دی ځکه چې دا له لمر ښکاره حقيقت دی چې بې غير له نبوي تعليم د الله تعالی پېژندنه او د هغه د بندگۍ سليقه ناممکنه ده. پيريان او انسانان چې بې له نبوي تعليم سفر پيل کړي د ضلالت په صحرا کې به د رحمن د درگاه

---

[90]. محمد اقبال قريشي حقيقت شرک طبع راولپنډی کال ۲۰۰۵ معادل ۱۴۲۵هـ.ق.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پيدا كولو په ځاى به د كفر او شرک سره زړه وتړي او د نبوت په لمن كې چې پناه حاصله شي او د رسول الله صلى الله عليه وسلم غلامۍ كې د الله تعالى د رضا حاصلولو هاند او هڅه وكړي نو د صديقينو، شهداوو، صالحينو او انبياوو كرامو انعام موندونكو په لاره به برابر شي... دنيا تېرېدونكې ده خو د جهان په جريده زمونږ دوام ثبت دى لكن د مصطفى د غلامانو په قبرو به چراغونه روښانه وي، دا ځكه له چا چې الله تعالى راضي شي هغه د مصطفى په درگاه كې د عقيدې سر ايښى وي.[91]

## پنځه حواس او د نبوت مقام:

خداى تعالى هر چا ته پنځه حواس وركړي او د هغو په توگه علم حاصلوي په شامه بويونه پېژني، په باصره د ښكلو او خرابو منظرو توپير كوي، په سامعه اوازونه پېژني، په لامسه نرم او زيږ شيزونه پېژني، په ذائقه خوږ او تريخ پېژني، باچا او گدا، عالم او جاهل، مؤمن او غير مؤمن په دې پنځو حواسو بې له كوم تميز يو شان او يو برابر مالامال دي لكن دا ظاهري حواس يوازې دنيوي شيزونو كې كارول كېږي چې ټول په شعور پورې اړتيا لري او شعور هم په جهان كې كار كوي او ختميږي لكه حواس چې ختميږي، د دوى د كمزورۍ په نظر كې نيولو لپاره الله تعالى انبيا پيدا كړي، هغوى خپل بني نوع انسان ته د هدايت او لارښوونې دولت عطا كوي، څرگنده ده چې دغه قدسيه نفوس په انساني دنيا كې د دارينو د فلاح او برياليتوب يقيني درس وركوي او په زړونو وهمونو او گومانونو ته يې پام كوي ورښيي چې يوه واحد ذات ته سر په سجده كېښودل ضروري دي چې ټوله دنيا يې پيدا كړې او د هغې ټول اختيارات لري، د انبياء عليهم السلام په معجزو كې پټ رازونه دي چې هره زمانه كې يې د هغه وخت له كمالاتو په اړوند له عقل او فكر لوړ شيز وركوي چې د هغه

---

[91]. محمد اقبال قريشي حقيقت شرک طبع راولپنډى كال ۲۰۰۵ معادل ۱۴۲۵هـ،ق.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت د انبیاوو علم او اختیار څرګندونو ته دنیاوال ګوتې په غاښ کیږي، د نمرود د اور یا د فرعون په دربار کې د موسی علیه السلام د عصی حرکات او یا د عیسی علیه السلام په توګه په (قم باذن الله) د مړو ژوندي کول یا د موسی علیه السلام د امسا په وهلو له تیږې د چینې د اوبو جاري کیدل او داسې نور د خدای تعالی قدرتونه او د انبیاوو بې مثاله عظمتونه قرآن کریم او احادیثو کې بیان شوي او همدارنګه د طور غره د نور غره او د سدرة المنتهی د داستانو په عظمت قرآن کریم عادل شاهد دی، یوه یوه پېښه یې معلومه کړې چې الله تعالی د کفر له عالم او شیطاني یلغار سره مقابله کې د ایمان خاوندان او د نبوت منصب والا بریالی کړی دی. د علم او اختیار اسلحه یې ورته ورکړی، دوی یوازې پیغام رسوونکي نه و بلکې مؤمنانو ته یې له مال او سر ګران حیثیت وربښلی و چې د هغه له امله یې د نړۍ عامو انسانانو ځواب ویلی او دې وخت کې هغوی یې د نبوت علم او د رسالت اختیار ته د تسلیم سر ښکته کولو نه بنه چاره نه لرله.[۹۲]

## د علم او اختیار څو پېښې :

د نبوت علم او اختیار باندې قرآن کریم شاهد دی چې الله تعالی انبیاوو علیهم السلام ته عزت او عظمت ورکړی په یو لوړ او اعلی مقام یې بریالی کړی او د ناممکن طرح یې ورته ممکنه کړې چې ټوله نړۍ د هغوی کړنو ته محو او حیرانه پاتې ده، دا بله خبره ده چې څوک ورته تسلیمیږي یا انکار ترې کوي خو خدای تعالی خپل خاص بنده په عام مخلوق مخکې او ضرور یې سرلوړی کړی دی لکه لاندې مثالو کې یې چې وړاندې کوو:

۱ـ د یعقوب علیه السلام د نبوت کمالات :

قرآن کریم د حضرت یوسف علیه السلام واقعې ته احسن القصص ویلی چې خوب کې یې د ورونو او والدینو، لمر او سپوږمۍ لیدلو نه پیل کیږي

---

۹۲. محمد اقبال قریشي حقیقت شرک طبع راولپنډی کال ۲۰۰۵ معادل ۱۴۲۵هـ.ق.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مصر پاچاهۍ ته رسیږي. ورونو او مور او پلار سره یې ملاقات کیږي...
د قصې برخې ډېرې دي خو د اوږدوالي د مخنیوي لپاره یوه عبرت ناکه برخه یې دلته راوړو او هغه دا چې په لومړني ملاقات کې یې پس له پاچاهۍ ته رسېدلو نه خپلو ورونو سره منځ ته راغلې او قرآن کریم کې الله تعالی داسې بیان کړې ده:
[اذْهَبُوا بِقَمِيصِي هَذَا فَأَلْقُوهُ عَلَى وَجْهِ أَبِي يَأْتِ بَصِيراً وَأْتُونِي بِأَهْلِكُمْ أَجْمَعِينَ (۹۳) وَلَمَّا فَصَلَتْ الْعِيرُ قَالَ أَبُوهُمْ إِنِّي لأَجِدُ رِيحَ يُوسُفَ لَوْلا أَنْ تُفَنِّدُونِ (۹٤) قَالُوا تَاللَّهِ إِنَّكَ لَفِي ضَلالِكَ الْقَدِيمِ (۹۵) فَلَمَّا أَنْ جَاءَ الْبَشِيرُ أَلْقَاهُ عَلَى وَجْهِهِ فَارْتَدَّ بَصِيراً قَالَ أَلَمْ أَقُلْ لَكُمْ إِنِّي أَعْلَمُ مِنْ اللَّهِ مَا لا تَعْلَمُونَ (۹٦)] [۹۳]
ژباړه: زما دا قمیص یوسئ او زما د پلار په مخ یې واچوئ بېرته به لیدونکی شي او له خپل اهل سره ټول ما ته راشئ او کله چې بیا له مصر نه کاروان جلا شو د دوی پلار (یعقوب خپلو مصاحبینو ته په کنعان کې) وویل: بېشکه زه خامخا د یوسف بوی احساسوم که چېرې تاسو نسبت د کم عقلۍ (د زوړوالي) راته نه کوئ. (حاضرینو یعقوب ته) وویل په الله قسم دی بېشکه ته هم هغسې خپلې پخوانۍ خطا او سرګردانۍ کې یې، نو کله چې راغی زیری ورکوونکی نو واچوه ده هغه (قمیص) پر مخ د دغه (یعقوب) باندې نو وګرځیده (یعقوب) لیدونکی، (یعقوب) وویل: ایا نه وو ویلې ما تاسې ته چې بېشکه زه پوهېږم له (ښوونې د) الله په هغه څه چې نه پوهیږئ تاسې (چې حیات او ملاقات د یوسف او د نورو دی).
په دې مبارکو ایاتو کې دوه معجزې ذکر شوي دي:
یوه دا چې مصري قافله کنعان ته روانه شوه د یوسف علیه السلام خوشبویي په یعقوب علیه السلام ولګیده.
دوم دا چې د یوسف علیه السلام په قمیص د یعقوب علیه السلام د سترګو بینایي بېرته راپیدا شوه.

[۹۳]. یوسف / ۹۲-۹٦.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې دواړو معجزو يادونه مؤمنانو ته د دې لپاره نه ده چې يوازې خوند تري واخلي بلکې د فکر او غور کولو لپاره دي چې په زرونو ميله لرې فاصلې څرنګه د يوسف عليه السلام خوشبويي په يعقوب عليه السلام ولګيده او دغه خوشبويي صرف يعقوب عليه السلام احساسوله بل هيچا نه محسوسوله او د يعقوب عليه السلام په سترګو د يوسف عليه السلام د قميص په مښلو د ده د ډېرو کالو وړوندوالی تېرېدلو نه بينايي بېرته راغله نو دا کارونه د دې دليل دی چې د انبياوو پنځه حواس د نورو عامو انسانانو د حواسو په نسبت قوي او ډېر لوړ دي نو نبي ته د عامو انسانانو په څېر خيال کول محض جهالت دی، له دې وجې د يوسف عليه السلام واقعې ته خدای تعالی احسن القصص فرمايلی دی.[۹۴]

## د يوسف عليه السلام قميص او شرک کاري :

که غور وکړو څرګنديږي، چې يعقوب عليه السلام او يوسف عليه السلام پلار او زوی د خدای تعالی جليل القدر پيغمبران دي او پيغمبر په ځمکه د خدای تعالی د دين د تنفيذ لپاره مبعوثيږي نو د پيغمبر هره خبره ضرور د خدای تعالی له فرمان لاندې وي او که څوک د پيغمبر د مقام له قول يا فعل د خدايي مشيت خلاف وکړي د الله تعالی له خوا ورسره مخالفت لازمي دی ليکن مهمه دا ده چې يوسف عليه السلام د خپل پلار يعقوب عليه السلام د سترګو په جوړېدلو کې هغو باندې د خپل قميص په مښلو تاکيد کوي چې زما د پلار سترګو بينايي په هغو باندې زما د قميص په مښلو سره بېرته راځي، حال دا چې دی پيغمبر و او پيغمبر ډېر هاند او هڅه کوي زيار باسي چې د شرک جرړې وباسي او توحيد وښيي او د شرک له الودګيو څخه يې پاک کړي. له دې امله يوسف عليه السلام د خپل پلار د سترګو د بينايۍ اعاده کولو لپاره په هغو د خپل قميص د مښلو خواست او غوښتنه

---

[۹۴]. محمد اقبال قريشي حقيقت شرک طبع راولپنډی کال ۲۰۰۵ معادل ۱۴۲۵هـ.ق.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوله چې د قمیص په توګه شفا مومي او یقین یې درلود چې بینایي یې راځي، اوس چې دا قرآن مجید تر قیامته پورې د انسانانو لپاره د لارښوونو منبع ده... پخوانۍ واقعې او د انبیاوو معجزې یې چې بیان کړي هرې یوې کې د هدایاتو او لارښوونو اساسات موجود دي، ضرور امر دا دی چې د رسولانو د محبت په مطالعه کې د یوسف علیه السلام قمیص د یعقوب علیه السلام په سترګو مښلو سره د هغه د سترګو بینا کېدلو کې خوشخبري ده چې د دین د لویانو په تبرکاتو روښانه دلیل دی او واضحه دلیل دی چې د الله تعالی د انعام موندونکو بندګانو د مقام مرتبه خدای تعالی دومره لوړه او قوي کړې چې په قمیص یې سخته تاریکي په روښنایۍ تبدیلوي.[۹۵]

## تبرکات او د صحابه وو رضي الله عنهم آثار:

د صحابه وو رضي الله عنهم طرز عمل ډېر ستر عاشقانه نظریات دي. حضرت سهل بن سعد رضي الله عنه روایت کړی چې یوه سائل نبي صلی الله علیه وسلم نه څادر وغوښت هغه صلی الله علیه وسلم ورته خپل څادر مبارک ورعنایت کړ. سائل وویل: [فقال انی والله ما سالته لالبسها انما سالته لتکون کفنی قال سهل فکانت کفنه] یعني سائل وویل: په الله لوړه کوم چې ما د دې لپاره سوال ونه کړ چې واېې غوندم بلکې د دې لپاره مې سوال وکړ چې کفن مې شي. سهل وویل: نو هغه یې کفن شو.[۹۶]

دا مبارک حدیث د تبرکاتو په جواز دلالت کوي ځکه چې سائل د څادر سوال کړی و چې کفن یې شي او د هغه له برکته یې د برزخ مشکلات حل شي. د تبرکاتو تر عنوان لاندې ترمذي شریف کې یو حدیث راغلی دی، چې د حضرت حسان بن ثابت خور روایت کړی داسې چې: [و عن ام ثابت

---

۹۵. محمد اقبال قریشي حقیقت شرک طبع راولپنډۍ کال ۲۰۰۵ معادل ۱۴۲۵هـ،ق.

۹۶. رواه البخاري و ابن ماجه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

كبثة اخت حسان بن ثابت رضي الله عنهما قالت: دخل على رسول الله صلى الله عليه وسلم فشرب فی قربية معلقة قائما فقمت الی فيها فقطعته] [97]
يعني د حسان بن ثابت خور ام ثابت كبشة بنت ثابت رضي الله عنهما نه روايت دی ويلي يې دي چې: بني عليه السلام تشريف راووړ او د مشک له خولې يې اوبه په ولاړې وچيکلې نو زه ورپاڅېدم په هغه ځای چې د ده مبارک خوله شريفه لګېدلې وه هغه مې راپرېکړه او ويې ويل : [و انما قطعتها لتحفظ موضع فم رسول الله صلى الله عليه وسلم و تتبرک به و تصونه عن الابتذال] [98] يعني : او هرو مرو مې هغه د رسول الله صلى الله عليه وسلم د مبارکې خولې د کېښودلو ځای د مشکولې له خولې پرېکړ چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د مبارکې خولې کېښودلو برخه له مشکولې وساتم او په هغه مو تبرک کاوه او چې ابتذال نه وساتل شي.
د حضرت يوسف عليه السلام عمل په قرآن شريف کې شهادت ورکړی او د دوه صحابه وو کرامو عمل او د امام نووی تشريح او وضاحت د تبرکاتو په برخه کې چې شوی دی نور هيڅ شک نه پاتې کيږي. [99]

## يوه شبه او د هغې ازاله :

ځينو د عبدالله بن ابي واقعه بيان کړې او ساده لوحه عوام پرې غولېدلي، دوی وايي چې رسول اله صلى الله عليه وسلم خپل قميص مبارک ورکړی و خو هغه ته يې فايده ونه کړه نو معلومه شوه چې د تبرکاتو فايده نه حاصليږي له دې امله دا شرک دی خو غرض دا دی چې که دا کار شرک وای نو نبي کريم صلى الله عليه وسلم به عبدالله بن ابي ته خپل قميص مبارک نه ورکاوه او يوسف عليه السلام به خپل قميص خپل پلار يعقوب عليه السلام ته نه استاوه او خدای تعالی دې ته احسن القصص ويلی دی،

---

[97]. رواه الترمذي و قال حديث حسن صحيح.
[98]. رياض الصالحين كتاب اداب الطعام.
[99]. رياض الصالحين كتاب اداب الطعام.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضور صلی الله علیه وسلم خپل قمیص مبارک عبدالله ابن ابي ته عطا کړ ځکه چې دی صلی الله علیه وسلم د اعلی اخلاقو لوړ عملي مثال و، او دا چې عبدالله بن ابي ته یې فایده ونه رسیده وجه یې دا وه چې: تبرکات مشرک او کافر او منافق ته فایده نه رسوي، د دوی نیک اعمال هم قبول نه دي ځکه چې د نیکو اعمالو قبلېدلو ته شرط د ایمان لرل دي، د منافق او مؤمن د صالحه اعمالو توپیر دا دی چې: قرآن کریم کې خدای تعالی ارشاد فرمایلی دی: [يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تُبْطِلُوا صَدَقَاتِكُمْ بِالْمَنِّ وَالأَذَى كَالَّذِي يُنفِقُ مَالَهُ رِئَاءَ النَّاسِ وَلا يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَمَثَلُهُ كَمَثَلِ صَفْوَانٍ عَلَيْهِ تُرَابٌ فَأَصَابَهُ وَابِلٌ فَتَرَكَهُ صَلْدًا لا يَقْدِرُونَ عَلَى شَيْءٍ مِمَّا كَسَبُوا وَاللَّهُ لا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ (٢٦٤) وَمَثَلُ الَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ ابْتِغَاءَ مَرْضَاةِ اللَّهِ وَتَثْبِيتاً مِنْ أَنْفُسِهِمْ كَمَثَلِ جَنَّةٍ بِرَبْوَةٍ أَصَابَهَا وَابِلٌ فَآتَتْ أُكُلَهَا ضِعْفَيْنِ فَإِنْ لَمْ يُصِبْهَا وَابِلٌ فَطَلٌّ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ][١٠٠]

ژباړه: ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (یعنې ای مؤمنانو) مه باطلوئ تاسې خیراتونه خپل (مه ضایع کوئ ثوابونه یې) په احسان بارولو او ایذا (او ضرر رسولو) سره په شان (د ابطال د ثواب د انفاق) د هغه (سړي) چې صرفوي مال خپل لپاره د لیدنې د خلقو او ایمان نه لري په الله او په ورځې اخرې باندې (چې قیامت دی) نو مثال د دې (ریاکار په صرفولو د مال کې) په شان د صفت د هغې ښویې تبرې (ګټې) دی چې په هغې باندې څه خاورې پرتې وي نو وربرېږي هغې ته زورور باران نو دغه تیره (ګټه) له ګرده پاکه (صافه پرېږدي) نه به قادرېږي (دا ریاکاران) په هیڅ شي باندې (له ثوابه د) هغه شي چې دوی کسب کړی دی، او الله نه ښیي (سمه صافه لاره د خیر او ارشاد) قوم کافرانو ته (په سبب د ظلم د دوی پر خپلو نفسونو) او مثال (صفت د صرفولو) د هغو کسانو چې صرفوي (لګوي) مالونه خپل لپاره د طلب د رضا د الله او لپاره د ثبات (د زړه او صدق چې پیدا دی) له نفسونو د دوی څخه (په ایمان باندې) په شان د یوه باغ دی په لوړه ځمکه

---

[١٠٠]. البقره / ٢٦٤-٢٦٥.

(c) ketabton.com: The Digital Library

باندې چې ورسیږي دی (باغ) ته ورو ورو باران نو ورکړي مېوې خپلې دوچنده نو که ونه رسیږي دې (باغ) ته زورور باران نو نرى باران (یا پرخه پرې اوري هم) کافي ده او الله په هغو شیانو چې تاسې یې کوئ ښه لیدونکی دی (په پټو او ښکاره وو عالم دی).

مؤمن د ایمان لپاره سر لوړی دی، کافر، مشرک او منافق د کفر، شرک او نفاق له امله د خدای تعالی له رحمتونو محروم دي، د صالحه اعمالو قبولیت له دعا او شفاعیت نه د برخې اخیستلو شرط ایمان لرل دي... څرنګه چې عبدالله بن ابي منافق و د حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم مبارک قمیص ورته فایده ونه کړه. د ه ظاهر له دوی سره و او دماغ یې بتخانې سره و...حقیقت دا دی چې : مؤمن هغه انسان دی چې لږ څه قرآن او احادیثو نه خبر وي جائز ته ناجائز او مؤمن ته مشرک ونه وایي او که د قرآن او احادیثو له واضحو دلایلو له خبرتیا سره په تش نوم موحد د کوم ساده مؤمن په ګمراه کولو کې هاند وکړي نو هغوی ته دعا کولای شو چې هدایت یې په نصیب شي، او که نه د دنیا په مینې کې اخته صرف په نوم مؤمنان به تل دغه راز نظریات څرګندوي.[١٠١]

## د مالا تعلمون څېړنه :

په قرآن کریم کې د (ما لا تعلمون) لفظونه په لاندې دوه ایاتو کې داسې راغلي دي :

١ـ د یعقوب علیه السلام په قصه کې : [قَالَ أَلَمْ أَقُلْ لَكُمْ إِنِّي أَعْلَمُ مِنْ اللَّهِ مَا لا تَعْلَمُونَ][١٠٢] ژباړه : وویل (یعقوب) ایا نه وو ویلي ما تاسې ته چې بېشکه زه پوهېږم له (ښوونې) د الله په هغه څه چې نه پوهیږئ تاسې (چې حیات ا و ملاقات د یوسف او نورو دی)

١٠١. همدغه مرجع.

١٠٢. یوسف / ٩٢.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ـ فرښتو سره د خدای تعالی په مکالمه کې دا سې راغلي ده :

[وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلائِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الأَرْضِ خَلِيفَةً قَالُوا أَتَجْعَلُ فِيهَا مَنْ يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ الدِّمَاءَ وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ قَالَ إِنِّي أَعْلَمُ مَا لا تَعْلَمُونَ][103] ژباړه : او (یاد کړه ای محمده) هغه وخت چې وویل پروردګار پرښتو ته چې بېشکه زه جوړوونکی یم په ځمکه کې د یوه خلیفه نو وویل پرښتو آیا ګرځوی ته په ځمکه کې هغه څوک چې فساد به کوي په دې کې او تویوي به (په ناحقه سره) وینې، حال دا چې مونږ تسبیح وایو سره د ثنا ستا او نسبت د پاکۍ کوو تا ته، وویل الله بېشکه زه پوهېږم په هغو اسرارو چې تاسې پرې نه پوهېږې.

دا دوه مبارک ایاتونه چې موازنه کړو دا راته کشف کېږي چې الله تعالی د ډېر علم دعوی کړې او یعقوب علیه السلام هم د ډېر علم دعوی کړې ده، الله تعالی پرښتو ته (مالا تعلمون) فرمایلی دی او یعقوب علیه السلام خپلو مخاطبینو ته (مالا تعلمون) فرمایلي دي خو چې غور په کې وشي د خدای تعالی د اعلان او د یعقوب علیه السلام د اعلان ترمنځ واضحه توپیر دی هغه دا چې الله تعالی خپل ذات د ډېر علم لرونکی بللی او یعقوب علیه السلام په خپل قول کې د (من الله) کلمه زیاته کړې ده. یعنې کوم علم چې یعقوب علیه السلام یې لري هغه له خدای تعالی ورکړې شوی دی یعنې مخلوق ته علم له خدای تعالی حاصل دی او د خدای تعالی علم له بل څه حاصل نه وي بلکې په خپله د علم په اذلي صفت موصوف وي نو الله تعالی چې فرښتو ته (مالاتعلمون) فرمایلي د خالق او مالک په حیث یې پېژنو او یعقوب علیه السلام چې (مالاتعلمون) ویلي دي د نبوت د علم حیثیت لري.[104]

---

[103]. البقره / ۳۰.

[104]. همدغه مرجع.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲_ د سلیمان علیه السلام سماعت (اوریدنه) او د شرک خبرنه :

قرآن کریم د سلیمان علیه السلام یادونه په اهتمام بیان کړي چې الله تعالی علم، حکمت او عظیم الشان سلطنت ورکړی و، جن او انس یې ورته تابع کړي داسې یې فرمایلي دي :

[وَوَرِثَ سُلَيْمَانُ دَاوُودَ وَقَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ عُلِّمْنَا مَنطِقَ الطَّيْرِ وَأُوتِينَا مِنْ كُلِّ شَيْءٍ إِنَّ هَذَا لَهُوَ الْفَضْلُ الْمُبِينُ (١٦) وَحُشِرَ لِسُلَيْمَانَ جُنُودُهُ مِنْ الْجِنِّ وَالإِنْسِ وَالطَّيْرِ فَهُمْ يُوزَعُونَ (١٧) حَتَّى إِذَا أَتَوْا عَلَى وَادِي النَّمْلِ قَالَتْ نَمْلَةٌ يَا أَيُّهَا النَّمْلُ ادْخُلُوا مَسَاكِنَكُمْ لا يَحْطِمَنَّكُمْ سُلَيْمَانُ وَجُنُودُهُ وَهُمْ لا يَشْعُرُونَ (١٨) فَتَبَسَّمَ ضَاحِكاً مِنْ قَوْلِهَا وَقَالَ رَبِّ أَوْزِعْنِي أَنْ أَشْكُرَ نِعْمَتَكَ الَّتِي أَنْعَمْتَ عَلَيَّ وَعَلَى وَالِدَيَّ وَأَنْ أَعْمَلَ صَالِحاً تَرْضَاهُ وَأَدْخِلْنِي بِرَحْمَتِكَ فِي عِبَادِكَ الصَّالِحِينَ (١٩)][۱۰۵]

ژباړه : او سلیمان (نبوت، علم، سلطنت) له داود څخه میراث واخیست او وویل (سلیمان) وویل : ای خلقو ښوولې شوي دي مونږ ته خبرې د الوتونکیو مرغانو او راکړی شوی دی مونږ ته له هر څیز څخه (چې انبیاوو او پاچایانو ته ورکاوه شي) بیشکه دغه (عطا) خامخا هم دغه د ښکاره فضل فضیلت دی او جمع کړی شوي لپاره د سلیمان لښکرې د ده له پیریانو او (له) انسانانو او (له) مرغانو بیا به د دوی ډلې ترلې کیدلې (په ترتیب سره) تر هغه پورې کله چې راغلل دوی پر کنده د میږیو نو یوه میږۍ وویل : ننوځئ تول مساکنو سوړو خپلو ته چې مات او چیت پیت مو نه کړي هرو مرو (خامخا) تاسې لره سلیمان او لښکر د ده حال دا چې دوی به نه وي پوه (د تاسې له دې پایمالیدو نه) نو (سلیمان) په دغه حال کې چې خندا کوونکی و (وریسې تعجباً او سروراً) له وینا د هغه میږۍ تبسم وکړ او سلیمان وویل : ای زما ربه الهام وکړه ما ته (راپه برخه کړه) دا چې ستا د

[۱۰۵]. النحل / ۱۲-۱۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نعمت شکر وکړم هغه چې تا پر ما انعام کړی دی او په مور پلار زما او بل دا چې زه هغه نیک عمل وکړم چې ته یې خوښوې او ما په خپل رحمت سره خپلو هغو بندګانو ډله کې یوځای کړه چې صالحان دي.

دې مبارکو ایاتو کې خدای تعالی په سلیمان علیه السلام باندې خپل سوغاتونه یاد کړي دي. په نبوت او سلطنت یې سرفراز کړی دی په جن او انس سربېره مرغان یې هم ورته تابع کړي دي. دې قصه کې راغلي: کله چې د سلیمان علیه السلام لښکرې په یوې وادۍ تېرېدلې د مېږیانو مشر نارې کړې چې ای مېږیانو خپلو هستوګنځیو ته ننوځئ چې د سلیمان علیه السلام لښکرې تېرېږي چې تاسې پایمال نه کړي، سلیمان علیه السلام تبسم وکړ او د مېږیانو د مشر دا غږ یې واورېده، نو اوس چې ساینس ترقي کړې بیا هم د داسې الې په کشف موفق شوی نه دی چې د مېږي اواز پرې واوریدل شي او په ژبه او خبرو یې سړی پوه شي نو غور او سوچ او څېړنه چې وشي قرآن کریم فرمایلي دي:

[فَتَبَسَّمَ ضَاحِكاً مِنْ قَوْلِهَا....] یعنې د میږي په اواز یې ونه خندل بلکې په دې خبرې یې وخندل چې مېږي خیال کاوه چې د خدای تعالی جلیل الشان پیغمبر ترې بې خبره دی، له یوې خوا د میږي د بې خبرۍ حادثه ظاهره شوه له بلې خوا یې د دې خبرېدلو لپاره د الله تعالی شکر وکړ، مطلب یې دا دی چې ای الله که ستا کرم نه وای د میږي په قول به خبر نه وم او د دیوال تر شا به مې د څه شي خبر نه درلود لیکن دا ستا عطا وه چې دغه اواز هغه وخت بل انسان وانه وربېده او ستا نبي واورېده.[۱۰۲]

## د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم سماعت او بصارت او د شرک څېړنه:

---

[۱۰۲]. همدغه مرجع.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سليمان عليه السلام له سماعت د حضرت محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم سماعت ډېر غوره دی ځکه چې اولين او اخرين او د انسانانو د ټولې بني نوع لپاره رسول او رحمت دی نو ټولې ښېګڼې چې نورو انبياوو ته ورکړ شوې وې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته له هغو زيات صفات او کمالات ورکړ شوي دي لکه چې شاعر (ښاد) ويلي دي :

د يوسف حسن عيسی دم يد بيضا لرې
چې نور لري څه هغه څه ته په تنها لرې

مسلم شريف د حضرت ابو هريره رضي الله عنه په روايت د محمد صلی الله عليه وسلم سماعت داسې بيان کړی دی : [عن ابي هريره رضي الله عنه قال : کنا مع رسول الله صلی الله عليه وسلم اذا سمع وجبة فقال اهل تدرون ما هذا؟ قلنا الله و رسوله اعلم، قال هذا حجر رمی به فی النار منذ سبعين خريفاً فهو يهوی فی النار الی الان حتی انتهی الی قصرها فسمعتم وجبتها] [107]

يعني : له ابي هريره رضي الله عنه روايت دی چې ويلي يې دي : مونږ له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره وو مونږ يو د رب واوريده نو وويل : ايا پوه شوئ چې دا څه و؟ مونږ وويل : الله او د ده رسول ښه پوهيږي، ويې فرمايل : دا يوه تيږه وه چې اويا کالو نه پخوا اور کې وويشتل شوه هغه په دوزخ کې روانه ده تراوسه پورې څو چې انتها بيخ (تل) ته ورسيده نو تاسې يې اواز واوريده.

او د ابوذر رضي الله عنه په روايت داسې حديث شريف راغلی دی :

[و عن ابي ذر رضي الله عنه قال : قال رسول الله صلی الله عليه وسلم انی اری ما لا ترون اطئت السماء و حق لها ان اطئت ما فيها موضع اربع اصابع الا و ملک واضع جبهته ساجدا الله تعالی والله لو تعلمون ما اعلم

---

[107]. رواه مسلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لضحکتم قلیلاً و لبکیتم کثیراً و ما تلذذتم بالنساء علی الفرشی و لخرجتم الی الصعدات تجارون الی الله تعالی][108]

یعني له ابي ذر رضي الله عنه روایت دی چې ویلي یې دي وفرمایل رسول الله صلی الله علیه وسلم زه هغه څه وینم چې تاسې یې نه وینئ استعمالیږي اسمان او حق یې دی چې استعمال شي هغه څه چې په کې دي د څلورو ګوتو ځای په کې نه پیدا کیږي چې هغې کې ملکو خدای تعالی ته په سجده تندي نه وي ایښی قسم دی چې که تاسې پوهېدلای په هغه څه چې زه پوهیږم نو لږ به مو خندل او ډېر به مو ژړل او له ښځو به مو په فرش خوند نه اخسته او وتلئ به پاکو لوړو ځایو ته الله تعالی ته به همسایه کېدلای.

یو روایت دی چې کفارو د بیت المقدس په متعلق رسول الله صلی الله علیه وسلم نه سوالونه کول. رسول الله صلیالله علیه وسلم وفرمایل چې ما یې ټولو پوښتنو ته ځوابونه وویل داسې چې: ((عن جابر ان سمع رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول کما کذبنی قریش قمت فی الحجر فجل الله لی بیت المقدس فطفقت اخبر هم عن ایاته و انا انظر الیه))[109] یعني: له جابر رضي الله عنه روایت دی. ده له رسول الله صلی الله علیه وسلم اوریدلي ویلي یې دي: هغسې چې قریشو زما تکذیب وکړ زه په تیږه ودریدم نو الله تعالی بیت المقدس راته وبریښاوه نو دوی ته مې له علامو د هغه خبر ورکاوه او ما ورته کتل.

دې دواړو احادیثو مبارکو کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سماعت او بصارت نوراني بیان دی هغه داسې چې جهنم کې د تیږې د ولیدلو اواز دنیا ته د رارسیدلو او اوریدلو توان پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته د ده د قربت برکت له خدای تعالی ورعطا شوی دی چې صحابه وو کرامو ته یې وویل: تاسې دا اواز واوریده؟ او په دومره لوړ اسمان کې د فرښتو لیدنه

---

[108]. رواه الترمذی ... و قال حدیث حسن.

[109]. متفق علیه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عوام نه شي کولای دا د غور او څېړنې مقام دی چې هغه د ستاینې او صفاتو لرونکی له لوړ اسمان نه د فرښتو لیدنه او څور جهنم ته د تیرېږې د ولوېدلو د اواز اورېدنه کوي لکه چې صحابه وو کرامو وویل: دا ډول لیدنه او اورېدنه د مقدس ذات کار دی د عامو مؤمنانو شېوه او طریقه نه ده، او دا چې څوک په رسول الله صلی الله علیه وسلم درود وایي دی یې اوري او دی یې په خواب کې لس چنده پرې درود وایي دا ځکه چې په خپله رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې الله تعالی په ځمکه باندې د انبیاوو د اجسادو خوراک حرام کړی دی او هغه ارشاد یې داسې دی:

عن اوس بن اوس عن النبي صلی الله علیه وسلم قال: ان من افضل ایامکم یوم الجمعة فیه خلق ادم علیه السلام و فیه قبض وفیه النفخة و فیه الصاعقه فاکثروا علی من الصلوة فان صلوتکم معروضة علی، قالو یا رسول الله کیف تعرض صلوتنا علیک و لقد ارمت ای یقولون قد بلیت قال ان الله عز و جل قد حرم علی الارض ان تاکل اجساد الانبیاء علیه السلام. [۱۱۰]

یعنې: له اوس ابن اوس روایت دی چې له نبي صلی الله علیه وسلم یې روایت کړی دی. فرمایلي یې دي: له افضلو ورځو ستاسې د جمعې ورځ ده په دې کې ادم علیه السلام جوړ شوی دی او په دې کې یې د روح قبض شوی دی او په دې کې به پوکی په صور د اسرافیل علیه السلام کې وي او په دې کې به صاعقه (اواز) وي نو اکثره به پر ما درود وایې او ستاسې درود به ما ته رسیږي، دوی ورته وویل: ای رسول الله څرنګه زمونږ درود تا ته رسیږي او ته به خامخا هرو مرو خاورې شوی یې یعنې وروست شوی

[۱۱۰]. سنن نسایي – باب ذکر فضل یوم الجمعه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

به يې، وې فرمايل: الله تعالى په ځمكه حرام كړي چې د انبياوو عليهم السلام بدنونه وخوري.
په يوه بل حديث شريف كې راغلي دي چې:
«عن انس بن مالك رضي الله عنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال اتيت ليلة اسرى بى على موسى عليه السلام عند الكتيب الاحمر و هو قائم يصلى فى قبره» [١١١] يعنې: له انس بن مالك رضي الله عنه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د معراج په شپه موسى عليه السلام باندې راغلم په (كنيب احمر) او دى ولاړ و په قبر كې يې لمونځ كاوه.
دې دوه حديثو شريفو كې چې غور او څېړنه وشي د لمر په څېر روښانه معلوميږي چې خداى تعالى انبياوو عليهم السلامو ته برزخي ژوند وركړى نو ستر او غوره پيغمبر محمد مصطفى صلى الله عليه وسلم د برزخ په عالم كې ژوندى دى.

## د انبياوو كرامو ژوند په برزخ كې:

د انبياوو كرامو د ژوند په برخه كې بخاري په كتاب الانبياء كې يو روايت رانقل كړى چې د ادم او موسى عليهما السلام په منځ كې يې يوه مكالمه ذكر كړې چې د فكر د څښتنانو غور او څېړنه ورباندې په كار ده. هغه دا چې ابو هريره رضي الله عنه روايت كړى، چې: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم احتج ادم و موسى، فقال له موسى انت ادم الذى اخرجتك خطيئتك من الجنة فقال له ادم انت موسى الذى اصطفك الله برسالته و بكلامه ثم تلو منى على امر قدر على قبل ان اخلق فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم فحج ادم موسى مرتين. [١١٢] يعنې: رسول الله صلى الله عليه

---

[١١١]. سنن نسايي باب ذكر صلوة رسول الله صلى الله عليه وسلم.
[١١٢]. صحيح بخاري كتاب الانبياء.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وسلم وفرمایل : ادم او موسی دلیلونه راوړل، موسی علیه السلام وویل : ته هغه ادم یې چې خطا دې له جنت راووبستلې؟ ادم ورته وویل : ته هغه موسی یې چې الله تعالی په خپل رسالت او کلام غوره کړې بیا ته ما په داسې کار ملامتوې چې هغه پخوا زما له پیدا کېدلو تقدیر کې مقرر شوی و نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : نو ادم پر موسی دوه ځلې دلایلو کې بریمن شو.

بخاري کې د غور وړ سوالونه او ځوابونه شته چې له هغې جملې د ادم علیه السلام او د موسی علیه السلام سوال او ځواب دی چې پاس ذکر شو چې د شبرنې ځینې نکتې یې په لاندې ډول راوړلای شو:

۱ـ د ادم علیه السلام او د موسی علیه السلام د ژوند ترمنځ په سوونو کالونه حائل دي.

۲ـ د ادم علیه السلام او د موسی علیه السلام دغه مکالمه لکه چې له پاسنې حدیث شریف څرګندیږي پس له خروج د ادم علیه السلام ده له جنت څخه: نه دا چې په عالم ارواح کې یې دا مکالمه شوې ده.

۳ـ د ادم علیه السلام او د موسی علیه السلام دغه مکالمه د معراج په شپه شوې.

۴ـ د ادم علیه السلام او موسی علیه السلام دغه مکالمه په عالم دنیا کې شوې ده نه په عالم برزخ کې.

که دا سوال او ځواب د معراج په شپه په مسجد اقصی کې وي نو د انبیاوو د ژوند مسئله واضحه کیږي او که د ادم علیه السلام او موسی علیه السلام مکالمه په عالم برزخ کې ادم علیه السلام سره شوی وي بیا دوه مسئلې واضحه کیږي یوه دا چې د انبیاوو برزخي ژوند ثابتیږي. بل دا ثابتیږي چې د الله تعالی مقبول بنده په دنیا کې د برزخ له مقبولو بندګانو سره وینا کولای شي.

## د برزخ ژوند او د الملک سورۀ :

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه روایت دی چې یوه صحابي په یوه ځای خیمه ووهله معلومات ورته نه و چې په هغه ځای کې یو قبر دی او هلته یو قبر و. د الملک سورة په کې جاري تلاوت کېده. دغه صحابي نبي صلی الله علیه وسلم ته ورغی عرض یې وکړ چې ما په ناپوهۍ سره په یوه قبر خیمه ووهله: ((و انا لاحسب انه قبر فاذاً فیه انسان یقراء سورة الملک حتی ختمها، فقال النبی صلی الله علیه وسلم هی المانعة هی المنجیة تخجیه من عذاب القبر[113]

یعني: زه نه پوهېدلم چې دلته قبر دی خو ثرگنده شوه چې دلته یو بني ادم سورة الملک تلاوت کوي او تر پایه یې رسوي. نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دا سورت مانع او نجات ورکوونکی دی له عذاب د قبر نجات ورکوي. دې حدیث شریف باندې د برزخ په عالم کې د قرآن تلاوت ثابت دی او د نبي علیه السلام صحابي رضي الله عنه ته د لیدلو او انکشاف د دومره توان ورکړه په کې ثرگنده ده چې نه یوازې د دیوال شا ته معلومات ورته حاصلیږي، بلکې د ځمکې سیمه ورته ثیریږي د هغه دننه پټ رازونه ورته ظاهریږي خو افسوس د قرآن او حدیثو واضحو دلایلو باوجود ځینې له برزخي ژوند انکار کوي، حال دا چې قرآن کریم د شهداوو په ژوند عادل شاهد دی او د هغو مړینه یې منع کړې ده [وَلَا تَقُولُوا لِمَنْ يُقْتَلُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتٌ بَلْ أَحْيَاءٌ وَلَكِنْ لَا تَشْعُرُونَ][114] ژباړه: ثوک چې د خدای په لار کې ووژل شي مړه مه ورته وایئ بلکې ژوندي دي خو تاسې نه پوهیږئ.

## د برزخ ضروري وضاحت:

---

[113]. رواه الترمذي ابواب فضائل القرآن.

[114]. البقره/ ۱۵۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عالم برزخ ژوند روښانه دی څکه چې د [فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَـــةً][۱۱۵] او د [النَّـــارُ يُعْرَضُونَ عَلَيْهَا غُدُوّاً وَعَشِيّاً][۱۱۶] په مقتضی او د [القبر روضة من رياض الجنة و حفرة من حفر النيران][۱۱۷] حديث شريف له مخې به هر کافر او ګناه ګار ته قبر د دوزخ او عذاب کنده وي او د مؤمن مسلمان لپاره به يوه باغچه له باغچو د جنت وي. يعنې برزخ کې به انسان د خپلو دنيوي اعمالو په تناسب ژوند وي. د برزخ له ژوند انکار جهالت، دهريت دی او جهالت هم د دهريت يوه څانګه ده.

بل دا چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم سردار دا نبياوو دی لکه چې فرمايلي يې دي : [انا اکرم الاولين والاخرين][۱۱۸] يعنې زه د اولينو او اخرينو غوره يم او الله تعالی په ټولو فضيلت راکړی دی نو چې د ټول عالم خاص او عام لپاره د عالم برزخ ژوند ثابت دی. د انبياوو امام حضرت محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم ته خو په اولی طريقه دغه ژوند ثابت دی لکه په دې حديث شريف کې چې راغلي دي :

[عن عائشه رضي الله عنها قالت قال رسول الله صلی الله عليه وسلم ما من عبد صل علی صلوة الا عرج بها ملک حتی يجئ بها وجه الرحمن عز و جل فيقول ربنا تبارک و تعالی اذهبوا بها الی قبر عبدی يستغفر لصاحبها و تقربها عينه][۱۱۹] يعنې له عائشې رضي الله عنها روايت ديويلي يې دي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: يو سړی نشته چې پر ما درود ووايي مګر ملکه هغه پورته کړي څو يې خدای تعالی ته ورسوي نو الله

---

۱۱۵. النحل / ۹۷.

۱۱۶. غافر / ۴۶.

۱۱۷.

۱۱۸.

۱۱۹. جلاء الافهام – له – ابن قيم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تعالی وفرمايي دا د پېغمبر عليه السلام قبر ته وروړئ چې ښځينتن ته يې بخښنه وغواړي او سترګې پرې خوږې کړي.

په بل حديث شريف کې راغلي دي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د سلام ځواب فرمايي او هغه داسې دی چې : [عن ابي هريره قال قال رسول الله صلی الله عليه وسلم ما من مسلم يسلم علی فی شرق او فی غرب الا انا و ملئکة الی يرد عليه السلام فقال قائل : يا رسول الله صلی الله عليه وسلم ما بال اهل مدينة قال و ما يقال الکريم فی جيرته و جيرانه ان مما امر به من حفظ الجوار و حفظ الجيران] [۱۲۰]

يعنې : له ابي هريره رضي الله عنه روايت دی ويلي يې دي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل :په شرق او غرب کې يو مسلمان نشته چې پر ما سلام ووايي مګر زه او زما د رب ملکې پرې د سلام ځواب وايو نو ويوونکي وويل : ای رسول الله صلی الله عليه وسلم د مدينه والو به څه حال وي؟ وويل : هغه څه چې خدای تعالی د همسايه ګانو او همسايه دارۍ په برخه کې فرمايلي دي دا هغه څه دي چې امر يې کړی دی په ساتنه د همسايه او همسايه ګانو.

## درود ، سلام، د ندا حرف او شرک :

د درود او سلام اهميت او فايده دا ده چې ثواب لري او نبي صلی الله عليه وسلم يې ځواب وايي نو د نبي عليه السلام د امت محروم ول د ثواب له عزت ښه نه دي، درود او سلام ويل د الله تعالی په مرضا يا مستقيماً او يا د فرښتو په توګه رسول الله صلی الله عليه وسلم ته رسيږي.

په ايت او احاديثو په رسول الله صلی الله عليه وسلم د درود او سلام ويل ثابت دي نو دا چې د ندا حرف باندې وي يا د خطاب په صيغه وي د شرک اطلاق نه ورباندې کيږي، د ژوند او پس له مرګه تو پير ورکول هوايي

۱۲۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبرې او دهريت تـه تمايـل دی ځکـه چې رسـول الله صـلی الله عليـه وسـلم باندې د درود او سلام ويلو دلايل د ده په ژوند او هم پس لـه وصـال يې پـه طيبه کلمه کې، اذان کې، اقامت کې، د لمانځه شهادتينو کې موجود دي چې د هغو په ويلو شرک نه واقع کيږي او نـه پـه سلام ويلو د ندا د حرف راوړل شرک راځي، د رسول الله صلی الله عليه وسلم په شان کې الله تعـالی فرمايلي دي :

[وَلَلْآخِرَةُ خَيْرٌ لَكَ مِنَ الْأُولَى] [121] ژباړه : او خامخا تا ته اخرت له اولی (دنيا) ښه غوره دی.

نو مؤمنان او پـه رسول الله صلی الله عليـه وسلم مـين عاشقان درودونـه، سلامونه او نعتونه پرې وايي او ويلي يې دي چې ټولو کې د ندا حروف او د خطاب صيغې راغلي او راځي نو په هغوی د شرک فتوی نه ده ورکول شوې لکه مولانا جامي چې ويلي دي :

زمهجوری برامد جان عالم ترحم يا نبی الله ترحم

[122]

يا چې اشرف علي تهانوي په خپل معروف کتاب (۱۹۴) مخکې پـه عربـي ويلي : يا شفيع العباد خذبيدی انت فی الاضطرار معتمدی

## يوه ايماني پېښه :

حضرت سفيان ثوري رضي الله عنه ويلي دي چې طواف مې کاوه، ومې ليده چې يو سړی د طواف دعاګانو په ځای په هر قدم درود شريف وايي بل کوم تسبيح او تحليل نه وايي. نو د تعارف لپاره ورغلم ما ورتـه وويـل : تـه څوک يې؟ او د دې څه وجه ده چې تـه يـوازې درود شريف وايې؟ هغه وويـل : زما پلار چې وفات شو په خوب کې مې وليده چې غمگين و، دلته يو بل نابلده

---

[121]. والضحی / ۴.

[122]

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ډېر صاف او ستره لباس والا سړی مې ولیده چې خوشبویي ورنه تله هغه راغی لاس یې پرې کش کړ او زما پلار تک سپین شو، ما پوښتنه ترې وکړه چې ته څوک یې؟ ده وفرمایل: زه محمد بن عبدالله یم چې قرآن را باندې نازل شوی دی. راغلم چې دغه سړی یعنې ستا پلار په ما درود او سلام ډېر وایه نو اوس ما په ده لاس راښکه ګناهونه یې معاف شول عمګیني یې ختمه شوه، له دې کبله زه هم په هر قدم درود وایم او له هر څه درود ویل غوره ګڼم[۱۲۳] له پورتنی قصې څرګندیږي چې خدای تعالی حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم د دنیا او د اخرت د پریشانیو لرې کوونکی ګرځولی دی، او امام البصري رحمة الله علیه فرمایلي:

د عا

یـــامن یجیــب دعــا المضـــطر فـــی الظلـــم
یـــا کاشـــف الضــــر والبلــــوی الســـقم
شـــفع لبیـــــک فـــــی ذلـــــی و مســــکنتی
واســــــتر فانـــــک ذو فضـــــل و ذو کـــــرم

یعنې ای پاکه ذاته چې د کړاو په وخت د پرېشانه دعا قبلوې، ای د مضرتونو او بلاګانو ذایله کوونکیه، د خپل نبي په شفاعت زما ذلت او عاجزي ومنه او زما ګناهونه پرده کړه.[۱۲۴]

## د فکر او عمل بلنه:

پورتني دوه نعتونه د دوه بېلو بېلو اشخاصو له خوا د یا رسول الله صلی الله علیه وسلم او د شفیع العباد صلی الله علیه وسلم په الفاظو راغلی او همدارنګه د حضرت سفیان ثوري د واقعې په بیان کې چې کوم الفاظ راغلي تش په نوم موحدینو خوښ نه دي او د سترو اشخاصو چې دغه

---

[۱۲۳]. تبلیغي نصاب، باب فضائل درود – له مولانا محمد زکریا.
[۱۲۴]. تبلیغي نصاب، باب فضائل درود – له مولانا زکریا.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الفاظ استعمال کړي دي او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې خپلې عقیدې په دغه ډول وړاندې کړې دي ... که دا ټول الفاظ شرک یا د شرک باعث وای د هغوی په شرک او کفر به یې فتوی ورکړې وای بل دا چې که دا شرک وای د هر چا لپاره شرک دی او که شرک نه وي نو هر څوک دې د مصطفی صلی الله علیه وسلم په ښه او غوښتنه کې باانصافه وي، پاسنۍ دوه قصیدې د دې عقیدې شاهدي ورکوي چې د دواړو جهانو سردار په دنیا او اخرت کې د مؤمنانو د پناه ځای دی.

## مافوق الاسباب کړنې او د نبوت مقام:

څرګند حقیقت دی چې د انبیاوو کرامو علیهم السلام منصب له عوام الناسو تمایز او لوړ دی د هر وقت له مقتضیاتو سره یې سم هر نبي ته علمي صلاحیت، اختیارات او کمالات ورکړي دي، د ټولو انبیاوو کرامو د حیثیت برابرې په دې معنی چې ټول مخلوق د خالق خدای تعالی دی چې یو او لا شریک باقي او تل دی خو مخلوق د مؤمن او کافر په اعتبار توپیر لري، د ایمان لرونکو یعنې مؤمنانو د فرقو بیان خدای تعالی په قرآن کریم کې داسې فرمایلي دي:

[ثُمَّ أَوْرَثْنَا الْكِتَابَ الَّذِينَ اصْطَفَيْنَا مِنْ عِبَادِنَا فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ لِنَفْسِهِ وَمِنْهُمْ مُقْتَصِدٌ وَمِنْهُمْ سَابِقٌ بِالْخَيْرَاتِ بِإِذْنِ اللَّهِ ذَلِكَ هُوَ الْفَضْلُ الْكَبِيرُ] [۱۲۵] ژباړه: بیا موو وارث وګرځول (او ورمو کړ دا) کتاب (قرآن) هغه کسانو ته چې غوره کړی مو دي له بنده ګانو خپلو (چې دغه محمدي امت دی) پس ځینې له دوی ظالم دي پر خپل ځان او ځینې له دوی په منځ د لارې کې برابر تلونکي دي او ځینې له دوی وړومبي کیدونکي دي خیراتو نیکیو ته په اذن حکم د الله دغه (خیرات او غوره کول هم دغه) یو فضل دی ډېر لوی.

---

[۱۲۵]. فاطر / ۳۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې مبارک ايت کې د مؤمن درې درجې ښودل شوي دي. يوه ظالمه بله ميانه او دريمه چې له نورو په نيکيو کې مخکښوالی کوي، دا وېش د هر چا د عمل په تناسب د خدای تعالی د عدل په مقتضی شوی دی، خو د نيکيو مسابقه کوونکو ته الله تعالی (رضي الله عنهم و رضو عنه) فرمايلي دي چې د خدای تعالی رضائيت له دوی او د دوی رضائيت له خدای تعالی څرګند ثابت شوی دی نو د رسول الله صلی الله عليه وسلم درجه چې له ټولو انبياوو جن اوانس او ټولو فرښتو غوره دی پر ټولو لوړه ده نو هر چا ته د ده د درجې په اندازه علم او اختيار ورکړی شوی او رسول الله صلی الله عليه وسلم ته تر ټولو زيات د علم او اختيار برخه ورکړ شوې ده لکه چې الله تعالی فرمايلي دي: [تِلْكَ الرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ...][۱۲۶]

ژباړه: دا ټول رسولان (چې له ادم تر محمده پورې ياد شول) فضيلت ورکړی دی مونږ ځينې د دوی ته په ځينو نورو.

نو د دوی د معجزو سلسله د دوی د لوړې درجې سره سم ورکړ شوې علم او اختيار په مقتضی منځته راغلی دی.

## د عيسی عليه السلام کمالونه او شرک کاري:

نبي عليه السلام ته چې الله تعالی د هغه وخت له ټولو کمالو، لوړې معجزې ورکړې وې په قرآن کريم کې يې داسې بيان کړي دي.

[... أَنِّي أَخْلُقُ لَكُمْ مِنَ الطِّينِ كَهَيْئَةِ الطَّيْرِ فَأَنْفُخُ فِيهِ فَيَكُونُ طَيْراً بِإِذْنِ اللَّهِ وَأُبْرِئُ الأَكْمَهَ وَالأَبْرَصَ وَأُحْيِ الْمَوْتَى بِإِذْنِ اللَّهِ وَأُنَبِّئُكُمْ بِمَا تَأْكُلُونَ وَمَا تَدَّخِرُونَ فِي بُيُوتِكُمْ إِنَّ فِي ذَلِكَ لآيَةً لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ][۱۲۷]

ژباړه: ببشکه زه جوړوم تاسې ته (ای بني اسرائيلو) له خټو ځنې په شان د شکل د مرغه نو يو کوم په دې (شکل) کې نو کېږي (هغه شکل، مرغه (الوتونکی) په اذن (حکم) د الله سره او روغوم مورزادي (پيدايشي) ړوند

---

[۱۲۶]. البقره / ۲۵۳.

[۱۲۷]. آل عمران / ۴۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او پیس (برګ) او ژوندي کوم مړي په اذن (حکم) د الله سره، او خبروم زه تاسې په هغه شي چې تاسې (يې) خورئ او (خبروم زه تاسې) په هغه شي چې تاسې (يې) ساتئ په کووو نو خپلو کې بېشکه په دې (معجزو) کې هرو مرو (خامخا) (پوره) نښانه ده تاسې ته که يې تاسې مؤمنان (يقين لرونکي زما په نبوت)

په دې مبارک ايت کې د عيسی عليه السلام پنځه کمالات ښودل شوي دي
:

۱_ له خټو به يې د مرغيو صورتونه جوړول هغو کې به يې پو کول او هغه به الوتل.

۲_ مورزادي ړوند به بينا کيده.

۳_ د پيس لا علاج ناروغ به جوړيده.

۴_ مړی به ژوندی کيده.

۵_ له غيبو به يې خبره بيانوله.

دا ټول امور ظاهراً ناممکن دي خو عيسی عليه السلام ځانته منسوب کړي، چې :

د مرغۍ د خټو صورت ژوندی کوم، ړوند جوړوم، لا علاج ناروغ (پيس ته شفا ورکوم) مړی ژوندی کوم، له غيبو خبر ورکوم. په پای کې يې ورسره ويلي دي چې (باذن الله) يعني بېشکه دغه کارونه د انسان له طاقت وتلي دي خو د الله تعالی په اذن عيسی عليه السلام نه يې کېدل په قرآن ثابت دي، نو حقيقت دادی، چې داسې کارونه غير له خدای تعالی بل څوک نه شي کولای خو چې د الله تعالی اذن ورته وشي بيا کوم مشکل نه لري، عيسی عليه السلام خپلې دغه معجزې اعلان کړې او په هغو يې د شکر ادا کولو سربېره (باذن الله) ويلي او د خدای تعالی په حکم هر کار له هر چا صادرېدلای شي، بي بي مريمې ته جبرائيل عليه السلام په ګريوان کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورپو کړل زوی یې عیسی علیه السلام پیدا شو او عیسی علیه السلام په زانګو کې خبرې کولې چې د خپلې مور برائت یې بیاناو.

## من دون الله او د شرک تصور :

امام راغب اصفهاني رحمة الله د من دون الله د لغوي معنی په حقله ویلي دي : دون : یقال للقاصر عن الشیء، دون یعنې که یو څیز له بل څیز کم یا حقیر وي هغه ته (دون) ویل کیږي.[128]

د (دون) بله معنی داسې شوې ده : دون : حال القوم دون فلان یعنی له قوم سره حائل، فاصله پیدا شوې ده، غیر له فلاني

### په قرآن کریم کې د دون لفظ استعمال :

په قرآن کریم کې د (دون) لفظ په دغو معانیو راغلی دی : حقیر، شړلی، کمتر، سواء یا غیر، علاوه .... او نور لکه :

۱ـ [شهداءکم من دون الله] په دې مبارک ایت کې :

[وَإِنْ كُنتُمْ فِي رَيْبٍ مِمَّا نَزَّلْنَا عَلَى عَبْدِنَا فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِنْ مِثْلِهِ وَادْعُوا شُهَدَاءَكُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ إِنْ كُنتُمْ صَادِقِينَ]

ژباړه : ووایه (ای محمده دوی ته) که چېرې وی تاسې ته دار اخرنی په نزد دالله په خلوص (او خلوص سره یوازې) بې له (نورو) خلقو نو هیله (تمنا) وکړئ د مرګ که چیرې یئ تاسې صادقان (په دعوی د خالصوالي د جنت کې خپلو ځانو ته).

۳ـ اولیاء من دون الله : په دې مبارک ایت کې :

[فَرِيقاً هَدَى وَفَرِيقاً حَقَّ عَلَيْهِمْ الضَّلالَةُ إِنَّهُمْ اتَّخَذُوا الشَّيَاطِينَ أَوْلِيَاءَ مِنْ دُونِ اللَّهِ وَيَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ مُهْتَدُونَ] [129]

---

۱۲۸. المنجد.

۱۲۹. الاعراف / ۳۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه: يوې ډلې ته هدايت وکړ (الله په توفيق د ايمان سره) او هدايت يې نه دی کړی بلې ډلې ته چې مقرره شوې ده پر دوی گمراهي، بېشکه چې دوی نيولي دي شيطانان دوستان (خپل معبودان) بې له الله څنې او گمان کوي دوی چې بېشکه همدوی هدايت موندونکي دي (سمې صافې لارې ته او واقع کې داسې نه ده)

دې مبارک ايت کې د انسانانو دوه ډلې مسلم او غير مسلم ذکر شوي دي مؤمنانو هدايت موندلی او کافران او مشرکان گمراه شوي دي او فرمايلي يې دي چې د کافرانو دوست شيطان دی او شيطان يې من دون الله نيولی دی.

۴_ اولياء من دون المؤمنين:

[لا يَتَّخِذْ الْمُؤْمِنُونَ الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاءَ مِنْ دُونِ الْمُؤْمِنِينَ وَمَنْ يَفْعَلْ ذَلِكَ فَلَيْسَ مِنْ اللَّهِ فِي شَيْءٍ إِلاَّ أَنْ تَتَّقُوا مِنْهُمْ تُقَاةً وَيُحَذِّرُكُمْ اللَّهُ نَفْسَهُ وَإِلَى اللَّهِ الْمَصِيرُ][۱۳۰]

ژباړه: نه دې نيسي مؤمنان کافران دوستان بې له مؤمنانو (يعنې مؤمنان دې يو له بله سره دوستي وکړي) او هر څوک چې وکړي دا (کار يعنې دوستي له کفارو سره) نو نه دی (د ده تعلق) له (دين د الله د دوستۍ د) الله سره په هيڅ شي کې مگر (خوروا ده دغه دوستي) که ځان ساتئ تاسې له دوی نه په ځان ساتنه سره او الله تاسې د خپل نفس له عذاب نه وېروي او ستاسې د ټولو ورتلل (خاص) طرف د الله ته دی.

[اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَاباً مِنْ دُونِ اللَّهِ وَالْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ وَمَا أُمِرُوا إِلاَّ لِيَعْبُدُوا إِلَهاً وَاحِداً لا إِلَهَ إِلاَّ هُوَ سُبْحَانَهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ][۱۳۱]

ژباړه: نيولي دي دغو (کتابيانو) عالمان خپل او عابدان خپل خدايان بې له الله ((چې متابعت يې کوي په تحليل او تحريم کې) او مسيح زوی د مريمې (هم په خدايۍ نيسي چې د الله زوی يې بولي) حال دا چې امر (حکم) نه دی

---

[۱۳۰]. ال عمران/ ۲۸.

[۱۳۱]. التوبه/ ۳۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوی دوی ته (په توریت او انجیل کې) مگر د دې چې عبادت وکړي دوی د یوه معبود چې نشته هیڅ برحق معبود مگر خو همدی دی پاکي ده الله لره له هغه شي نه چې دوی یې له الله سره) شریک کوي.

په دې مبارک ایت کې د اهل کتاب عقیده څرګنده شوې چې پرته له الله تعالی معبود نشته، عیسی علیه السلام او د هغه مور بي بي مریم سلام الله علیهما باندې یې چې د الهین من دون الله عقیده لرله د هغوی د اربابیت او الوهیت نفي په اربابا من دون الله یعنې الهین من دون الله سره وشوه.

۲_ من دون النساء :

[إِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ الرِّجَالَ شَهْوَةً مِنْ دُونِ النِّسَاءِ بَلْ أَنْتُمْ قَوْمٌ مُسْرِفُونَ][۱۳۲]

ژباړه : بېشکه تاسې خامخا راځئ سړیو ته د پاره (د قضاء) د شهوت په دې حال کې چې تجاوز کوونکي یې له (خپلو) ښځو (نو نه یې په حقه لاره) دا لا څه بلکې یئ تاسې یو قوم اسراف کوونکی (له شرعي حده تېرېدونکی په هر شي کې)

په دې مبارک ایت کې د لوط علیه السلام د قوم حال بیان شوی چې د نفس تسکین به یې د ښځو په ځای له نارینه وو سره کاو، نو الله تعالی په من دون النساء سره د دوی دغه عمل خلاف د فطرت معرفي کړ.

## ۷_ من دون ذلک :

[بَلْ قُلُوبُهُمْ فِي غَمْرَةٍ مِنْ هَذَا وَلَهُمْ أَعْمَالٌ مِنْ دُونِ ذَلِكَ هُمْ لَهَا عَامِلُونَ][۱۳۳]

ژباړه : بلکې زړونه د دغو (کفارو) په غفلت کې دي له دغه (قرآنه یا د صلحاوو له اعمالو) او شته دوی ته عملونه (ناپاکه او کارونه بېباکه) غیر له دې (شرکه د دوی) چې دوی د هغو عملونو کوونکي دي (نو جزاء به یې بیا مومي) او هم دوی به داسې په غفلت او معصیت کې مشغول او سېږي).

[۱۳۲]. الاعراف / ۸۱.

[۱۳۳]. المؤمنون / ۳۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸_ منا دون ذلک :

[وَأَنَّا مِنَّا الصَّالِحُونَ وَمِنَّا دُونَ ذَلِكَ كُنَّا طَرَائِقَ قِدَداً] [۱۳٤]

ژباړه : او بېشکه مونږ چې یو ځینې له مونږ څخه نیکان دي (پس له اوریدلو د قرآن) او ځینې له مونږ غیر له دوی دي وو مونږ ناست پر لارو مختلفو (د ادیانو).

پېریان د نیکۍ او بدۍ له مخې دوه ډلې دي چې د دوهمې ډلې ته یې د (دون) لفظ استعمال شوی دی.

۹_ ما دون ذلک :

[إِنَّ اللَّهَ لا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ وَمَنْ يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدْ افْتَرَى إِثْماً عَظِيماً] [۱۳٥]

ژباړه : بېشکه چې الله نه بښي دا چې شریک ونیولی شي (الله سره او بښي هغه ګناه) چې ښکته وي له شرکه (لویه وي که وړه) هغه چا ته چې اراده وفرمایي (د مغفرت یې) او هر هغه څوک چې شریک ونیسي له الله سره نو په تحقیق ویې تړل (په الله) دروغ لوی (او ویې کړه) ګناه ډېره لویه.

او په دې مبارک ایت کې چې له شرک پرته د نورو ګناهو د عفوې وعده شوې او هغه په (مادون ذلک) فرمایلې داسې چې :

[وَقَطَّعْنَاهُمْ فِي الأَرْضِ أُمَماً مِنْهُمْ الصَّالِحُونَ وَمِنْهُمْ دُونَ ذَلِكَ وَبَلَوْنَاهُمْ بِالْحَسَنَاتِ وَالسَّيِّئَاتِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ] [۱۳٦]

ژباړه : او متفرق کړل مونږ دوی په ځمکه کې فرقې فرقې (چې هیڅ ملک ترې خالي نه دی) ځینې له دوی ځنې نیکان دي او ځینې له دوی څخه راښکته دي له دې (مرتبې د صلاح) او وازمویل مونږ دوی په نیکیو

---

۱۳۴. الجن / ۱۱.

۱۳۵. النساء / ۴۸.

۱۳۶. الاعراف / ۱۶۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(نعمتونو کې لکه صحت، غنا) او په بدیو (زحمتونو لکه مرض فقر) ښایي چې دوی وګرځي (الله ته).

۱۰_ یعلمون من دون الله :

[وَلا تَسُبُّوا الَّذِينَ يَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ فَيَسُبُّوا اللَّهَ عَدْواً بِغَيْرِ عِلْمٍ كَذَلِكَ زَيَّنَّا لِكُلِّ أُمَّةٍ عَمَلَهُمْ ثُمَّ إِلَى رَبِّهِمْ مَرْجِعُهُمْ فَيُنَبِّئُهُمْ بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ][۱۳۷]

ژباړه : او ښکنځل مه کوئ (ای مؤمنانو) هغو (معبودانو) ته چې عبادت کوي دغه (کفار د هغو) بې له الله نو کنځل به وکړي دوی (هم) الله ته په ناحقه سره بې له پوهې (له خپل جهالته) په شان د دغه (ښایست د عبادت د بتانو دوی ته) ښایسته کړی مونږ هر امت (فرقې) ته عمل د دوی (نیک وي که بد) بیا رب د دوی ته د دوی ورتګ دی (په اخرت کې) پس خبر به کړي (الله) دوی په هغه شي چې وو دوی چې کاوه به یې (په دنیا کې نو په جزا به یې رسوي).

۱۱_ دون الجهر من القول :

[وَاذْكُرْ رَبَّكَ فِي نَفْسِكَ تَضَرُّعاً وَخِيفَةً وَدُونَ الْجَهْرِ مِنَ الْقَوْلِ بِالْغُدُوِّ وَالآصَالِ وَلا تَكُنْ مِنَ الْغَافِلِينَ]

ژباړه : او یادوه ته (ای بنده!) رب خپل په زړه خپل کې په زارۍ او وېرې سره او کم له هسکه (اوچته) غږه له وینا په ړومبنیو برخو د سبا کې او په وروستنیو برخو د بیګا کې او مه کېږه (ای زما بنده) له غافلانو (بې خبرانو).

۱۲_ عذابا دون ذلک :

[وَإِنَّ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا عَذَاباً دُونَ ذَلِكَ وَلَكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لا يَعْلَمُونَ][۱۳۸]

---

[۱۳۷]. الانعام / ۱۰۸.

[۱۳۸]. الطور / ۴۷.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه: او بېشکه هغو کسانو لره چې ظلم یې کړی (کافران شوي) دی (اخروي) عذاب دی بې له دې (دنیوي) عذابه و لیکن زیاتره د دوی نه پوهیږي (نو ځکه مخ گرځوي له ایمانه).

## ۱۳_ بطانة من دونكم:

[يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تَتَّخِذُوا بِطَانَةً مِنْ دُونِكُمْ لا يَأْلُونَكُمْ خَبَالاً وَدُّوا مَا عَنِتُّمْ قَدْ بَدَتْ الْبَغْضَاءُ مِنْ أَفْوَاهِهِمْ وَمَا تُخْفِي صُدُورُهُمْ أَكْبَرُ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمْ الآيَاتِ إِنْ كُنْتُمْ تَعْقِلُونَ] [١٣٩]

ژباړه: ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (ای مؤمنانو) مه نیسئ تاسې دوستان د راز (له هیڅ فرقې نه چې وي) غیر له تاسې (مؤمنانو) هیڅ کمی نه کوي. دوی له تاسو سره د فساد (او ضرر رسولو) دوست گڼي دوی ضرر ستاسې په تحقیق ښکاره شوی دی بغض او دښمني له خولو د دوی نه او هغه بغض چې پټوي یې سینې (زړونه) د دوی ډېر لوی دی (له هغه چې په خوله یې وایي) په تحقیق بیان کړي دي مونږ تاسې ته علامې (د نفاق د دوی) که یې تاسې چې عقل چلوئ په کې (پوهیږئ).

## ۱۴_ مِنْ دُونِهَا سِتْراً:

[حَتَّى إِذَا بَلَغَ مَطْلِعَ الشَّمْسِ وَجَدَهَا تَطْلُعُ عَلَى قَوْمٍ لَمْ نَجْعَلْ لَهُمْ مِنْ دُونِهَا سِتْراً] [١٤٠]

ژباړه: تر هغه پورې کله چې ورسید ځای د راختلو د لمر ته نو ویې موند هغه (لمر) چې راخوت په یوه قدم باندې چې نه وه گرځولي مونږ دوی ته له لاندې د دې (لمر) کومه پرده.

## ۱۵_ مِنْ دُونِهِمَا قَوْماً:

[حَتَّى إِذَا بَلَغَ بَيْنَ السَّدَّيْنِ وَجَدَ مِنْ دُونِهِمَا قَوْماً لا يَكَادُونَ يَفْقَهُونَ قَـوْلاً] [١٤١] ژباړه: تر هغه پورې کله چې ورسید منځ د دواړو غرونو ته نو ویې موند وړاندې د

---

[١٣٩]. آل عمران / ١١٨.
[١٤٠]. الكهف / ٩٠.
[١٤١]. الكهف / ٩٣.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغو دوارو (غرونو) داسې قوم چې نه و نږدې (اکثر د دوی) چې وپوهېږي په خبره (د ذوالقرنين) باندې.

١٦ ـ مِنْ دُونِهِمْ حِجَاباً :

[فَاتَّخَذَتْ مِنْ دُونِهِمْ حِجَاباً فَأَرْسَلْنَا إِلَيْهَا رُوحَنَا فَتَمَثَّلَ لَهَا بَشَراً سَوِيّاً] ١٤٢

ژباړه : پس ونيوله له طرفه د دوی پرده (لپاره د غسل د حيض) نو ولېږه مونږ د بنه (پس له غسل او اغوستلو د جامو) روح خپل پس شکل خپل يې جوړ کړ دې ته د سړي کامل (تام الخلقه دوراني ځلمی).

١٧ ـ مِنْ دُونِهِمْ امْرَأَتَيْنِ :

[وَلَمَّا وَرَدَ مَاءَ مَدْيَنَ وَجَدَ عَلَيْهِ أُمَّةً مِنْ النَّاسِ يَسْقُونَ وَوَجَدَ مِنْ دُونِهِمْ امْرَأَتَيْنِ تَذُودَانِ قَالَ مَا خَطْبُكُمَا قَالَتَا لا نَسْقِي حَتَّى يُصْدِرَ الرِّعَاءُ وَأَبُونَا شَيْخٌ كَبِيرٌ] ١٤٣

ژباړه : او کله چې ورسېد (موسی) اوبو د مدين ته ويې مونده پر هغه (د کوهي) يوه ډله له خلقو چې اوبه يې ورکولې (مواشيو خپلو ته) او ويې موندلې رابېرته له دوی څخه دوه ښځې چې رامنع کولې به يې ګډې خپلې (له اوبو نه) وويل (موسی دغو ښځو ته) چې څه دی حال ستاسې (چې منع کوئ له اوبو ګډې خپلې) وويل هغو (دوارو) چې اوبه نه ورکوو مونږ (ګډو خپلو ته) څو بېرته لاړ شي (دغه) شپانه او پلار زمونږ زوړ (د ډېرو کلونو سړی) دی چې کار يې له لاسه نه کيږي.

١٨ ـ وَمِنْ دُونِهِمَا :

[وَمِنْ دُونِهِمَا جَنَّتَانِ. فَبِأَيِّ آلاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ] ١٤٤

ژباړه : او بې له دغو (دوو جنتونو) دوه جنتونه نور هم دي نو په کوم يوه نعمت د نعمتونو د رب د تاسې دروغ وايئ (او منکريږئ ترې ای انسانانو او پېريانو بلکې نه شئ کيدای).

---

١٤٢. مريم / ١٧.

١٤٣. القصص / ١٢٣.

١٤٤. الرحمن/ ٦٢.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له پورتنيو ذکر شويو مبارکو اياتو معلومه شوه چې د (دون) لفظ په هر ځای کې خپله مناسبه معنا او مفهوم لري او په هر ځای کې د هغه مقام له مقتضی سره يې سمه ترجمه کيږي، څرنگه چې قرآن کريم د هدايت کتاب دی د يوه يوه لفظ يې څه چې يو يو حرف يې منزل من الله ديله هر شک او شبه مبراء دی، په اياتو کې يې هيڅ ترديد نشته، بلکې تفسير يې بيان کړی. که د (من دون الله) يعنې ټولو ځايو کې يو ډول وای بيا به ځينې اياتونه نفي کيدل نو چې ټول حقايق په پام کې ونيول شي او په (من دون الله) غور وشي لاندې معنا ګانې يې واضحه کيږي:

۱_ من دون الله يعنې غير له الله تعالی يا علاوه.

۲_ من دون الله يعنې د الله په مقابل کې.

۳_ من دون الله يعنې الله تعالی پريږدئ.

د عبادت په ځای کې د (من دون الله) معنا دا ده چې غير له الله تعالی د بل چا عبادت جواز نه لري او د تحليق په مقام کې الله تعالی فرمايلي دي: [قُلْ أَرَأَيْتُمْ شُرَكَاءَكُمُ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ أَرُونِي مَاذَا خَلَقُوا مِنَ الأَرْضِ أَمْ لَهُمْ شِرْكٌ فِي السَّمَوَاتِ ...] [۱۴۵]

ژباړه: ووايه (ای محمده! دوی ته) اياوينئ تاسې شريکان ستاسې هغه چې بلل به مو (او عبادت به مو کاوه د دوی) غير له الله روښيئ ما ته چې کوم څيز يې پيدا کړی دی (دغو معبودانو ستاسې) له ځمکې څخه او که شته دوی ته (لوی قسم) شريکوالی په (پيدا ښت د) اسمانونو کې.

بل ځای کې يې فرمايلي دي:

[فَلا أَعْبُدُ الَّذِينَ تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ وَلَكِنْ أَعْبُدُ....الايه] [۱۴۶]

---

[۱۴۵]. الفاطر / ۴۰.

[۱۴۶]. يونس / ۱۰۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه : نو (بې دره کارم چې) عبادت نه کوم زه د هغو (بتانو او نورو) چې عبادت (يې) کوئ تاسې غير له الله څخه و ليکن عبادت کوم زه د الله د هغه چې ...) او فرمايلي يې دي :

[وَادْعُوا شُهَدَاءَكُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ] ۱۴۷

ژباړه : او راوبولئ (ای مشرکانو) مددگاران خپل يې له الله څخه که يئ تاسې رښتيا ويونکي (په دې دعوی کې چې دا د انسان کلام دی).

په دې ټولو اياتو کې په (من دون الله) کې (دون) معنی سوی او غير ده چې غير له ده جل جلاله د بل چا عبادت مه کوئ او غير له عبادت په نورو ځايو کې د (من دون الله) څنې د (دون) لفظ د مقابل معنی ورکوي : لکه چې الله تعالی فرمايلي دي :

[فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فَيُوَفِّيهِمْ أُجُورَهُمْ وَيَزِيدُهُمْ مِنْ فَضْلِهِ وَأَمَّا الَّذِينَ اسْتَنكَفُوا وَاسْتَكْبَرُوا فَيُعَذِّبُهُمْ عَذَاباً أَلِيماً وَلا يَجِدُونَ لَهُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ وَلِيّاً وَلا نَصِيراً] ۱۴۸

ژباړه : پس هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی او کړي يې دي ښه (عملونه پس پوره به ورکړي (الله) دوی ته اجرونه د دوی (چې وعده يې ورسره کړې شوې وه) او زيات به (هم) ورکړي دوی ته له مهربانۍ خپلې او هغه کسان چې ننگ (او عار) يې کړی وي او تکبر (لويي) يې کړې وي (د الله له عبادت څخه) نو عذاب به ورکړي دوی ته (الله) عذاب دردناک او نه به مومي دوی ځان ته بې له الله هيڅ دوست (نافع په افاتو کې) او نه هيڅ مددگار (دافع د عذاب).

بل ځای کې رب العزت فرمايلي دي :

[وَآتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ وَجَعَلْنَاهُ هُدًى لِبَنِي إِسْرَائِيلَ أَلاَّ تَتَّخِذُوا مِنْ دُونِي وَكِيلاً] ۱۴۹

---

۱۴۷. البقره / ۲۳

۱۴۸. النساء / ۱۷۲.

۱۴۹. بني اسرائيل / ۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه: او ورکړی و مونږ موسی ته کتاب (تورات) او گرځولی و مونږ هغه (کتاب) هدایت لپاره د بني اسرائیلو (اولادې د یعقوب) چې مه نیسئ تاسې غیر له ما څخه هیڅ وکیل (دوست متولي جوړوونکی د کارونو خپلو).

## د شفاعت په برخه کې یې فرمایلي دي:

[أَمْ اتَّخَذُوا مِنْ دُونِ اللَّهِ شُفَعَاءَ قُلْ أَوَلَوْ كَانُوا لا يَمْلِكُونَ شَيْئاً وَلا يَعْقِلُونَ] [150]

ژباړه: ایا نیولی دي دغو (مشرکانو) غیر له الله شفاعتگران (بتان چې زاري وکړي الله ته) وو ایه (ای محمده دوی ته) ایا اگر که وي دوی په داسې حال کې چې مالکان نه وي د هیڅ شي او نه عقل لري (دوی چې ستاسې عبادت ورته معلوم شي ځکه چې جمادات وي).

بل ځای یې له کافرانو سره د دوستۍ په برخه کې فرمایلي دي:

[لا يَتَّخِذْ الْمُؤْمِنُونَ الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاءَ مِنْ دُونِ الْمُؤْمِنِينَ ...الایه] [151]

ژباړه: نه دې نیسي مؤمنان کافران دوستان بې له مؤمنانو (یعنې مؤمنان دې یو له بله سره دوستي وکړي)

الله تعالی شیطان سره دوستي کول داسې منع کړې ده:

[وَمَنْ يَتَّخِذْ الشَّيْطَانَ وَلِيّاً مِنْ دُونِ اللَّهِ فَقَدْ خَسِرَ خُسْرَاناً مُبِيناً] [152]

ژباړه: او هر څوک چې ونیسي شیطان دوست بې له الله نو په تحقیق زیان یې وکړ زیان ښکاره.

کفارو سره یې مدد کاري نفي کړې داسې یې فرمایلي دي:

[أُولَئِكَ لَمْ يَكُونُوا مُعْجِزِينَ فِي الْأَرْضِ وَمَا كَانَ لَهُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ مِنْ أَوْلِيَاءَ يُضَاعَفُ لَهُمُ الْعَذَابُ مَا كَانُوا يَسْتَطِيعُونَ السَّمْعَ وَمَا كَانُوا يُبْصِرُونَ] [153]

---

150. الزمر / ۴۳.
151. ال عمران / ۲۸.
152. النساء / ۱۱۹.
153. هود / ۲۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه : دا کفار نه دي دوی عاجزي کوونکي (د الله) په ځمکه (دنیا کې په تېښته سره) او نه وي دوی ته غیر له الله هیڅ دوستان (چې عذاب ترې دفع کړي که اراده وفرمايي بلکې) دوچند به کړی شي دوی ته عذاب، نه وو دوی چې طاقت يې وی د اورېدلو (د حق د زړه له کوښوالي) او نه وو دوی چې لیدلي يې وی (دلایل د قدرت د زړه د ړوندوالي).

دې ټولو ځایونو کې د (من دون الله) ژباړه د الله تعالی مقابل د الله تعالی ترکول او پرېښودلو باندې کېږي له کفارو او مشرکینو هر ډول نفرت، شفاعت او کار جوړول نفي کېږي چې د اهل ایمان (مؤمنانو) معامله ترې بالکل مخالفه ده نو له اهل ایمان ځنې د نصرت او شفاعت نفي نه ده شوې (چې مقصل بحث به يې وروسته راشي) غټه تېروتنه دا ده چې : اکثره ژباړند دغو اصولو مراعات نه کوي او د من دون الله ژباړه د هر محل له مقتضا سره سمه نه کوي، داسې مترجم یا مفسر د شدت پسندۍ ښکار کېږي، قرآن او حدیث د دین په عالم کې یو ستر امتیاز لري، خو د هغو د لوستونکو د محدودې مطالعې له امله له یوې ترجمې یا یوه تفسیر نه استفاده کوي، په یوه دایره کې بند پاتې وي، بیا د گمراهۍ طعنه لگوي، له دې امله ضرور ده چې عوام الناسو ته تحقیقات وړاندې شي چې په تحریر او تقریر کې له افراط او تفریط په کلي ډول ژغورنه وشي.

د شفاعت عقیده او من دون الله :

شفاعت (سپارښت) او د چا د مغفرت غوښتنه دنیا او اخرت کې له نبي، ولي یا بل د خدای تعالی دربار کې مقبول شخص نه د قرآن کریم په ډېرو مبارکو ایاتو کې ذکر شوي دي، نو کومو ایاتو کې چې د شفاعت نفي راغلې مراد ترې کافران او مشرکان دي، د مؤمنانو په برخه کې شفاعت حق او ثابت دیلکه چې فرمایلي يې دي :

www.melltahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

[وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ يُبْلِسُ الْمُجْرِمُونَ (١٢) وَلَمْ يَكُنْ لَهُمْ مِنْ شُرَكَائِهِمْ شُفَعَاءُ وَكَانُوا بِشُرَكَائِهِمْ كَافِرِينَ (١٣) وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ يَوْمَئِذٍ يَتَفَرَّقُونَ (١۴)][١۵۴]

ژباړه: او په هغه ورځ چې قيامت قايم شي نااميده (زړه ماتې) به شي ګنهګاران (مشركان) او نه به وي دوی ته له شريكانو د دوی څخه کوم شفاعت كوونكی او شي به دوی له شركيانو خپلو (يعنې له نااميدی) بېزاره منكران او په هغه ورځ چې ودرېږي قيامت په دغه ورځ كې تار په تارخپاره (خواره) به شي ګرد (ټول) مخلوقات (په دې شان سره).

په دې مبارک ايت كې د كفارو او مشركينو د معبودانو شفاعت نفي شوې او د دوی له معبودانو انكار د مشركينو بيان شوی دی. يعنې د قيامت په ورځ نه يوازې د مؤمنانو شفاعت كول كيږي، بلكې په خپله ځينې مؤمنان د الله تعاليپه اذن د نورو مؤمنانو شفاعت كوي او بې د الله تعالی له اذن شفاعت نه كيږي لكه چې فرمايلي يې دي:

[مَنْ ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلاَّ بِإِذْنِه ... الايه][١۵۵]

ژباړه: څوک به وي هغه چې سپارښت (سپارش) وكړي په نزد د ده؟ (هيڅوک يې نه شي كولای) مګر (خو كولی شي) په اذن (حكم) د ده سره.

او فرمايلي يې دي:

[لا يَمْلِكُونَ الشَّفَاعَةَ إِلاَّ مَنْ اتَّخَذَ عِنْدَ الرَّحْمَنِ عَهْداً][١۵۶]

ژباړه: نه مالكان كيږي (هيڅ يو د دوی) د شفاعت (د هيچا) مګر هغه څوک چې اخيستی يې ده په نزد د رحمن وعده (او په شفاعت مجاز وي).

[١۵۴]. الروم/ ١٢-١۴.
[١۵۵]. البقره/ ٢۵۵.
[١۵۶]. مريم/ ٨٧.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا او داسې نور ایاتونه چې د شفاعت نفي ښکاره کوي مراد یې بې د الله تعالی له اذن شفاعت نه کول دي لکن خدای تعالی د خپل فضل له مخې د شفاعت اجازه فرمايي لکه چې فرمايلي يې دي :

[قُلْ لِلَّهِ الشَّفَاعَةُ جَمِيعاً لَهُ مُلْكُ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ ثُمَّ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ][157]

ژباړه : ووايه (ای محمده! دوی ته) خاص الله ته (احتيار د) شفاعت دی ټول (او بل هیچا لره دخل نشته) خاص الله ته دی سلطنت د اسمانونو او د ځمکې بیا خاص همده ته بېرته بیول کيږي (لپاره د جزاء).

له دې مبارک ايت څرګندېږي چې د شفاعت اختيار له الله تعالی سره دی، د الله تعالی د رحيمی لړی روانه ده، له زرونو خطاګانو او بې شمېره ګناهو سره خدای تعالی انسان ته روزي او نور لوازمات ورکوي، د کرم دسترخوان يې فراخ دی نو د قيامت په ورځ چې ((لمن الملک اليوم)) سوال په ځواب کې وفرمايي ((لله الواحد القهار)) دې وخت کې به انسانان نبي صلی الله عليه وسلم ته فنا ورورېږي، د احاديثو په کتابو کې د شفاعت موضوع موجوده ده، چې انبياء عليهم السلام، صديقين، شهداء او صالحين د خپلو مرتبو مطابق شفاعت کوي، حجر اسود، صالحه اعمال، روزه، عبادت او د قران کريم تلاوت به د مسلمان شفاعت کوي، د الله تعالی د دې نعمت شکر لازم دی او کومو ځايو کې چې د شفاعت نفي شوې هلته ترې کافران او مشرکان مراد دی، د الهي دربار مقبولان ترې مراد ول سخته غلطي ده.

دوستي نصرت او (من دون الله) :

خدای تعالی په قرآن مجيد کې د کافرانو او مشرکانو د (من دون الله) دوستانو دوستي نفي کړې فرمايلي يې دي :

[فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فَيُوَفِّيهِمْ أُجُورَهُمْ وَيَزِيدُهُمْ مِنْ فَضْلِهِ وَأَمَّا الَّذِينَ اسْتَنكَفُوا وَاسْتَكْبَرُوا فَيُعَذِّبُهُمْ عَذَاباً أَلِيماً وَلا يَجِدُونَ لَهُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ وَلِيّاً وَلا نَصِيراً][158]

---

[157]. الزمر ۴۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه : پس هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او کړي یې دي ښه (عملونه) نو پوره به ورکړي (الله) دوی ته اجرونه د دوی (چې وعده یې ورسره کړې شوې وه) او زیات به (هم) ورکړي دوی ته له مهربانۍ خپلې او هغه کسان چې شک (او عار) یې کړی وي او تکبر (لویي) یې کړی وي (د الله له عبادت څخه) نو عذاب به ورکړي دوی ته (الله) عذاب دردناک او نه به مومي دوی ځان ته بې له الله هیڅ دوست (نافع په افاتو کې) او نه هیڅ مددګار (دافع د عذاب).

په دې مبارک ایت کې کفارو، مشرکینو او باغیانو سره هر ډول مرسته، مدد او دوستي نفي شوې ده :

[وَالَّذِينَ اتَّخَذُوا مِنْ دُونِهِ أَوْلِيَاءَ مَا نَعْبُدُهُمْ إِلاَّ لِيُقَرِّبُونَا إِلَى اللَّهِ زُلْفَى إِنَّ اللَّهَ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ فِي مَا هُمْ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ إِنَّ اللَّهَ لا يَهْدِي مَنْ هُوَ كَاذِبٌ كَفَّارٌ] [١٥٩]

ژباړه : او هغه کسان چې نیولي یې دي غیر له دغه (الله) څخه نور دوستان (وايي) نه کوو عبادت د دوی مګر لپاره د دې چې نږدې کړي دوی مونږ طرف د الله ته نږدې کول. ببشکه الله به فیصله (حکم) کوي په منځه د دوی کې په هغه څیز کې چې دوی په هغه سره اختلاف کوي، ببشکه الله نه ښیي سمه لاره د هدایت هغه چا ته چې دوی دروغجن وي ناشکره.

په دې مبارک ایت کې (من دون الله) اولیاء ذکر شوی دی په دې معنی چې مشرکانو به د غیر الله څیزونو عبادت کاو او زعم یې درلود چې په دې توګه به الله تعالی ته قرب پیدا کوي. الله تعالی د مشرکینو دغه له خپل ځانه جوړه کړې عقیده نفي کړه، نو په من دون الله کې د انبیاوو کرامو اولیاوو عظامو او د امت د نورو پاکانو شاملول لوی زیاتی دی چې په دې مورد کې الله تعالی فرمایلي دي :

[١٥٨]. النساء / ١٧٣.

[١٥٩]. الزمر / ٣.

(c) ketabton.com: The Digital Library

[وَمِنْ الأَعْرَابِ مَنْ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ وَيَتَّخِذُ مَا يُنفِقُ قُرُبَاتٍ عِنْدَ اللَّهِ وَصَلَوَاتِ الرَّسُولِ أَلا إِنَّهَا قُرْبَةٌ لَهُمْ سَيُدْخِلُهُمْ اللَّهُ فِي رَحْمَتِهِ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ] [١٦٠]

ژباړه : او ځيني له (صحرايي) اعرابو څخه هغه دي چي ايمان لرونکي دي په الله او په ورځې آخري (چي قيامت دی) او نيسي (ګڼي شميري) هغه شی چي لګوي (يې په لاره د الله کې) (اسباب) د نږدې والی په نزد د الله او (سبب د) دعاو د رسول د الله، خبردار شئ چي دغه (نفقات يا صلوت سبب د) نږدی والی دی دوی ته، ژر به الله داخل کړی دوی په رحمت خپل کې بېشکه چي الله ښه مغفرت کوونکی (د متصدقاتو) ډېر مهربان دی (پر متقربانو).

د خدای تعالی په لاره کې نفقه کول او د رسول الله صلی الله عليه وسلم دعا په اتفاق الله تعالی ته د قرب ذريعه ده، نو داسې نور مقبولين په دغه من دون الله کې شمار نه دي ځکه چي کافران او مشرکان چې باطلو معبودانو سره دوستي کوله د دغو باطلو معبودانو دوستي د قرب الهي ذريعه نه کيږي، بلکې د خدای تعالی د قهر او غضب سبب کيږي او د اهل ايمان په برخه کې الله تعالی فرمايلي دي :

[إِنَّمَا وَلِيُّكُمْ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَالَّذِينَ آمَنُوا الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلاةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَهُمْ رَاكِعُونَ] [١٦١]

ژباړه : بېشکه همدا خبره ده چي دوست ستاسې (خاص) الله او رسول د ده دی او هغه کسان دي چي مؤمنان دي (مؤمنان) هغه کسان دي چي قايموي (سم ادا کوي سره له ټولو حقوقو) لمونځ (يا) (صفت کوو د) هغو کسانو چي قايموي (سم ادا کوي سره له ټولو حقوقو) لمونځ او ورکوي دوی زکات او هم دوی رکوع (عاجزي) کوونکي دي (په لمونځ او زکات خپل کې) (يا) او ورکوي دوی زکوة (خيرات) حال د چي دوی په رکوع (د نفلي لمونځ) ولاړ وي اوس ښکاره شوه چي د مؤمنانو لپاره د دوی د ايمان لرلو له کبله الله

[١٦٠]. التوبه / ٩٩.
[١٦١]. المائده / ٥٥.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تعالی دوست او مددګار دی او حبیب الله صلی الله علیه وسلم یې دوست او مرستندوی دي او نور د ایمان څښتنان یې دوستان دي او هم یې د دوستۍ او مرستې نفع ورته رسیږي، اما کفار چې باطل معبودان په دوستۍ نیسي د هغوي د دوستۍ نفع نه ورته رسیږي او د دوی د کفر له امله د خدای تعالی یا د رسول الله صلی الله علیه وسلم یا د بل مؤمن او یا د بل څیز نفع او مرسته نه ورته رسیږي نو لافاني دوستي او تعلقات قرآن کریم کې داسې راغلي دي:

[الْأَخِلَّاءُ يَوْمَئِذٍ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ إِلَّا الْمُتَّقِينَ (٦٧) يَا عِبَادِ لَا خَوْفٌ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ وَلَا أَنْتُمْ تَحْزَنُونَ (٦٨) الَّذِينَ آمَنُوا بِآيَاتِنَا وَكَانُوا مُسْلِمِينَ (٦٩)][١٦٢]

ژباړه: یاران (دوستان د کفر او معصیت) په دنیا کې په دغې ورځ (د قیامت کې) ځینې د دوی له ځینو نورو سره به دښمنان وي مګر (پاتې به وي دوستي) د متقیانو، ای بندګانو زما هیڅ وېره پر تاسې نشته نن ورځ او نه به تاسې غمجن کیږي، هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی په ایاتونو زمونږ او وو دوی مسلمانان (په دنیا کې).

یعنې ایمان یو دولت دی چې دنیوي تعلقات له اخرت سره تړلي وي، چې د هغه ایمان له امله مؤمن ته په حشر کې د خدای تعالی نصرت رسیږي او د من دون الله یعنې مقابل د الله تعالی کې چا سره یا کوم څیز سره دوستۍ نه په دنیا کې نه په اخرت کې کوم حیثیت لري او له الله تعالی سره محبت قایمه ټینګه او نافعه ګټوره دوستي ده چې په قیامت کې یې هم مضبوطوالي کې توپیر نه راځي.

دا یو حقیقت دی چې د اوبو هر څاڅکی او د پاسنیو او ښکتنیو مخلوقاتو هره ذره د یوه نظر پابند دي او ټول کاینات له خپل خالق او مالک سره شریک نه نیسي او په نظر کې یې بغیر د خدای تعالی له حکم کوم تغییر او تبدیل نه راځي نو د دې فاني دنیا په ژوند کې او له دې دنیا له رخصتېدلو

---

[١٦٢]. الزخرف / ٢٧-٦٩.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته د ایمان والا وو مرکز خپله عقیده ده چې د باذن الله په قوت عزت مومي دوستي او نصرت ورته رسېږي.

یوه غلط فهمي :

[إِنَّ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ اللّهِ عِبَادٌ أَمْثَالُكُمْ فَادْعُوهُمْ فَلْيَسْتَجِيبُواْ لَكُمْ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ][123]

ژباړه : بېشکه هغه کسان چې عبادت کوئ تاسې (ای مشرکانو د دوی او بولئ یې) بې له الله مملوکان دي په شان ستاسې نو وبولئ تاسې دوی نو مني دوی (دغه طلب) ستاسې که یې تاسې صادقان (رښتیني په دغې دعوی کې چې دوی خدایان دي.

په دې مبارک ایت کې د (عباد امثالکم) په الفاظو کې ځینو خلکو نه غلط فهمي شوې ده. داسې چې : ځینې خلک وایي چې مراد ترې انبیاء او اولیا دي هغوی باید پوه شي که د قرآن کریم ترجمه او تفسیر کې سیاق او سباق په نظر کې ونیول شي خرابي ترې پیدا کیږي، نو یاد ولرئ چې عباد: د عبد ، جمع ده او قرآن مجید کې د مختلفو معانیو لپاره راغلی دی، ځینې ځایونو کې د غلام په معنی راغلی لکه دې مبارک ایت کې چې :

[....الْحُرُّ بِالْحُرِّ وَالْعَبْدُ بِالْعَبْدِ وَالأُنثَى بِالأُنثَى ....][124]

ژباړه : اصیل به اصیل باندې (قصاصیږي) او مریه په مریي باندې (قصاصیږي) او ښځه به ښځې باندې (قصاصیږي).

کفارو او مشرکینو فرښتې د خدای تعالی (نعوذ بالله منها) دخدای تعالی لورګانې ګڼلې، خدای تعالی دغه باطله عقیده ردوي او فرمايي چې فرښتې د خدای تعالی بندګانې دي. داسې یې فرمایلي دي :

[وَجَعَلُوا الْمَلَائِكَةَ الَّذِينَ هُمْ عِبَادُ الرَّحْمَنِ إِنَاثاً أَشَهِدُوا خَلْقَهُمْ سَتُكْتَبُ شَهَادَتُهُمْ وَيُسْأَلُونَ][125]

---

123. الاعراف / ۱۹۴.

124. البقره / ۱۷۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه : او ګرځوي (کفار) پرښتې هغه چې دوی عباد الرحمن د الله بندګان دي ښځې (لوڼې د الله) ایا حاضر وو (دغه کفار په وخت د) پیدا کېدلو د دغو پرښتو کې چې ښځې لوڼه پیدا شوي دي) ژر ده چې وبه لیکل شي شاهدي د دوی او پوښتنه به هم ترې وکړای شي (په آخرت کې).
همدارنګه الله تعالی ټول مخلوقات خپل بندګان ښودلي او فرمایلي یې دي :

[إِنْ كُلُّ مَنْ فِي السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ إِلاَّ آتِي الرَّحْمَنِ عَبْداً][126]
ژباړه : نه دي ټول هغه (ګردشیان) چې دي په اسمانونو کې او ځمکه کې مګر راتلونکي دي رحمان ته په دغه حال کې چې بنده وي هر یو (نه ولد).
په دې او داسې نورو ډېرو مبارکو ایاتو کې د عباد یا عبد لفظ د غلام او مخلوق په معنی راغلی خو انسان یې د هوش او عقل څښښتن کړی چې له نورو مخلوقاتو توپیر لري، پرښتې هم مخلوق دی. د انسان په شانتې نه دي نو په مخلوقاتو کې هر اعلی له ادنی سره په محکومیت کې برابر دي یوازې الله تعالی خالق یو او لا شریک دی. له دې امله (عباد امثالکم) کې باطل معبودان او انعام موندونکي یو ګڼل سخته غلطي ده چې په لاندې ذکر شوي ایت کې غور وشي (عباد امثالکم) کې هغه پټ مفهوم پوره وضاحت لري، دې مبارک ایت کې داسې وضاحت دی :
[أَلَهُمْ أَرْجُلٌ يَمْشُونَ بِهَا أَمْ لَهُمْ أَيْدٍ يَبْطِشُونَ بِهَا أَمْ لَهُمْ أَعْيُنٌ يُبْصِرُونَ بِهَا أَمْ لَهُمْ آذَانٌ يَسْمَعُونَ بِهَا قُلْ ادْعُوا شُرَكَاءَكُمْ ثُمَّ كِيدُونِي فَلا تُنظِرُونِ (۱۹۵) إِنَّ وَلِيِّي اللَّهُ الَّذِي نَزَّلَ الْكِتَابَ وَهُوَ يَتَوَلَّى الصَّالِحِينَ (۱۹۶) وَالَّذِينَ تَدْعُونَ مِنْ دُونِهِ لا يَسْتَطِيعُونَ نَصْرَكُمْ وَلا أَنفُسَهُمْ يَنصُرُونَ (۱۹۷) وَإِنْ تَدْعُوهُمْ إِلَى الْهُدَى لا يَسْمَعُوا وَتَرَاهُمْ يَنظُرُونَ إِلَيْكَ وَهُمْ لا يُبْصِرُونَ (۱۹۸)][127]

---

۱۲۵. الزخرف / ۱۹.
۱۲۶. مریم / ۹۳.
۱۲۷. الاعراف / ۱۹۵-۱۹۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه : آیا شته دوی ته (داسې) پښې چې تلل کوي دوی په هغو سره؟آیا شته دوی ته (داسې) لاسونه چې نیول کوي دوی په هغو سره؟آیا شته دوی ته (داسې) سترګې چې لیدل کوي دوی په هغو سره؟آیا شته (داسې) غوږونه چې اورېدل کوي دوی په هغو سره بلکې دا شان دوی سره نشته نو له تاسې څخه هم بد تر شول نو تاسې څنګه د دوی عبادت کوئ)) ووایه (ای محمده دوی ته) چې راوبولئ تاسې شریکان خپل (د امداد لپاره) بیا ((په خپلو تدبیرونو سره)) ضرر ورسوئ ما ته بس مهلت مه را کوئ تاسې ما ته (هېڅ قدر) بېشکه ولي (ناصر او ساتونکی) مې الله دی هغه چې ټوټه ټوټه یې نازل کړی دی کتاب او هم دغه (الله حمایت) ساتنه کوي د صالحانو (او کارونه یې جوړ وي)او (بېشکه) هغه (معبودان) چې یې بولئ تاسې بې له الله طاقت نه لري دوی د نصرت (مرستې کولو) ستاسې او نه د ځانونو خپلو سره مرسته (مدد) کولای شي (نو زه یې څه پروا لرم او که را وبولئ تاسې دوی په جانب د هدایت (د سمې صافې لارې) نو هېڅ نه اوري دوی او وینې به ته (ای محمده) دوی چې ګوري به دوی تا ته حال دا چې دوی به هیڅ نه ویني.

له دې مبارک ایت ثرګنده شوه چې له (عباد امثالکم) بتان مراد دی چې له ټولو صلاحیتو محروم دي له هر ډول مدد کولو محروم دي. د قرآن مجید له دې توضیحاتو سره بیا هم د باطلو معبودانو او د خدای تعالی د انعام لرونکو بندګانو مقام یو ګڼل سخته غلطي ده، نو د ایمان خاوندان د قرآن او سنتو تعلیماتو سره خپل عقاید برابر اصلاح کړی ساتي او د ګمراه کوونکو نظریاتو له پیروۍ اجتناب کوي.

**یوه درنه غلط فهمي او د هغې رد :**

قرآن کریم کې د مشرکینو طرز عمل داسې ذکر شوی دی چې :

(c) ketabton.com: The Digital Library

[وَإِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَحْدَهُ اشْمَأَزَّتْ قُلُوبُ الَّذِينَ لا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ وَإِذَا ذُكِرَ الَّذِينَ مِنْ دُونِهِ إِذَا هُمْ يَسْتَبْشِرُونَ][128]

ژباړه: او په هغه وخت کې چې یاد کړی شي یوازې الله (بې له بتانو) نو منقبض شي او وترهیږي زړونه د هغو کسانو چې ایمان نه راوړي په اخرت باندې او په هغه وخت کې چې یاد کړل شي هغه (بتان) بې له دغه (الله) ناڅاپه دوی خوشالیږي (مخونه يې رانه او وچولی (تندی) يې خلاص شي له خوښۍ)

ډېره د افسوس خبره ده چې د دې ذکر شوي مبارک ایت په رڼا کې ځینې د انبیاؤ او اولیاوو له ذکر څخه ژغورنه کوي د دوی د عظمت یادونه او اظهارونه کې مؤمنانو ته د شرک ګڼلو هاند او کوشش کوي حال دا چې مشرکین د لات او منات په بده مینه کوونکي او په هغو عقیده لرونکي دي نو دلته صرف د الله تعالی د ذات ذکر مراد نه دی او که څوک د بل چا ذکر ناجایز یا شرک وګڼي نو د هر مسلمان ایمان به مشکوک وي ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د معراج قاب او قوسین، او شفاعت کیږي ذکر او بیانولو باندې د (سبحان الله) اواز پورته کیږي نو حقیقت دا دی چې د حضرت انبیاء علیهم السلام ذکر او د صحابه وو، اولیاوو کرامو، اهل بیت رضي الله عنهم بیان یا د شهداوو او صالحینو یادونه د الله تعالی له ذکر لرې نه دي، بلکې د هغو د بیانولو په برخه کې قرآن کریم کې راغلي دي چې:

[وَكُلًّا نَقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ أَنْبَاءِ الرُّسُلِ مَا نُثَبِّتُ بِهِ فُؤَادَكَ وَجَاءَكَ فِي هَذِهِ الْحَقُّ وَمَوْعِظَةٌ وَذِكْرَى لِلْمُؤْمِنِينَ][129]

ژباړه: او دا ټول (محتاج الیه) اخبار لولو مونږ پر تا (ای رسول الله) له احوالو د تېرو رسولانو هغه چې کلکوو قوي مطمئن کوو مونږ په هغو سره

---

[128]. الزمر / ۴۵.

[129]. هود / ۱۲۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړه ستا (په تزئيد د يقين سره) او راغلی دی تا ته په دغو اخبارونو کې حق (رښتيا) او موعظه (پند) او يادونه لپاره د مؤمنانو.

الله تعالی په ځرګند ډول د انبياوو کرامو بيان کړی دی چې د زړه د اطمينان باعث کيږي او د ادم عليه السلام، عيسی عليه السلام، حضرت محمد عليه السلام په ذکر او يادونه زړه پاک او مضبوطيږي او په دې سره خپله د الله تعالی ذکر پورته کيږي او د مؤمنانو ايمان پرې قوي کيږي.

**حب الله او حب من دون الله:**

قرآن کريم د حب الله او حب من دون الله په برخه کې رباني ارشاد داسې فرمايلی دی:

[وَمِنْ النَّاسِ مَنْ يَتَّخِذُ مِنْ دُونِ اللَّهِ أَنداداً يُحِبُّونَهُمْ كَحُبِّ اللَّهِ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَشَدُّ حُبّاً لِلَّهِ وَلَوْ يَرَى الَّذِينَ ظَلَمُوا إِذْ يَرَوْنَ الْعَذَابَ أَنَّ الْقُوَّةَ لِلَّهِ جَمِيعاً وَأَنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعَذَابِ] [١٧٠]

ژباړه: او ځينې له خلکو څخه هغه څوک دي چې نيسي بې له الله څخه شريکان (په عبادت کې) چې مينه کوي دوی په هغوی باندې لکه چې مينه کوي په الله او هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی ډېر ټينګ دي له جهته د مينې له الله سره او که ووينې هغه کسان چې ظلم يې کړی دی (په خپلو نفسونو په شرک سره) په هغه وخت کې چې ووينې دوی عذاب بېشکه قوت خاص الله لره دی ټول او بېشکه چې الله سخت عذاب ورکوونکی دی (نو د بتانو عبادت به يې نه کاوه).

د دې مبارک ايت په مفهوم کې ځينې خلک غلط فهمي لري. وايي غير الله الله تعالی بل چا سره محبت جواز نه لري مؤمنان دې الله تعالی سره محبت کوي له ده پرته چا سره دې محبت نه کوي نو دوی د انبياوو، صحابه وو او

---

[١٧٠]. البقره / ١٢٥.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اولیاوو سره محبت غیر الله محبت بولي او هغه ته شرک وايي. دا خیال زیاتي ګمراه کوونکی او د قرآن او سنتو له تعلیماتو سره تعارض لري.

خدای تعالی په فطري ډول د انسان په زړه کې مینه او محبت پیدا کړی د والدینو مینه یې له اولاد او د اولاد یې له والدینو سره پیدا کړې او دا مینه د انسانیت تقاضا ده، محبت او مینه د انسان په فطرت کې په ودیعت کېښودل شوې ده، قرآن کریم د محبت یادونې ته ستر اهمیت ورکړی نو مؤمنانو د محبت او مینې د تصدیق لپاره ځو حدیث شریف په لاندې ډول راوړو:

[و عن عائشة رضی الله عنها قالت قال رسول الله صلی الله علیه وسلم الأرواح جنود مجندة فما تعارف منها ائتلف وما تناکر منها اختلف][171]

ژباړه: له عائشې رضي الله عنها روایت دی چې ویلي یې دي وفرمایل رسول الله صلی الله علیه وسلم: ارواح پټې لښکرې دي نو کومې چې له هغو پېژندګلوي لري سره یو شوي دي او کومې چې نامعلومې دي له هغوی اختلاف لري.

له دې حدیث شریف څرګندیږي چې د ارواح د عالم اجتماع او تعارف یو له بله سره په محبت او مینې سره کیږي، دا هم واضحه شوه چې د اهل ایمان او د اهل کفر په منځو کې محبت فطري دی مؤمن له کافر او کافر له مؤمن سره محبت نه لري او دا د فطرت تقاضا ده او دا چې محبت دماغي څیز نه دی، بلکې د یوه قلبي کیفیت نوم دی او کوم زړه چې د الله تعالی یاد او د رسول الله صلی الله علیه وسلم محبت ته ځای ورکړی وي هغه له کفر نه مبراء وي ځکه چې د الله تعالی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د امت له پاکانو سره محبت کول او مینه لرلو سره ایمان مضبوطیږي لکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ابوذر رضي الله عنه ته وفرمایل: د ایمان

---

[171]. رواه البخاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوم خاښ زيات مضبوط وي؟ ده ورته وويل : قال الله الله و رسوله اعلم قال : الموالاة فی الله والحب فی الله و البغض فی الله.[۱۷۲]

يعنې : رسول الله صلی الله عليه وسلم ابوذر رضي الله عنه ته وفرمايل : د ايمان کوم خاښ زيات مضبوط وي؟ ده ورته وويل : الله او رسول پرې ډېر ښه پوهيږي، ويې فرمايل : دوستي د خدای لپاره مينه د خدای لپاره او بعض (بد اېسېدل) د خدای لپاره.

له حضرت محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم سره محبت د ايمان روح بلکې عين ايمان دی، د رسول الله صلی الله عليه وسلم په محبت د الهي قرب مقام حاصليږي لکه چې امام بخاري په دې برخه کې له رسول الله صلی الله عليه وسلم روايت کړی چې :

[لا يؤمن احدکم حتی اکون احب اليه من والده و ولده والناس اجمعين][۱۷۳]

يعنې : يو د تاسې مؤمن نه دی څو چې زه له مور او پلار او اولاد او له ټولو خلکو ورته ډېر گران نه يم.

نو دالله تعالی محبت د رسول الله صلی الله عليه وسلم په محبت کې دی يعنې د رسول الله صلی الله عليه وسلم محبت په حقيقت کې د خدای تعالی محبت دی. لکه چې د ده اطاعت د خدای اطاعت دی او د ده نافرماني د خدای تعالی نافرماني ده. لکه چې روايت دی :

[عن انس بن مالک رضی الله عنه ان رجلا قال: يا رسول الله صلی الله عليه وسلم متی الساعه؟ قال رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلک و ما اعددت لها؟ قال: ما اعددت لهاالا انی أحب الله ورسوله. قال انت مع من احببت. قال انس رضی الله تعالی عنه. فمارايت المسلمين فرحوابشيئی بعد الاسلام فرحهم بها.][۱۷۴]

---

۱۷۲. رواه البيهقی فی شعب الايمان.

۱۷۳. رواه البخاری کتاب الايمان.

۱۷۴. بخاری و مسلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یعنې: له انس رضي الله تعالی عنه روایت دی چې یوه سړي وویل: ای رسول الله! قیامت کله دی؟ وې فرمایل: افسوس چې آیا تیاری دې ورته نیولی؟ وویل: تیاری مې نه دی ورته نیولی مګر دا چې الله او رسول یې په ما ډېر ګران دي، وې فرمایل: ته به له هغه چا سره یې چې ډېر درباندې ګران دی، انس رضي الله عنه وویل: چې ما پس له اسلام په بل شي مسلمان دومره خوشحال ونه لیدل لکه چې په دې فرمودې د رسول الله صلی الله علیه وسلم چې خوشحاله وو.

له دې مبارک حدیث څرګندېږي چې صحابه وو کرامو له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره سرشاره مینه لرله او له هغه سرېږي په قلبي محبت خوښي کوله.

یوه غلط فهمي او د هغې ازاله:

د دې حدیث شریف له (ما اعددت لها) لفظ نه ځینې بې عمله خلک مرادوي او غلطه معنی ترې اخلي وايي: دې صحابي اخرت ته تیاری نه وو نیولی یوازې د خدای تعالی د رسول مینه یې لرله، معلومه شوه چې لمانځه، روژه، زکات او حج ته کومه اړتیا نشته، د دې شبه ازاله داسې ده چې:

د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابي امکان نه لري چې بې عمله وي، دی صحابي چې ویل: ما تیاری نه دی نیولی یعنې هر څه مې چې کړي د رسول الله صلی الله علیه وسلم په محبت کې مې کړي بې د هغه له محبت کوم تیاری نه لرم. په حقیقت کې دی صحابي رضي الله عنه څرګنده کړه چې بې له مینې او محبت د رسول الله صلی الله علیه وسلم اعمال نشته او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مینه کې اعمال سرته رسول خالص له ریا پاک اعمال دي.

له پاک اهل بیت رضي الله عنهم سره محبت:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نبي صلی الله علیه وسلم اهل بیت سره محبت او مینه د ایمان برخه ده قرآن کریم او احادیثو کې د اهل بیت فضایل راغلي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې زما له اهل بیت سره محبت لـه ما سره مینه او محبت دی:

[عَنْ ابْنِ عَبّاسٍ رَضِيَ اللّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّهِ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ أحِبُّوا اللّهَ لِمَا يَغْذُوكُمْ بِهِ مِنْ نِعَمِهِ، وَأَحِبُّونِي لِحُبِّ اللّهِ، وَأَحِبُّوا أَهْلَ بَيْتِي لِحُبِّي][175]

یعني: له عبدالله بن عباس رضی الله عنهما روایت دی ویلي یې دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: پـه الله مـین شئ لکـه چې غـذا درکوي له نعمتو خپلو او په ما مین شئ په مینه د الله او زما په مینه زما پـه کورنۍ مین شئ.

اولیاوو رحمهٔ الله علیهم سره محبت:

څوک چې خپل ژوند د خدای تعالی او د رسول الله اتباع ته وقف کړي او د خدای تعـالی د محبت او رضـا ذریعـه د رسـول الله صـلی الله علیـه وسـلم محبت او رضاګنې د دوی ستاینه الله تعالی داسې فرمایلې ده:

[إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَيَجْعَلُ لَهُمُ الرَّحْمَنُ وُدًّا][176]

ژبـاړه: بېشـکه هغـه کسـان چې ایمـان یې راوړی دی او کـړي یې دي ښـه (عملونه) ژر به وګرځوي دوی ته رحمان دوستي محبت (پـه زړونـو د خلکـو کې).

دا یو حقیقت دی چې مؤمنان د خدای تعالی او د رسول الله صلی الله علیـه وسلم په محبت خدای تعالی ته محبوب کیږي او دا محبوبیت کـوم اتفـاقي امر نه وي، بلکې دا د خدای تعـالی خاصـه عطـا وي نـو اهـل د ځمکـې او د عرش او سېدونکي هم ورسره محبت کـوي ټـول عـالم یې د محبوبیت نـارې

[175]. رواه الترمذی-ابواب المناقب.

[176]. مریم / ۹۶.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وهي، د حشر په ورځ يې ټول عالم کې عزت زياتيږي لکه چې په حديث شريف کې راغلي دي:

[و عن عمر رضى الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ان من عباد الله لاناسا ماهم بانبياء ولاشهداء يغبطهم الانبياء والشهداء يوم القيامة بمكانهم من الله تعالى، قالوا: يارسول الله تخبرنا من هم؟ قال: هم قوم تحابوا بروح الله علي غير ارحام بينهم ولا اموال يتعاطونها فوالله ان وجوههم لنور و انهم على نور، لايخافون اذا خاف الناس و لا يحزنون اذا حزن الناس وقرأ هذه الآية: الا ان اولياء الله لاخوف عليهم ولاهم يحزنون][١٧٧]

ژباړه: له عمر رضي الله عنه روايت دی ويلي يې دي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د الله بندګانو کې داسې خلک دي چې نه نبيان دي، نه شهيدان دي خو د قيامت په ورځ به د انبياوو او شهيدانو مقام له خدای تعالی نه غواړي، وويل: ای د خدای رسوله! مونږ خبره کړه دا څوک دي؟ ويې فرمايل: دا هغه قوم دی چې خاص د خدای لپاره ځينې داسې بنو خلکو سره مينه کوي چې د خپلوی يا د مال اړيکې نه ورسره لري نو په خدای قسم چې مخونه به +يې د نور وي او دوی به په نور وي کله چې خلک ويريږي دوی به نه ويريږي او نه به غمګين کيږي کله چې خلک غمګين وي او دا مبارک ايت يې ولوست ((خبردار اوسئ چې بېشکه اولياء د خدای تعالی (چې دي) نه به ويره وي په دوی باندې او نه به دوی غمجن کيږي)).

دا څرګنده ده چې الله تعالی سره محبت او د الله تعالی لپاره محبت او له بت سره محبت او د بت لپاره محبت توپير لري، د الله تعالی محبت حق دی او د هر شي په محبت غالب دی لکن له دې سره سره محبت يو داسې څيز

---

[١٧٧]. رواه ابوداؤد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی چې د قرآن په تعلیم او د سنتو په وضاحت سره راځي علما مؤمنانو ته په دنیا او اخرت کې د محبت له فوائدو بې خبره نه دي، د مؤمن محبت او نفرت د ذاتي اغراضو او مقاصدو لپاره نه وي، بلکې د خدای تعالی رضا یې په نظر کې وي که مؤمن مال لګوي د الله په لاره کې یې مصرفوي او که دنیا کې هر څه کوي مقصد یې د خدایتعالی د خوشحالولو حصول وي که حج ته ځي یا جهاد کوي في سبیل الله سر نذرانه کوي. د الله تعالی په مینه او محبت کې د ده جل جلاله د رضا لپاره له سره تېر وي. دا محبت دی او د الله تعالی یاد او د رسول الله صلی الله علیه وسلم اتباع عبادت دی محبت نه دی چې د الله تعالی په نزد اجر او ثواب لري، مبرور حج ثواب لري، په توره وژل شویو ته ثواب ورکول کیږي ا و چې په مینه محبت د خدای تعالی د رضا د حصول لپاره صالح اعمال کوي د عرش په سوري کې به د محبت والاوو صالحینو سره د قیامت په میدان کې سرلوړي او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د محبت له امله به یې د حشر په ورځ دغه نصیب وي.

اخرت او من دون الله:

د کفارو او مشرکینو په لاسو جوړ شوي معبودان په قرآن کریم کې من دون الله ګڼل شوي دي چې د قیامت په ورځ به دوزخ ته واستول شي لکه چې رباني ارشاد دی:

[إِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ أَنْتُمْ لَهَا وَارِدُونَ][۱۷۸]

ژباړه: ببشکه تاسې او هغه (بتان، شیطانان) چې عبادت یې کوئ تاسې بې له الله څخه خس (خشاک) د دوزخ یئ، تاسې (له معبودانو خپلو سره) دې دوزخ ته ننوتونکي یئ.

الله تعالی د قیامت وړوونکې وضع بیان کړې ده چې د قیامت په ورځ به مشرکان او ګمراهان او د هغوی من دون الله معبودان به ټول جهنم ته ځي:

۱۷۸. الانبیاء/ ۹۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library

[هَذَا يَوْمُ الْفَصْلِ الَّذِي كُنتُمْ بِهِ تُكَذِّبُونَ (٢١) احْشُرُوا الَّذِينَ ظَلَمُوا وَأَزْوَاجَهُمْ وَمَا كَانُوا يَعْبُدُونَ (٢٢) مِنْ دُونِ اللَّهِ فَاهْدُوهُمْ إِلَى صِرَاطِ الْجَحِيمِ (٢٣)] ^١٧٩

ژباړه: دا هم هغه ورځ د فیصلې (او قضاء) ده هغه (ورځ) چې وئ تاسې چې په دې باندې مو نسبت د دروغو کاوه (او باور مو پرې نه کاوه چې رابه شي) (وبه فرمايي الله پرښتو ته چې) راټول کړئ تاسې هغه کسان چې ظلم يې کړی وو (په ځانونو خپلو په انکار او په شرک سره) او (کافرانې) ښځې (يا شيطانان ملګري) د دوی او هغه چې وو دوی چې عبادت به يې کاوه (د بتانو) بې له الله پس روان کړئ برابر کړئ دوی لارې د دوزخ ته (او دوزخ ته به يې ورسوئ).

[وَبُرِّزَتْ الْجَحِيمُ لِلْغَاوِينَ (٩١) وَقِيلَ لَهُمْ أَيْنَ مَا كُنْتُمْ تَعْبُدُونَ (٩٢) مِنْ دُونِ اللَّهِ هَلْ يَنْصُرُونَكُمْ أَوْ يَنْتَصِرُونَ (٩٣) فَكُبْكِبُوا فِيهَا هُمْ وَالْغَاوُونَ (٩٤) وَجُنُودُ إِبْلِيسَ أَجْمَعُونَ (٩٥) قَالُوا وَهُمْ فِيهَا يَخْتَصِمُونَ (٩٦) تَاللَّهِ إِنْ كُنَّا لَفِي ضَلَالٍ مُبِينٍ (٩٧) إِذْ نُسَوِّيكُمْ بِرَبِّ الْعَالَمِينَ (٩٨)] ^١٨٠

ژباړه: او ښکاره به کړی شي جحیم ګمراهانو ته (لپاره د حسرت او خفګان د دوی) او وبه ويل شي دوی ته (د پرښتو په ژبه) چې چېرته دي هغه معبودان ستاسې بې له الله چې وئ عبادت به کاوه تاسې د هغوی بې له الله نه، آيا مدد کوي له تاسې سره (په دفع د عذاب د الله کې) يا څه مدد کوي دوی له خپله ځانه سره (بلکې نه يې شي کولی) نو وبه غورځول شي (دا بتان) نسکور په دغه (دوزخ) کې دوی (او هم) ګمراهان او لښکر د ابليس (شيطان) ټول (عابدان او معبودان) وبه وايي دوی حال دا چې دوی به په دوزخ کې سره جګړې کوي چې قسم دی په الله چې بېشکه شان دا دی چې

---

١٧٩. الصفافات / ٢١-٢٣.

١٨٠. الشعراء / ٩١-٩٨



www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

وو مونږ خامخا په ګمراهۍ ښکاره کې کله چې برابرولئ مونږ تاسې (په عبادت کې) له رب (پالونکي) د عالميانو سره.

له دې مبارکو اياتو معلوميږي چې له من دون الله د کفارواو مشرکينو معبودان مراد دی چې له عابدانو سره به يې جهنم ته اچول کيږي او مقربينو چې د من دون الله متابعت نه دی کړی جنت ته بيول کيږي.

د بلقيس تخت او شرک:

الله تعالی پيغمبرانو ته معجزې ورکړي دي سليمان عليه السلام ته يې پيريان تابع کړي و، باد، د هوا مرغان يې مطيع و نو د ملکه سبا بلقيس د تخت راوړلو حکم يې وکړ. دا قصه قرآن شريف کې داسې راغلې ده:

[قَالَ عِفْرِيتٌ مِنْ الْجِنِّ أَنَا آتِيكَ بِهِ قَبْلَ أَنْ تَقُومَ مِنْ مَقَامِكَ وَإِنِّي عَلَيْهِ لَقَوِيٌّ أَمِينٌ (٣٩) قَالَ الَّذِي عِنْدَهُ عِلْمٌ مِنْ الْكِتَابِ أَنَا آتِيكَ بِهِ قَبْلَ أَنْ يَرْتَدَّ إِلَيْكَ طَرْفُكَ فَلَمَّا رَآهُ مُسْتَقِرّاً عِنْدَهُ قَالَ هَذَا مِنْ فَضْلِ رَبِّي لِيَبْلُوَنِي أَأَشْكُرُ أَمْ أَكْفُرُ وَمَنْ شَكَرَ فَإِنَّمَا يَشْكُرُ لِنَفْسِهِ وَمَنْ كَفَرَ فَإِنَّ رَبِّي غَنِيٌّ كَرِيمٌ (٤٠)] [١٨١]

ژباړه: وويل يو زورور سخت قوي له (قومه د) پيريانو چې زه به راوړم تا ته دا (تخت) پخوا د هغه چې پاڅيږې ته (ای نبي الله) له دغه ځايه خپله، او بېشکه زه پر دغه (راوړلو) د دې (تخت) خامخا قوي (زورور معتبر) امانتګر يم (چې نه کوم خيانت په جواهرو د ده کې) وويل: هغه (سړی) چې د ده څخه يو علم و له کتابه (منزله يعني اسم الاعظم) زه به راوړم تا ته دا (تخت) پخوا له هغه چې بيا راګرځي تا ته سترګه ستا (چې نيولې دې وي کوم شي ته) نو کله چې وليد (سليمان) دغه (تخت) قرار پروت په نزد د ده نو وويل دغه (ژر راوړل د تخت) له فضله (احسانه) د رب زما دی دپاره د دې چې وازمويي ما چې آيا زه شکر کوم (پر نعمتونو د الله) يا ناشکري (کفران) کوم؟ او هر څوک چې شکر کوي پس بېشکه همدا خبره ده چې شکر کوي خپل ځان ته

---

[١٨١]. النمل / ٣٩-٤٠.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(ځکه چې پرې د نعمتونو دوام او تزئید کیږي) او هر چا چې ناشکري وکړه (کفران کوي) غني بې پروا دی (له شکر او له هغه څیزه) کرم والا څښتن (خاوند) د سخاوت دی پر مستحقانو د انعام.

سلیمان علیه السلام له یوې خوا باچا او له بلې خوا پیغمبر و، د علم او اختیار لوړ مقام یې درلود، سره له دې یې د امر په صیغه چې تکبر ترې ښکاري، نه وایه، بلکې ویې ویل: ستاسو څوک دی چې د بلقیسې تخت راوړي. بلکې ویې ویل چې څوک به یې راوړي او جنیات یې داسې تابع او په فرمان وو چې په سیالۍ یې د هغه راوړلو ته ځان کاندید او هغه یې د سترګو له رپ سره راوړ. د دې زور او قوت نسبت یې هم ځانته نه دی کړی، بلکې ویلي یې دي چې (هذا من فضل ربي) دا د خدای تعالی فضل دی.

د غور وړ دا خبره ده چې د عفریت په توګه د بلقیس د تخت راوړل په طرفة العین کې یې یو فوق العاده عمل دی د سلیمان علیه السلام د معجزې په توګه خدای تعالی ډېر ښه اجرا کولای شو نو د عفریت په توګه یې دغه عمل باید شرک ونه ګڼل شي، بلکې دا د جنیاتو تابعداري او د هغو په توګه د داسې کارو اجرا کول سلیمان علیه السلام نه د ځان او نه د جنیاتو توان بللی، بلکې هغه یې د خدای تعالی فضل ګڼلی دی او د خدای تعالی د فضل او کرم نه منل لویه ناشکري ده. پیغمبر چې د عقایدو په صفایۍ او د توحید او اصلاحاتو هاند کوي هیڅکله داسې کار نه ترې صادریږي چې هغه کې د شرک شائبه وي. له دې امله دا ډول اعمالو ته باید څوک شرک ونه وایي، دا د انبیاوو او اولیاوو د لوړ علم او زیاد اختیار له مخې چې د خدای تعالی فضل دی سرته رسیږي. د الله تعالی په فضل شکر په کار دی، نه ناشکري.

## د محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم او د اولیاوو فضیلت:

هغه فضیلت او شرف چې حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم یې پر نورو کائناتو لري، دومره زیات دی چې اندازه یې چا ته معلومه نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه د ده صلی الله علیه وسلم امت په نورو امتو دومره غوره والی لري چې معلومات يې چا ته نشته نو له دې کبله امام رباني حضرت مجدد الف ثاني شيخ احمد فاروقي سرهندي رحمة الله عليه ويلي دي :

((هر نبي په ولايت قدم ايښی دی خو د ټر اعلی ولايت هغه دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم قدم ورباندې ايښی دی.))[۱۸۲]

سليمان عليه السلام که بېګاه او سبا کې د يوې مياشتې واټن واهه رسول الله صلی الله عليه وسلم د عرش او فرش فاصله يوه شپه کې وهله. په امتيانو کې يې که د جناب آصف بن برخيا کارنامې وڅېړو په خپله ثابتيږي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم په کائناتو او امت يې په نورو امتو ډومره زيات فضايل لري، په يوه حديث شريف کې راغلي دي :

[عَنْ أَسْمَاءَ بِنْت يَزِيْدَ رضي الله عنها قَالَتْ : سَمِعْتُ رَسُوْلَ الله صلي الله عليه وآله وسلم يَقُوْلُ : أَلاَ أُنَبِّئُكُمْ بِخِيَارِكُمْ؟ قَالُوْا : بَلَي، يَارَسُوْلَ اللهِ صلي الله عليه وآله وسلم قَالَ : خِيَارُكُمُ الَّذِيْنَ إِذَا رُؤُوْا ، ذُكِرَ اللهُ عزوجل]

يعنې : له اسماء لور د يزيد روايت دی چې دې له رسول الله صلی الله عليه وسلم واوريدل چې ويل يې : ايا تاسې خبر نه کړم چې تاسې کې څوک غوره دی، وويل اوريدونکو صحابه و کرامو هو مونږ خبر کړه ای رسول الله! وفرمايل : غوره د تاسې هغه څوک دی چې وينې يې د خدای تعالی ذکر کوي.

يوه شبه او د هغې اذاله :

ځينې خلک خيال کوي چې د بلقيس تخت سرې راوړی دليل يې د قرآن کريم دا مبارک نيولی دی چې (انا اتيک به قبل ان تقوم من مقامک) او عفريت له جنياتو څخې و خو د خدای تعالی چې فرمايلي دي (هذا من فضل ربي) څرګندوي چې سليمان عليه السلام ته خدای تعالی دغه توان وربښلی

---

۱۸۲. مکتوبات امام رباني.

www.melitahrik.com 0777400116

(c) ketabton.com: The Digital Library

و ځکه يې په دغو (هذا من فضل ربی) الفاظو د هغه شکر وکړ، او د دې قصې اهميت په دې کې دی چې د نبوت او ولايت مقام وپېژندل شي نو بې شبه د (هذا من فضل ربی) فرموده کې د شکر مقام دی ځکه سليمان عليه السلام د دغه مقام له امله د خدای تعالی شکر ادا کړ.

و من دون الله يو وروستنی وضاحت :

و من دون الله نتيجه دا ده چې د عبادت او بندگۍ په ځای کې يې ذکر په دې معنی دی چې سوا له الله تعالی نور هيڅ نوري او خاکي څيزونه د عبادت وړ نه دي. همدی خالق او برحق معبود دی حق لري چې عبادت يې وشي .... مرسته، نصرت، شفاعت د انبياوو، اولياوو، صديقينو او شهداوو کړه او وړه (معجزې او کرامات) په من دون الله کې نه راځي ځکه چې په اذن د الله تعالی ثابت شوی دی نو انکار ورنه د الله تعالی له رحمت د نااميدۍ علامه ده له دې امله د لغوي معانيو مصداق جلا او د اصطلاحي مفاهيمو د اطلاق بيان جلا صحيح راځي لکه قرآن کريم کې د مصر عزيز (انه ربی احسن مثوی) او والدين (کما ربينی صغيرا) د (رب) په نامه ياد شوی دی نو د (رب) د نوري لفظي اشتراک له امله چې خالق او هم مخلوق ته استعمال شوی او په دواړو يې اطلاق برابري نه لري څرگنده او واضحه خبره ده چې د مصر عزيز او والدينو ته (رب) د لغوی معنی له مخې راغلی دی او د حقيقي رب اطلاق په هغه ذات کبرېي چې د ټولو کائناتو د پالنې والا دی، وگورئ څرنگه ړوند او بينا، عالم او جاهل، نيک او بد برابر نه دي همدارنگه (انعمت عليهم) او (معضوب عليهم) سره برابر نه دي او د برابر گڼلو خيال يې سم او ټيک نه دی.

## په قرآن او حديثو کې د وسيلې تصور :

قرآن مجيد کې مؤمنانو ته حکم شوی دی چې خدای تعالی ته وسيله ولټوي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

[يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَابْتَغُوا إِلَيْهِ الْوَسِيلَةَ وَجَاهِدُوا فِي سَبِيلِهِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ][183]

ژباړه: ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی (يعنې ای مؤمنانو) وويرېږئ تاسې له الله او طلب کړئ ده ته وسيله (په طاعت سره) او جهاد وکړئ په لاره د ده کې (د کلمة الله د اعلاء په غرض) لپاره د دې چې په مراد ورسيږئ (خلاص شئ له عذابونو).

له پورتني مبارک ايت ځرګندېږي چې وسيله کوم غير اسلامي تصور نه دی، بلکې د قرآن تعليماتو يو تعليم دی لکن ځينې اخباري مضامين د عوامو اذهانو کې تشويش پيدا کوي له دې امله ضروري ده چې د قرآن او سنتو په لاربښوونه د شريعت او طريقت ورونو شبهات زايله شي. د اهل لغت په نزد د وسيلې معنی واسطه او ذريعه ده او د شريعت په اصطلاح کې هر هغه عمل يا هر هغه ذات دی چې د هغه په توګه انسان ته الهي قرب ورکول کيږي.

مؤمنان خدای تعالی ته عمل بالذات وسيله کوي د صالحه اعمالو په وسيله کولو کې اختلاف نشته لکن ځينې خلک د انبياوو او د الله تعالی له نورو پاکو بندګانو وسيله کولو نه انکار کوي چې د دوی دا طرحه درسته نه ده، مسلمانان نه يوازې دنيا کې بلکې په اخرت کې هم خدای تعالی ته د خپلو نيکو اعمالو او د نورو غوره بندګانو (انبياوو، صديقينو، شهداوو او صالحينو) د نيکو اعمالو وسيله کولو باندې قايل دي. حقيقت دا دی چې انسان د خپلو نيکو اعمالو له وسيله کېدلو او د نبي کريم صلی الله عليه وسلم له وسيله کېدلو او نورو ذکر شويو وسيله کېدلو نه د خدای تعالی د رحمت سترې هيلې لري.

## د وسيلې ډولونه:

---

[183]. المائده / ۳۵.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د قرآن او سنتو د تعلیماتو په رڼا کې وسیله درې ډوله ده :

۱ـ د نیکو اعمالو وسیله کولو دعاء.

۲ـ د انعام موندونکو بندګانو (انبیاوو، صدیقینو، شهداوو او صالحینو) وسیله ګرځولو دعاء.

۳ـ د انعام موندونکو بندګانو د دعا غوښتنه.

دا درې ډوله وسیلې مؤمنانو کې رائجې دي ځکه چې د قرآن او سنتو په رڼا کې دا درې ډوله وسیلې هره یوه جائزه بلکې احسنه ده او د هغو دلایلو په کتنه د عقیدې سمولو له امله عمل هم نافع کیږي.

## د صالح اعمالو اهمیت :

نیک اعمال الله تعالی ته د قرب، بخښنې او نجات سبب کیږي لکه چې په قرآن کریم کې راغلي دي :

[وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَنُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ سَيِّئَاتِهِمْ وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَحْسَنَ الَّذِي كَانُوا يَعْمَلُونَ][۱۸۴]

ژباړه : او هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او کړي یې دي ښه (عملونه) خامخا وبه ریژوو هرو مرو (خامخا) له دوی نه ګناهونه د دوی او خامخا جزا به ورکړو مونږ هرو مرو (خامخا) دوی ته ښه جزا د هغه (عمل) چې وو دوی چې کاوه به یې (په اسلام کې).

بل ځای د خدای تعالی ارشاد دی :

[مَنْ عَمِلَ صَالِحاً مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُمْ بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ][۱۸۵]

ژباړه : هر چا چې وکړ نیک (عمل) له نارینه ځخه یا له ښځې ځخه حال دا چې مؤمن وي نو خامخا ژوندون به ورکړو هرومرو (خامخا) هغه ته ژوندون

---

[۱۸۴]. العنکبوت / ۷.

[۱۸۵]. النحل / ۹۷.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښه (پاکیزه) او خامخا جزا به ورکړو هرو مرو (خامخا) دوی ته اجر د دوی په ډېر ښه د هغو (نیکیو) سره چې وو دوی (په دنیا کې) چې کولې به یې.

دا مبارک ایاتونه راښیي چې نیک اعمال ستر ثوابونه لري او اعلان کوي چې مؤمن خپل ژوند په تقوی، طهارت او نیکۍ تېروي نه یوازې دنیا یې پاکیږي، بلکې ښه ژوند یې په برخه کیږي، د صالحه اعمالو د اهمیت په برخه کې حدیثو کې داسې راغلي دي، چې:

[عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: إن الله قال (من عادى لي وليا فقد آذنته بالحرب، وما تقرب إلي عبدي بشيء أحب إلي مما افترضت عليه، وما يزال عبدي يتقرب إلي بالنوافل حتى أحبه، فإذا أحببته كنت سمعه الذي يسمع به، وبصره الذي يبصر به، ويده التي يبطش بها، ورجله التي يمشي بها، وإن سألني لأعطينه، ولئن استعاذني لأعيذنه][١٨٢]

یعنې: له ابي هریره رضي الله عنه روایت دی. ویلې یې دي. فرمایلي دي رسول الله صلی الله علیه وسلم چې الله تعالی فرمایلي دي: چې څوک زما په دوست تعدا کوي هغه ته مې په حرب اجازه کړې، او په هغه څیز چې زما بنده ما ته نږدې کیږي هغه دوست ګڼل د هغو څیزو دی چې پرې فرض کړي مې دي، او زما بنده تل ما ته د نفلو په ادا کولو ځان رانږدې کوي خو چې ما ته ګران شي کله چې پر ما ګران شي زه د هغه سمع یم چې دی پرې اوري او هغه بصر یم چې دی پرې ویني او هغه لاس یې یم چې دی پرې نیول کوي ا و هغه پښه یې چې په هغې تلل کوي او چې غوښتنه رانه کوي ورکوم یې او که پناه رانه غواړي پناه ورکوم.

دا مبارک ایاتونه او حدیث شریف څرګندوي چې په نیکو اعمالو انسان ظاهراً او باطناً د خدای تعالی د انعامونو او مهربانیو کولو په اندازه

[١٨٢]. رواه البخاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مستجاب الدعوات کېږي. په دنیوي ژوند کې پس له ایمان نه په نیکو اعمالو بنده ته ستر امتیاز ورکول کېږي. د ځمکې د خلافت مقتضی ده چې مؤمن په هر حال له خالق، مالک، رحمن او رحیم مولا څخه غافل ونه اوسي، د دنیا په مشکلاتو کې زیاته عاجزي او تواضع څرګنده کړي نیکیو کې سبقت وکړي، صالحه اعمالو په کولو کې داسې هاند وکړي چې د خالق او مالک رضا او خوشالي په مقام بریالی شي.

## صالحه اعمال او وسیله:

الله تعالی فرمایلي، چې:

[وَيَسْتَجِيبُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَيَزِيدُهُمْ مِنْ فَضْلِهِ وَالْكَافِرُونَ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ][187]

ژباړه: او قبلوي (الله دعا) د هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی او کړي یې دي ښه (عملونه) او زیادت کوي (دوی ته) له مهربانۍ خپلې او کافران چې دي شته دوی ته عذاب ډېر سخت (د دوزخ).

دا مبارک ایت راښیي چې په نیکو اعمالو د انسان ظاهر او باطن منور کېږي او دعاګانو د قبلولو زیری ورکول کېږي او واضحه کړې یې ده چې د دعا له امله د خدای تعالی رحمت نه و، بلکې د خدای تعالی د رحمت مطابق د کرم باران یې له طلب ورعطا کېږي.

بخاري او مسلم له نبي کریم صلی الله علیه وسلم یو اوږد حدیث روایت کړی. په هغه کې یوه قصه راغلې ده چې پخوا زمانه کې درې تنه مسافر د لارې په یوه غار کې ننوتل. د غار په خولې یې یو غټ کمر راورغښت او د غار خوله یې بنده کړه. دوی وویل چې: راځئ چې خپل نیک اعمال خدای تعالی ته وسیله کړو او د هغو له امله خدای تعالی ته دعا وکړو چې د غار خوله مونږ ته خلاصه کړي. دا خبره یې ومنله، نو یوه وویل: د قحطۍ په

[187]. الشوری/ ۲۶.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کال به چې ما لومړی خپل پلار مور نه کړ اولاد او عیال ته مې غذا نه ورکوله. یوه شپه مې چې شودې ورته راوړې دی ویده و نو سر ته یې ودرېدم او تر هغه مې خپل عیال او اولاد ته غذا ورنه کړه څو چې دی راویښ شو شیدې مې ورکړې چې هغه وچیکلې پس له هغه مې خپل عیال او اولاد ته خوراک ورکړ نو څرنګه چې دا کار ستا د امر د تعميل لپاره کړی و زما د دغه نیک عمل په خاطر د غار ور راته پرانیزه نو د غار له خولې هغه کمر ونښوېده یو څه رڼا پیدا شوه، دویم او دریم سړي هم خپل نیک اعمال وسیله کړل او د غار خوله خلاصه شوه درې واړه ترې ووتل او لاړل.

[اللّهم إن كنت فعلت ذلك ابتغاء وجهك فافرج عنا ما نحن فيه ، فانفرجت الصخرة فخرجوا يمشون][۱۸۸]

یعنې : ای خدایه که دا مې ستا په مخ کړی وي نو مونږ دغه ځای چې په کې یو پرانیزې نو تیږه ونښویده نو ترې راووتل لاړل.

دی درې واړو خپل نیک عملونه وسیله کړل او د هغو له برکته د غار خوله ورته خدای تعالی خلاصه کړه نو د نیک عمل د وسیله کیدلو په برخه ابو هریره رضي الله عنه له نبي کریم صلی الله علیه وسلم روایت کړی چې : یوه ځنګل کې یوه سړي واورېدل چې وریځې ته وویل شول د فلاني باغ اوبه کړئ. وریځ د هغه باغ ته ورغله د هغه سړي په باغچه یې باران وکړ او هغه یې اوبه کړه، دغه سړي د باغ له مالک څخه پوښتنه وکړه چې : یا عبدالله ما اسمک؟ قال: فلان للاسم الذی سمع فی السحابة فقال له با عبدالله لم تسالنی عن اسمی فقال انی سمعت صوتاً فی السحاب الذی هذا ماءه یقول : اسقی حدیقة فلان لاسمک فما تصنع فیها فقال : اما انی قلت هذا فانی

---

[۱۸۸]. متفق علیه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

انظر الی ما يخرج منها فاتصدق و بثلثة و اكل انا و عيالی ثلثا اوارد فيها ثلثة.[۱۸۹]

يعني : ای عبدالله نوم دې څه دی؟ وويل : فلان، له هغه نوم سره سم و چې وریځې کې يې اوريدلی و نو وويل: ما دا وويل : او کتل مې چې څه ترې حاصل شي دريمه برخه ورنه خيرات کړه ما او عيال مې ترې دريمه وخوړله او دريمه برخه مې پرې رد (مصر) کړه.

دا مبارک اياتونه او حديثونه د نيکو اعمالو وسيله کول او دعا کول واضحه دي، بې له شکه انسان ته خدای تعالی د ځمکې د خلافت د لوړ منصب د ورکړې مقتضی دا ده چې د خير او شر تميز وکړي په تقوی او نيکو اعمالو د خپل خدای رضا وغواړي نو د مشکلاتو په وخت کې خپل نيک اعمال وسيله کړي خدای تعالی به يې دعا قبوله کړي او مشکل به يې حل کړي. که کامل ايمان او خالص عمل نه وي خدای تعالی يې دعا ردوي، او څوک چې د ايمان ساتنه او په عمل مداومت کوي د هغو دعا ته د قبوليت شرف بخښي که نه خدای تعالی د خلافت وعده نه ورکول.

## د نبي صلی الله عليه وسلم وسيله :

د نبي کريم صلی الله عليه وسلم لويه وسيله ده، ترمذي د ابو هريره رضي الله عنه په روايت ذکر کړی دی چې نبي صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي :

[سلوا الله الوسيلة قالوا : يا رسول الله وما الوسيلة؟ قال: أعلى درجة في الجنة لا ينالها إلا رجل واحد وأرجو أن أكون أنا هو][۱۹۰]

يعني : له خدای تعالی وسيله وغواړئ. وويل : ای رسول الله وسيله څه ده؟ وې فرمايل : په جنت کې لوړه درجه ده غير له يو تن بل چا ته نه رسيږي او زه هيله لرم چې هغه به زه يم.

---

۱۸۹. رواه مسلم.

۱۹۰. رواه الترمذی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په احاديثو کې راغلي دي چې څوک ما ته د قيامت په ورځ محمود مقام وغواړئ! ما نه به هغه ته زما د شفاعت کولو وسيله شي:

[و عن جابر قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من قال حين يسمع النداء : اللهم رب هذه الدعوة التامة والصلاة القائمة آت محمداً الوسيلة والفضيلة وابعثه اللهم مقاماً محموداً الذي وعدته حلت له شفاعتي يوم القيامة] [۱۹۱]

يعنې له جابر رضي الله عنه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي څوک چې اذان واوري او ووايي : ای ربه دا پوره دعوت دی، لمونځ ودريدلی دی محمد ته وسيله و فضيلت ورکړه او محمود مقام ورکړه هغه چې د هغه وعده دې ورکړې ده، په قيامت کې يې زما شفاعت په برخه کړه.

دې شريفو احاديثو نه ځرگنديږي چې وسيله گرځول، د رسول الله صلى الله عليه وسلم له تعليماتو څخه ثابت دي يعنې څوک يې چې شرک گڼي د هغو مفکورې ردوي، په دې حديث شريف کې رسول الله صلى الله عليه وسلم دوهو سيلې ذکر کړې دي يوه وسيله جنت او بله د حشر ميدان په جنت کې د مختلفو درجو مقامونه دي د هر چا لپاره د مقام حاصلولو وسيله د هغه خپل عمل وي او د حشر په ميدان کې د جنت لوړ مقام د محمود مقام په نوم ياديږي چې خپله رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغه هيله من دی د هغه د حصول دعا کول چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ورکول شي وسيله د شفاعت کيږي لپاره د دعا کوونکي چې خدای پاک هغه مقام رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ورکړي. ربيعه بن کعب ارزو کړې چې (مرافقتک فی الجنة).

## د يوې مغالطې رد :

---

[۱۹۱]. رواه البخاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې شريفو حديثونو نه ځينې کسان داسې پوښتنه کوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د محمود مقام ورکول که يقيني واى نو د خلقو دعا به يې ولې غوښتله او ولې به يې ويل چې: (ارجو ان اكون انا هو) د دې شبه خواب کې ويل شوي دي چې د محمود مقام ورکول رسول الله صلى الله عليهوسلم ته يقيني دى نو د دې لپاره چې مؤمنانو ته يې شفاعت يقيني ځرګند شي د هغوى دعا يې ورته وسيله وګرځوله او دا فرموده يې (ان اكون انا هو) د تواضع او د نفس د انکسار لپاره کړې ده، او دا چې د امت له دعا څنګه خبريږي په خپله يې فرمايلي دي:

[من صلّي عَلَي صادقا من نفسه عشر صلوات ارفعه عشر درجات و كتب له بها عشر حسنات][192]

يعنې: څوک چې پر ما په صداقت لس وارې درود ووايي لس درجې به يې پورته کړم او په هغه به لس نيکۍ ورته وليکل شي.

په رسول الله صلى الله عليه وسلم د درودو ويلو تعليم خداى پاک قرآن مجيد کې داسې فرمايلى دى:

[إِنّ اللّهَ وَمَلائكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى النَّبِيِّ يَا أَيُّهَا الّذِينَ آمَنُوا صَلُّوا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا تَسْلِيماً][193]

ژباړه: بېشکه الله او پرښتې د الله درود وايي (رحمت ليږل غواړي) پر نبي باندې اى هغو کسانو چې ايمان يې راوړى دى (يعنې اى مؤمنانو) درود ووايئ پر هغه (نبي) باندې او سلام پرې ووايئ په سلام ويلو سره.

په رسول الله صلى الله عليه وسلم د خداى پاک او د زرګونو فرښتو ويل جاري دي د مؤمنانو د دې فايده خپله درود ويونکي ته ده لکه چې حضرت کعب رضي الله عنه د ساې روايت بيان کړى دى:

---

[192]. جلاء الفهام – له ابم قيم.

[193]. احزاب / ۵۶.

(c) ketabton.com: The Digital Library

[ما من يوم يطلع إلا نزل سبعون ألفا من الملائكة حتى يحفوا بقبر النبي صلى الله عليه وسلم يضربون بأجنحتهم ويصلون على رسول الله صلى الله عليه وسلم حتى إذا أمسوا عرجوا وهبط مثلهم فصنعوا مثل ذلك حتى إذا انشقت عنه الارض خرج في سبعين ألفا من الملائكة يزفونه] [۱۹۴]

يعني : د رسول الله صلى الله عليه وسلم قبر ته هره ورځ اويا زره ملكي نازليږي وزرونه پرې ښوروي او په رسول الله صلى الله عليه وسلم درود وايي څو چې مازيگر شي دوی وخيژي او د دوی غوندې نورې راښكته شي او همداسې كوي تر هغه چې ځمكه وچوي او اويا زره ملكو كې راووځي پورته كوي يې.

دا د خدای تعالى حكم دی د انسان يا د فرښتو د دعا په كې كوم دخل نشته او رسول الله صلى الله عليه وسلم چې فرمايلي : ما ته دعا وكړئ معنى يې دا ده چې ما ته د لوړ مقام غوښتلو دعا ستاسې لپاره وسيله شي چې په قيامت كې زما د شفاعت حقدار شئ، په ترمذي كې راغلي دي :

[عَنْ عُثْمَانَ بْنِ حُنَيْفٍ أَنَّ رَجُلًا ضَرِيرَ الْبَصَرِ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ ادْعُ اللَّهَ لِي أَنْ يُعَافِيَنِي فَقَالَ إِنْ شِئْتَ أَخَّرْتُ لَكَ وَهُوَ خَيْرٌ وَإِنْ شِئْتَ دَعَوْتُ فَقَالَ ادْعُهْ فَأَمَرَهُ أَنْ يَتَوَضَّأَ فَيُحْسِنَ وُضُوءَهُ وَيُصَلِّيَ رَكْعَتَيْنِ وَيَدْعُوَ بِهَذَا الدُّعَاءِ اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ وَأَتَوَجَّهُ إِلَيْكَ بِمُحَمَّدٍ نَبِيِّ الرَّحْمَةِ يَا مُحَمَّدُ إِنِّي قَدْ تَوَجَّهْتُ بِكَ إِلَى رَبِّي فِي حَاجَتِي هَذِهِ لِتُقْضَى اللَّهُمَّ شَفِّعْهُ فِيَّ] [۱۹۵]

يعني : له عثمان زوی د حنيف روايت دی چې يو مورزادی ړوند نبي صلى الله عليه سلم ته راغی نو ويې ويل : خدای تعالى ته دعا وكړه چې روغ مې كړي، ويې فرمايل : كه غواړې دعا درته كوم او كه غواړې صبر وكړې ستا په خير ده، وويل : دعا وكړه، وويل : نو امر يې وكړ چې اودس وكړي نو ښه اودس يې وكړ او دا دعا يې وكړه: ای خدايه زه سوال درته كوم او ستا نبي

---

[۱۹۴]. مشكوة باب الكرامات.

[۱۹۵]. جامع ترمذی ابواب الدعوات.

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمد صلی الله علیه وسلم د رحمت نبي درته مخ کوم زه تا وسیله کوم خپل رب ته د خپل دغه حاجت لپاره چې ته یې پوره کړې ای خدایه زما شفیع یې کړې.

له دې مبارکو حدیثو معلومیږي چې د وسیلې په توګه خدای تعالی ته رسیدل حاصلیږي لکه چې په حدیث شریف کې راغلي دي :

[عن فضالة بن عبيد قال : بينما رسول الله صلى الله عليه وسلم قاعد إذ دخل رجل فصلى فقال اللهم اغفر لي وارحمني فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم عجلت أيها المصلي إذا صليت فقعدت فاحمد الله بما هو أهله وصل علي ثم ادعه قال ثم صلى رجل آخر بعد ذلك فحمد الله وصلى على النبي صلى الله عليه وسلم فقال النبي صلى الله عليه وسلم أيها المصلي ادع تجب][۱۹۲]

یعنې : له فضاله زوی د عبید روایت دی ویلي یې دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ناست و یو سړی داخل شو لمونځ یې وکړ نو وې ویل : ای خدایه ما وبخښه او په ما رحم وکړه نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : ای لمونځ کوونکیه بیړه دې وکړه چې لمونځ وکړې نو کښېنه د خدای حمد ووایه داسې حمد چې د ده وړ وي او پر ما درود ووایه بیا دعا وکړه. وېویل : سړي پس له هغه لمونځ وکړ نو د خدای حمد یې ووایه او په نبي صلی الله علیه وسلم یې درود ووایه نو نبي صلی الله علیه وسلم ورته وویل : ای لمونځ کوونکیه! دعا وکړه قبلیږي.

په یوه حدیث شریف کې راغلي دي :

[و عن عبدالله بن مسعود رضى الله عنه قال كنت أصلي والنبي صلى الله عليه وسلم وأبو بكر وعمر معه فلما جلست بدأت بالثناء على الله ثم

[۱۹۲]. رواه ترمذی، ابوداود ،نسایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الصلاة على النبي صلى الله عليه وسلم ثم دعوت لنفسي فقال النبي صلى الله عليه وسلم سل تعطه سل تعطه][197]

يعني : او له عبدالله زوی د مسعود رضي الله عنه روايت دی ويلي يې دي ما لمونځ کاوه او نبي صلى الله عليه وسلم حضور درلود ، ابوبکر او عمر رضي الله عنهما ورسره وو کله چې کښېناستم د خدای تعالی مې ثنا وويله بيا مې په رسول الله صلى الله عليه وسلم درود ووايه بيا مې ځان ته دعا وکړه نو نبي صلى الله عليه وسلم وفرمايل : سوال کوه درکول کيږي، سوال کوه درکول کېږي.

د حضرت عمر رضي الله عنه په روايت د دعا په برخه کې حديث شريف کې راغلي دي چې د دعا د قبلېدلو شرط درود شريف دی او هغه داسي دی :

[و عن عمر بن الخطاب رضي الله عنه قال : موقوف بين السماء والارض لا يصعد منه شيء حتى تصلى على نبيک][198]

يعني : له عمر بن الخطاب رضي الله عنه روايت دی ويلي يې دي : د ځمکې او اسمانو ترمنځ ولاړ وي هيڅ شی نه ترې نه خيژي څو چې په خپل نبي درود ووايې.

دا ټول روايتونه راښيي چې درود ويل نه يوازې د دعا د قبليدلو وسيله ده، بلکې بې غير له هغه دعا معلقه وي او د خدای تعالی دربار ته نه رسيږي، که فکر وشي درود وسيله ده نو هغه ذات چې درود د هغه لپاره ويل کيږي بې له شبهې لويه وسيله ده لکه چې يوه حديث شريف کې راغلي دي :

[و عن انس رضي الله عنه قال : جاء رجل الى النبى صلى الله عليه وسلم فقال : يا رسول الله! اصبت حداً فاقمه علی، و حضرت الصلوة فصل مع رسول الله صلى الله عليه وسلم فلما قضى الصلوة قال : يا رسول الله! انی

---

[197]. رواه الترمذي.

[198]. رواه الترمذي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اصبت حداً فاقم فی کتاب الله، قال هل حضرت معنا الصلوة قال نعم قال قد غفر لک][199]

یعني : له انس رضي الله عنه روایت دی ویلي یې دي : نبي صلی الله علیه وسلم ته یو سړی راغی ویې ویل: حد راباندې لازم شوی هغه راباندې جاري کړه. دې وخت کې جمع وډریده رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یې لمونځ وکړ کله یې چې لمونځ ادا کړ ویې ویل : ای رسول الله حد راباندې لازم شوی. د خدای تعالی په کتاب یې راباندې جاري کړه. وې فرمایل : ایا مونږ سره لمانځه کې حاضر وې؟ ویې ویل: هو! وې فرمایل : په تحقیق درته وبخښل شو.

امام مقتدي ته نجات نه ورکوي، بلکې وسیله وي نو نبي علیه الصلوة والسلام چې د امت رحمت دی د هغه په صحبت او قربت سړی د الهي عطیاتو مستحق کیږي ځکه چې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم لمونځ قبلیږي او دعاګاني رښتیني هم په کې قبلیږي او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د امامت لمونځ عین د مقتدي لمونځ دی. نو د مقتدي لمونځ هم قبلیږي تېر ګناهونه یې بخښل کیږي نو په دې حدیث کې د هغه سړي د مغفرت دعا په همدې سبب قبوله شوه چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم پسې یې لمونځ وکړ او لمونځ قبول شو. لمانځه کې یې رښتیني دعا هم قبوله شوه نو حد هم ترې رفع شو.

څرنګه چې درسول الله صلی الله علیه وسلم په معیت د خدای تعالی رضا حاصلیږي او نیک اعمال ستره وسیله وي لکه چې په دې ذکر شوي حدیث کې راغلي (لا یشقی بهم جلیسهم) دا الفاظ رانښیي چې د الله تعالی د رحمت د جوش له امله د ده د کریمۍ شان اوچت او مالا مال وي لکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي :

---

[199]. متفق علیه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

[و عن انس قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا مررتم بریاض الجنة فارتعوا قالو و ما ریاض الجنة قال : حلق الذکر] [٢٠٠]

یعني : له انس رضي الله عنه روایت دی ویلي یې دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : لکه چې د جنت په باغچو تېرېږی نو وځري. صحابه وو کرامو رضي الله عنهم وویل : د جنت باغچې کومې دي؟ ویې فرمایل : د ذکر حلقې.

نو یوه ګړۍ بایدبې د خدای تعالی له ذکر او یاد تېره نه شي او نه سړی غافل شي د ذکر د محفل په برخه کې الله تعالی فرمایلي دي :

[...يَذْكُرُونَ اللّهَ قِيَاماً وَقُعُوداً وَعَلَىَ جُنُوبِهِمْ ...] [٢٠١]

ژباړه : یادوئ الله تعالی په ولاړې په ناستې او په څنګو خپلو.

په زړه او ژبه د خدایتعالی ذکر او یادول لازم دي چې په دې توګه لوړې مرتبې حاصلیږي، د ذکر په محفل کې د ګناه ګار کښېناستل او شرکت کول د خدای تعالی د رحمت څنې مړېدل په برخه کېږي نیک بندګان یې د خدای تعالی په کرم سره وسیله کیږي او د دغې وسیلې په برکت یې نه یوازې دنیوي هیلې پوره کیږي، بلکې اخروي نیکمرغۍ یې هم پوره مالا مال ورکول کیږي.

خواجه محمد یعقوب بګهاروي رحمه الله ویلي دي :

مولانا محمد یعقوب رحمه الله د (وابتغو الیه الوسیله) په برخه کې ویلي دي چې : د وسیلې په برخه کې علما دوه طبقې دي یوه طبقه له وسیلې عمل مرادوي او بله طبقه ترې کامل مرشد یعني صالح بنده مرادوي او صالح بنده بغیر له صالح عمل ممکن نه وي. د صالح اعمالو کولو محرک ټول انبیا علیهم السلام محمد صلی الله علیه وسلم، صحابه کرام، تابعین، تبع

---

[٢٠٠]. رواه الترمذی.

[٢٠١]. ال عمران / ١٩١

(c) ketabton.com: The Digital Library

تابعين د امت صلحا دي او تر قيامته دغه لړۍ جاري ده، چې د حق د لارې غوښتونکي د هغو په قدم پل اخلي.[۲۰۲]

نيک اعمال د لوړ مقام حاصلولو وسيله ګرځي د امت د صالحينو متعلقين وسيله دي نو ذکر او ذاکر دواړه محترم او دواړه وسيله دي.

عبدالرحمن بن سهل بن حنيف روايت کړی چې کله دا ايت نازل شو :

[وَاصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ ...][۲۰۳]

ژباړه : او د هغو کسانو سره صبر وکړه چې ببګاه او سبا خپل رب غواړي، دعا کوي او ذکر کوي.

نو نبي صلی الله عليه وسلم وفرمايل :

[فوجد قوماً يذکرون الله فيهم ثائر الراس و جاف الجلد و ذوالتوب الواحد فطا راهم جلس معهم و قال الحمد لله الذی جعل فی امتی من امرنی ان اصبر بنفسی معهم][۲۰۴]

يعنې : نو يو قوم يې وموند چې الله تعالی يې ياداوو په دوی کې ګردجن سری وچ پوستکی د يوې جوړې خاوند و نو کله يې چې دوی وليدل دوی سره کښيناست او ويې ويل : حمد هغه خدای لره دی چې زما په امت کې يې داسې څوک پيدا کړي چې ما ته امر کوي چې په خپله له دوی سره صبر وکړم.

حضرت محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم د الله تعالی محبوب چې د ذاکرينو مجلس ته تشريف وړي، ده ته په دې کار کې کومه اړتيا نشته خو ددې لپاره چې د ده سنت او تعليم د امت لپاره درس شي چې مسلمانان ذاکرينو سره کښيني او د هغوی له فيض په دنيا او اخرت کې مستفيد شي لکه چې الله تعالی فرمايلي دي :

---

۲۰۲. ملفوظات حضرت مولانا محمد يعقوب رحمة الله.

۲۰۳. الکهف / ۲۸.

۲۰۴. طبراني.

(c) ketabton.com: The Digital Library

[الأَخِلاَّءُ يَوْمَئِذٍ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ إِلاَّ الْمُتَّقِينَ][۲۰۵]

ژباړه: یاران (دوستان د کفر او معصیت) په دنیا کې په دغې ورځ (د قیامت کې) ځیني د دوی له ځیني نورو سره به دښمنان وي مګر (پاتې به وي دوستي) د متقیانو.

یو روایت دی چې حضرت ابو ادریس خولاني رحمة الله تعالی علیه ویلي دي چې: معاذ بن جبل رضي الله عنه فرمایلي دي:

[ابشر فانی سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: قال الله تعالی وجبت محبتي للمتحابين فيّ، و المتجالسين فيّ و المتزاورين فيّ، و المتباذلين فيّ][۲۰۶]

یعنې: زیری درکوم چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه مې اوریدلي ویلي یې دي: الله تعالی فرمایلي دي: زما محبت زما د مینه والو او زما د ناستې والاوو او زما د لیدونکو زیارت کوونکو او له ما جاریدونکو لپاره واجب دی.

نو د دې لپاره چې د خدای تعالی له امله محبت کوونکی به د قیامت په ورځ د عرش عظیم سوري لاندې وي چې نور سوری به نه وي نتیجه دا راوځي چې د انبیاوو کرامو، صدیقینو، شهداوو او صالحینو صحبت او محبت عقیده د مؤمنانو پانګه ده چې دنیا کې د سرفرازۍ او اخرت کې یې د نجات ذریعه ګرځي.

## د دعا غوښتنې وسیله:

د مخه څرګنده شوه چې نیک عمل او نیکان وسیله دي مسلمانان ترې فیض اخلي، دنیا کې یې حاجتونه حل او خطاګانې یې معافیږي د خلوت په وخت کې نه یوازې له الله تعالی د دعا مناجات کوي، بلکې په دې وخت کې خدای تعالی ته دعا کې وایي چې: د فلاني د غوره شخصیت په فطري

---

۲۰۵. الزخرف/ ۶۷.

۲۰۶. حدیث صحیح رواه موطاء امام مالک.

(c) ketabton.com: The Digital Library

توگه دغه مشکل حل کړي، الله تعالی ته دعا کوي او له وسیلې نه کار اخلي نو دې برخه کې د قرآن او سنت دغه تعلیمات دي چې بیان شول. د یوسف علیه السلام د قمیص په برکت د یعقوب علیه السلام سترګې شفا مومي او د یوسف علیه السلام ورونه خپل پلار نه غواړي چې خدای تعالی نه د دوی د خطاګانو معافي ورته وغواړي او سفارش او سپارښتنه او شفاعت یې وکړي.

[قَالُوا يَا أَبَانَا اسْتَغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا إِنَّا كُنَّا خَاطِئِينَ ﴿٩٧﴾ قَالَ سَوْفَ أَسْتَغْفِرُ لَكُمْ رَبِّي إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ ﴿٩٨﴾][٢٠٧]

ژباړه: وویل (ورونو د یوسف) ای پلاره زمونږ مغفرت وغواړه له الله زمونږ لپاره د ګناهونو زمونږ بېشکه چې مونږ وو خطا کوونکي (ګناهګاران ستا او دیوسف په حق کې) وویل (یعقوب ځامنو خپلو ته) ژر به مغفرت وغواړم تاسې ته له ربه خپله، بېشکه دغه (الله) هم دی دی ښه بخښونکی (د خطیاتو) ډېر رحم والا (په انعام د اجر او ثواب سره)

د یعقوب علیه السلام زوی موحد و او خبر و چې صرف الله تعالی بخښونکی او مهربان دی خو له یعقوب علیه السلام د دعا التماس کوي او د قبلېدلو شرف یې غواړي. یعقوب علیه السلام د توبې او استغفار تلقین نه کوي، بلکې وعده ورکوي چې ژر به د دوی د ګناهونو د معافۍ درخواست او عرض د الله تعالی دربار ته وړاندې کړي. دا محض یوه واقعه نه ده، بلکې دا د قران کریم تعلیمات دي، د قرآن کریم هر ایت انسانانو ته لارښود دی او د هرې واقعې بیانولو کې یې غور او فکر پکار دی نو مؤمنانو ته په دې واقعه کې غور او فکر په کار دی.

استغفرلکم ربی ... د فکر مقام دی:

---

[٢٠٧]. یوسف / ٩٧-٩٨.

(c) ketabton.com: The Digital Library

قرآن کریم صرف د الفاظو مجموعه نه ده، بلکې یو یو حرف یې د معنی ګانو خزانه ده چې د ټولو کائناتو لپاره د خدای تعالی معجز نظام دی. په دې ایت کې د فکر او توجه وړ نکته دا ده چې یعقوب علیه السلام د خپلو زامنو درخواست ومانه، رد یې نه کړ او نه یې ورته وویل چې هغه د ټولو کائناتو رب دی په خپله ترې خپل حاجت وغواړئ، بلکې ورته ویې ویل : (ربي) هغه زما رب دی، په دې ټکي کې معنوي حسن دی او هغه دا چې الله تعالی د ټولو رب دی خو یعقوب علیه السلام چې وایي (ربي) مراد یې دا دی چې زه په الله تعالی د عطا او رحمت کولو ناز لرم، ستاسې په برخه کې زما د دعا کولو او د هغې د منلو ډاډ درکوم ځکه چې هغه (ربي) زما رب دی.

د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم دعا او وسیله :

په قرآن کې د خدای تعالی ارشاد دی :

[... وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذْ ظَلَمُوا أَنفُسَهُمْ جَاءُوكَ فَاسْتَغْفَرُوا اللَّهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُولُ لَوَجَدُوا اللَّهَ تَوَّاباً رَحِيماً][۲۰۸]

ژباړه : او که بېشکه دغه (منافقان) کله چې ظلم وکړي دوی پر ځانونو خپلو (په منلو د حکم ستا) راغلي وي تا ته پس مغفرت غوښتې وي دوی له الله او مغفرت غوښتی وي دوی ته رسول (د الله هم) نو خامخا په موندلی و دوی الله ښه قبلیدونکی د توبې ډېر رحم والا (د اجر او ثواب په انعام سره).

دې مبارک ایت کې خاصې واقعې ته اشاره ده خو قران کریم ټولو ته یو قانون دی نو په دې ایت کې یې د معافۍ درې اصول وضع کړي دي چې څوک هغه په ځای نه کړي د معافۍ توقع یې عبث ده او هغه دا دي:

۱ـ جاؤک : یعنې چې د نبوت مقام ته حاضر او رجوع وکړي.

۲ـ فاستغفروا الله : له الله تعالی مغفرت وغواړئ.

---

[۲۰۸]. النساء / ۶۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ـ واستغفرلهم الرسول : يعني چې د رسول صلى الله عليه وسلم دعا (شفاعت) يې وشي.

دا درې غوښتني چې پر ځای شي نو د الله تعالى له خوا د منلو زيرى دى او كه دا درې شرطونه پوره نه شي د معافۍ امكانات نه موجوديږي، له همدې امله منافقان د معافۍ له استحقاق محروم دي، لكه چې الله تعالى فرمايلي دي :

[وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا إِلَى مَا أَنزَلَ اللَّهُ وَإِلَى الرَّسُولِ رَأَيْتَ الْمُنَافِقِينَ يَصُدُّونَ عَنْكَ صُدُوداً][209]

ژباړه : او كله چې وويل شي دې (منافقانو) ته راځئ! طرف د (حكم د) هغه (كتاب) ته چې نازل كړى (راليږلى) دى، الله (قرآن ته) او طرف (حكم د) رسول (د ده) ته د (جګړې د فيصلې لپاره) نو ګورى به ته منافقان چې ګرځي به له تا (له ډېرې دښمنۍ) په ګرځېدلو سره.

دا مضمون په دې مبارك ايت كې داسې راغلى دى :

[وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا يَسْتَغْفِرْ لَكُمْ رَسُولُ اللَّهِ لَوَّوْا رُءُوسَهُمْ وَرَأَيْتَهُمْ يَصُدُّونَ وَهُمْ مُسْتَكْبِرُونَ (٦) سَوَاءٌ عَلَيْهِمْ أَسْتَغْفَرْتَ لَهُمْ أَمْ لَمْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ لَنْ يَغْفِرَ اللَّهُ لَهُمْ إِنَّ اللَّهَ لا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفَاسِقِينَ (٦)][210]

ژباړه : او كله چې وويل شي دوى ته راشئ (په عذر غوښتلو سره) چې بښنه وغواړي تاسې ته (محمد) رسول د الله تاو كړي دوى سرونه خپل (مخ ترې واړوي) او وينې ته دوى چې ښنګ كوي (له درتللو نه په خدمت د تا) حال دا چې دوى لويي كوونكي (له توبې او استغفار نه) برابر ده په دوى باندې چې بښنه غواړې ته (اى محمده!) دوى ته او كه بښنه نه غواړې ته (اى محمده!) دوى ته له سره به بښنه نه كوي الله دوى ته بېشكه الله نه ښيي سمه لاره قوم فاسقانو نافرمانو ته.

---

[209]. النساء / ٦١.

[210]. المنافقون / ٥-٦.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې دوه مبارکو ایاتو کې راغلي دي چې منافقان د نبوت دربار ته نه حاضرېدل ځکه د مغفرت دروازه پرې بنده ده بل دا چې مؤمنانو ته رسول الله صلی الله علیه وسلم دعا د زړه تسکین وه لکه چې الله تعالی فرمايلي دي:

[وَمِنْ الْأَعْرَابِ مَنْ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَيَتَّخِذُ مَا يُنفِقُ قُرُبَاتٍ عِنْدَ اللَّهِ وَصَلَوَاتِ الرَّسُولِ أَلا إِنَّهَا قُرْبَةٌ لَهُمْ سَيُدْخِلُهُمْ اللَّهُ فِي رَحْمَتِهِ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ][٢١١]

ژباړه: او ځيني له (محرابي) اعرابو څخه هغه دي چې ایمان لرونکي دي په الله او په ورځې اخرې (چې قیامت دی) او نیسي (ګڼي شمېرې) هغه شی چې لګوي (يې په لاره د الله کې) (اسباب) د نږدې والي په نزد د الله او (سبب د) دعاو د رسول الله، خبردار شئ چې دغه (نفقات یا صلوة سبب د) نږدې والي دی دوی ته ژر به داخل کړي دوی الله په رحمت خپل کې بېشکه چې الله ښه مغفرت کوونکی (د متصدقاتو) ډېر مهربان دی (پر متفرقاتو).

د توبې سورت کې راغلي دي:

[خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِمْ بِهَا وَصَلِّ عَلَيْهِمْ إِنَّ صَلاتَكَ سَكَنٌ لَهُمْ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ][٢١٢]

ژباړه: واخله (ای محمده!) له مالونو د دوی صدقه (زکوة یا خیرات) چې ښه پاک کړي ته دوی له ګناهونو (یا له محبته د مال) او بابرکته کړې ته دوی د هغه په وسیله او دعا وکړې (د نیکی) دوی ته، بېشکه چې دعا ستا تسکین دی دوی ته، او الله ښه اوریدونکی (د ټولو اقوالو) ښه عالم دی په ګردو (ټولو احوالو).

---

[٢١١]. التوبه/ ٩٩.

[٢١٢]. التوبه/ ٢٠٣.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړي مبارک ایت کې د مؤمنانو ذکر شوی دی چې نه له خدای تعالی منکر دي او نه له پیغمبر صلی الله علیه وسلم څنې بلکې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حضور شریفېدل د الهي قرب ذریعه ګڼي.

دوهم مبارک ایت کې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د خدای تعالی حکم دی چې مؤمنانو ته د مال په صدقه کولو د نفس تزکیه ورکړه، دعا ورته وکړه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم دعا د مؤمنانو د تسکین باعث کیږي، دا څرګندونې، لارښوونې دي د نبوت مقام د غیر الله ځای نه دی، بلکې د محبوب الله ځای دی چې واضحه لارښوونې یې کړې دي.

## یو ګمراه کوونکی خیال او رد یې:

ځینې خلک غلط فهمي کوي چې قرآن کریم کې نبي علیه السلام ته ویل شوي دي که منافقینو ته اویا ځلې مغفرت وغواړې معافي یې امکان نه لري او دعا ورته ګټه نه رسوي. که قرآن کریم کې غور وشي څرګندیږي چې منافقینو ته دعا ګټه نه رسوي خو مؤمنانو ته دعا فایده لري ځکه چې الله تعالی (وما ارسلنک الا رحمة للعلمین) او (فبما رحمة من الله لنت لهم) او (عزیز علیه ما عنتم) فرمایلي دي که مؤمنانو ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم دعا بې ګټې وګڼل شي بیا د پاسنیو ایاتو د مفهوم مورد نه پیدا کیږي. الله تعالی فرمایلي دي:

[... وَلِلَّهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَلَكِنَّ الْمُنَافِقِينَ لا يَعْلَمُونَ][۲۱۳]

ژباړه: او خاص الله لره دی عزت او غلبه او رسول د ده لره دی او مؤمنانو لره دی و لیکن منافقان نه پوهیږي (په عزت او رزاقیت د رب العزت).

له الله تعالی سره شرک نیول د خدای تعالی وحدانیت او د نبوت عظمت ته توهین دی. دا دواړه جرمونه د معافولو وړ نه دي نو د مؤمن او منافق او

---

۲۱۳. المنفقون / ۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشرک فرق دا دی چې منافق او مشرک ته د عقیدې نه لرلو له امله د معافولو دعا فایده نه کوي.

د احادیثو په رڼا کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم دعا :

په یوه حدیث شریف کې راغلي دي :

[ان امراة سوداء کانت تقیم المسجد اوشابا ففقدها او فقده رسول الله صلیالله علیهوسلم فسال عنها او عنه فقال مات، قال : افلا کنتم اذنتمونی به فکانهم صغروا امرها او امره فقال دلونی علی قبره، فدلوه فصلی علیه ثم قال : ان هذه القبور مملوءة ظلمة علی اهلها و ان الله تعالی نورها بصلاتی علیهم] [۲۱۴]

یعنې : یوه توره ښځه یا یو ځلمی په مسجد کې مقیم و نو رسول الله صلی الله علیه وسلم نه ورک شو. پوښتنه یې وکړه، چا ورته وویل : مړ شو وې ویل : ولې مو زه خبر کړی نه وم لکه چې د هغه دا کار یې کوچنی ګڼلی و نو ویې ویل : قبر یې راوښیئ، نو قبر یې وروښود لمونځ یې ورباندې د جنازې ادا کړ. بیا یې وفرمایل : بېشکه دا قبرونه له تیارو ډک دي خدای تعالی زما په لمانځه په دوی باندې دا قبرونه روښانه کړل.

او د انس رضي الله عنه په روایت حدیث شریف کې راغلي دي :

[و عن ابی خلده قال قالت لابی العالیه سمع انس من النبی صلی الله علیه وسلم قال خدمه عشر سنین و دعا له النبی صلی الله علیه وسلم و کان له بستان بحمل فی کل سنة الفاکهة مرتین و کان فیها ریحان یجلی منه ریح المسک.] [۲۱۵]

یعنې : له ابي خلده روایت دی ویلي یې دي چې دی (خلدی) ابي العالیه ته وویل : انس رضي الله عنه له رسول الله صلی الله علیه وسلم اوربدلي چې لس کاله یې د ده خدمت کړی او ده ته نبي صلی الله علیه وسلم دعا کړې او

---

[۲۱۴]. متفق علیه.

[۲۱۵]. رواه الترمذی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده یو باغ درلود چې هر کال یې دوه ځلې مېوه ترې اخستله او د ریحان (کشمالي) ګلان په کې وو چې مښکو بوی به ترې تلو.

## د رسول الله صلی الله علیه وسلم روضه کې د صحابه کرامو طرز عمل:

رسول الله صلی الله علیه وسلم د وچ کالۍ په وخت به د صحابه وو کرامو په غوښتنه دعا وکړه د رحمت باران به ووا ورید او پس له رحلت یې هم چې دوی صلی الله علیه وسلم به وسیله کېده الله تعالی به باران اوراوه لکه چې په یوه قحطۍ کې خلک حضرت عائشې رضي الله عنها ته حاضر شول او شکایت یې ورته وکړ عائشه رضي الله عنها ورته وفرمایل:

[انظروا قبر النبی صلی الله علیه وسلم فاجعلوا منه کری الی السماء حتی لا یکون بینه و بین السماء سقف ففعلو فمطروا مطراً حتی فتقت من الشحم فسمی عام الفتق][۲۱۲]

یعنې: د رسول الله صلی الله علیه وسلم قبر وګورئ له هغه اسمان ته ښه کیدل وکړئ څو چې د ده او د اسمان په منځ کې بام نه وي، دا کار یې وکړ نو باران واورید ان تر دې چې وازدې وچاودېدلې نو دا کال یې په چولي کال ونوماوه.

### د غور وړ نکته:

د غور نکته دا ده چې صحابه وو کرامو له نبي صلی الله علیه وسلم اسلامي تعلیمات زده کول لکه چې استسقاء تعلیم یې فرمایلی دی نو عائشې رضي الله عنها چې خلک د باران د غوښتنې لپاره د رسول الله صلی الله علیهو سلم روضې ته لیږل معمولي خبره نه ده، حقیقت دا دی چې صحابه وو کرامو ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مقام عظمت معلوم و او پوهیدل چې د دنیا تقوی او طهارت جمع شي چې د رب العلمین د محبوب صلی الله علیه وسلم د کرم نظر نه وي د خدای تعالی په دربار کې

---

[۲۱۲]. رواه الدارمی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې سرخرويي ناممکنه ده، له دې امله سيده عائشه صديقه رضي الله عنها خلک د رسول الله صلى الله عليه وسلم روضې مبارکې ته په حاضرېدلو ترغيب کړل او صحابه وو کرامو پرې اعتراض نه دی کړی او خلکو چې د عائشه رضي الله عنها په فرمودې عمل وکړ په دې کال ډېرې غلې وشوې او دا د ارزانۍ او فراخۍ کال و نو ثابته شوه چې د عائشې رضي الله عنها په عقيده د رسول الله صلى الله عليه وسلم وسيله کول د دوی په ژوند او پس له اتصال يې له دنيا څخه د خلکو د دعا قبليدلو ذريعه گرځي نو د فکر او نظر خاوندان دې شرک ونه گڼي دا کبری وسيله غير ضروري گڼل بد عقيدتي څرگندول دي، د خدای تعالی او د رسول الله ذکر او يادول د اذان اقامت او لمانځه عبادتو کې راغلي دي، او دې ټولو کې د محمد صلى الله عليه وسلم نوم موجود دی د ترميم او تنسيخ گنجايش نه لري. دنيا شاهده ده چې مسلمان د رسول الله صلى الله عليه وسلم له شهادت ويلو پرته اذان او اقامت او لمونځ نه ادا کوي په اذان او اقامت کې (اشهد ان محمداً رسول الله) او په لمانځه کې اسلام عليک ايها النبی وايي د حضرت ابراهيم عليه السلام او د محمد صلى الله عليهوسلم مقام په کې ذکر کوي، د خدای تعالی د ذکر او د رسول الله صلى الله عليه وسلم د ذکر ترمنځ د جلا کولو هاند د بد باطنۍ ثبوت دی، خدای تعالی د مسلمان عقيده له بدۍ ساتي ځکه چې احاديثو کې روايات دي چې د ټولو رانقلول مشکل دي. يو روايت يې رانقلوو چې پس له وصال د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه د دعا په غوښتلو دلالت کوي.

حضرت عمر رضي الله عنه په خپل عدل اخرين دور کې چې د قحطۍ کال راغلی و حضرت بلال بن حارث مزئی رضي الله عنه سره روضې مبارکې ته حاضر شول:

عن مالک الدار قال: و کان خازن عمر على الطعام قال اصاب الناس قحط من زمن عمر فجاء رجل الى قبر النبی صلى الله عليه وسلم فقال: يا رسول

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله! استسق لامتک فانهم قد هلکوا ، فاتی الرجل فی المنام فقیل له أأنت عمر فا قرأته السلام و اخبره انکم ستسقون و قل له علیکم الکیس فاتی عمر فاخبره فبکی عمر ثم قال : لا الوا الا ما اعجز عنه][217]

یعنې : له مالک الدار روایت دی چې د عمر رضي الله عنه گدام دارو وویل : په خلکو د عمر رضي الله عنه په وخت کي قحطي راغلې وه نو یو سړی د نبي صلی الله علیه وسلم قبر ته راغی ویې ویل : ای رسول الله! امت ته دې باران وغواړه بېشکه دوی هلاک شول، نو سړی په خوب کې ورته راغی ورته ویې ویل : آیا ته عمر یې؟ نو سلام مې پرې ووایه او خبر یې کړه چې تاسې باران وغواړئ او ورته ووایئ هوښیار شئ نو عمر رضي الله عنه ته ورغی خبر یې کړ نو عمر رضي الله عنه وژړل. بیا یې وویل : نه ورځم مگر هغه ځیز ته چې زه ترې عاجز یم.

داسې نور ډېر مبارک احادیث شته چې پس له وصال د نبي کریم صلی الله علیه وسلم نه یې د کولو غوښتنه شوې ده.

د یمامه په جگړه کې د اسلام له مجاهدینو د (یا محمداه) نعره کول ثابت دي نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم وسیله ترک کول پس له وصال نه یې غتیه کم فهمي ده. که د رسول الله صلی الله علیه وسلم وسیله گرځول پس له وصال نه وي نو د کلمې ویلو ته به ضرورت نه وای چې دا صریح کفر دی، حقیقت دا دی چې بې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له تصدیق څوک مؤمن کیدلای نه شي د مخه له وصال او پس له وصال بحث یې لغو او فضول دی.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم وصال (امت ته رحمت) دی :

د رسول الله صلی الله علیه وسلم کبری وسیله د قبل وصال او بعد وصال توپیر نشته لکه چې فرمایلي یې دي :

---

[217]. مصنف ابن ابی شیبه.

www.melitahrik.com 0771400116

(c) ketabton.com: The Digital Library

[حیاتی خیرلکم و مماتی خیرلکم] [۲۱۸]

یعنې: زما ژوند ستاسې لپاره خیر دی او زما مرګ ستاسې لپاره خیر دی.

او ابو موسی اشعری رویات کړی دی چې:

[عن النبی صلی الله علیه وسلم قال اذا اراد الله تعالی رحمة امة قبض نبیها فجعله لها فرطا و سلفا بین یدیها و اذا اراد هلکة امة عذبها و نبیها حی فاهلکها و هو من ینظر فاقر عینه بهلاکها حین کذبوه وعصوا امره] [۲۱۹]

یعني: له نبي صلی الله علیه وسلم روایت دی. فرمایلي یې دي کله چې خدای تعالی د خپل امت د رحمت اراده وفرمایي نبي ترې مخکې واخلي او کله چې د امت د هلاکت اراده وکړي عذاب پرې نازل کړي او نبي یې ژوندی وي نو هلاک یې کړي او دی ژوندی وي ګوري او سترګې یې په هلاکت د دوی یخې شي هغه وخت چې نسبت د دروغو یې ورته کاوه او د ده د امر سرغړونه یې کوله.

ثرګنده خبره ده چې له وصال وروسته د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وسیله کولو د دروازې بندول ضروري نه دي بلکې تر قیامته دغه دروازه د مؤمنانو د منیې او محبت او عقیدې مرکز دی، د رسول الله صلی الله علیه وسلم د رحمت خیرات همیشه ورکول کیږي د ظاهري او د وصال قید له شیطاني وسوسې پرته بل څه نه دي، د ابو داود په سننو کې راغلي دي چې قیس بن سعد ویلي دي: مونږ رعیت د خپل قوم رئیس ته سجده کوو څو ته له هغه لا ښه د دې وړ یې چې تا ته سجده وکړو، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: که تاسې زما په قبر راشئ بیا به هغه ته هم سجده کوئ، دا عرض مو ښه نه دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل چې داسې مه کوئ.

---

۲۱۸.

۲۱۹. رواه مسلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی بحث لاندې اشرف علي تهانوي د رسول الله صلی الله علیه وسلم پوښتنه ځرګنده کړې ده چې له دې پوښتنې ثابتیږي چې د مسجودیت لپاره ژوند شرط دی او ظاهره ده چې حقیقي ژوندی خدای تعالی دی نو هغه د سجدې وړ دی او بس بله دا نکته ترې ځرګندیږي چې که رسول الله صلی الله علیه وسلم همېشنی ژوند درلودلای بیا به د الوهیت شبه پرې کېدلای نو د ده ظاهري وفات له دغه خاص حیات نه صرف د عدم الوهیت دلیل ګرځولو لپاره دی، نور دی ستر رحمت دی.[۲۲۰]

یعنې د رسول الله صلی الله علیه وسلم وصال (له دې دنیا هغې دنیا ته) د الهویت د نفي لپاره دی، مؤمنان له بې ثباتې دنیا نه اخرت ته ترجیح ورکوي او د رسول الله صلی الله علیه وسلم له خپل امت سره د تعلق انقطاع ثابته نه ده ډېر احادیث موجود دي چې: د امت اعمال هره ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم دربار ته وړاندې کیږي. رسول الله صلی الله علیه وسلم د مؤمنانو په نېکیو خوښي ښکاروي او ګناه ګارانو ته د مغفرت دعا کوي.

## د امت پاکان وسیله کول:

حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ستره وسیله کولو پسې نور انعام موندونکي خلک هم وسیله کېدلای شي. دلیل یې د بخاري هغه حدیث شریف دی چې انس بن مالک رضي الله عنه نه داسې روایت شوی دی:

[عن انس بن مالک عمر بن الخطاب رضي الله عنه کان اذا قحطوا استسقی بالعباس بن عبد المطلب رضی الله عنه فقال: اللهم انا نتوسل الیک بنبینا صلی الله علیه وسلم فتسقینا و انا نتوسل الیک بعم نبینا فاسقنا قال فیسقون][۲۲۱]

یعنې: له انس بن مالک رضي الله عنه روایت دی چې عمر بن الخطاب رضي الله عنه باندې به چې قحطي راغله په عباس بن عبد المطلب رضي

---

[۲۲۰]. نشر الطیب فی ذکر النبی الحبیب صلی الله علیه وسلم د اشرف علي تهانوي.

[۲۲۱]. رواه النبی الی ابواب الاستسقاء.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله عنه به يې باران غوښته نو ويل به يې : اى خدايه مونږ تا ته زمونږ نبي صلى الله عليه وسلم وسيله کاوه نو باران پر مونږ وا وروه او زه د نبي تره درته وسيله کوم نو په مونږ باران وکړه. ويل يې : نو باران به وشو.

نو واضحه شوه چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم کبرى وسيله ده چې د خداى تعالى په دربار کې ښه قبليږي او نور پاکان لکه حضرت عمر رضي الله عنه حضرت عباس رضي الله عنه او داسې نور چې وسيله شي د خداى تعالى په دربار کې يې وسيله کول قدر لري.

د حضرت امير معاويه رضي الله عنه عمل :

حضرت امير معاويه رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم يو جليل الشان صحابي و هغه د رسول الله صلى الله عليه وسلم قميص مبارک او څادر او تهبند مبارک ( ) څو ويښتان مبارک او نوکان مبارک ساتلي و د وفات کېدلو په وخت کې يې وصيت فرمايلى و چې:

[و منها ان لما حضرته الوفاة اوصى ان يكفن فى قميص كان رسول الله صلى الله عليه وسلم كساه اياه و ان يجعل مما يلى جسده و كانت عنده قلامة اظفار رسول الله صلى الله عليه وسلم فأوصي أن تُسحق و تجعل في عينيه و فمه، وقال : افعلوا ذالک، و خلّوا بيني و بين أرحم الراحمين.][222]

يعنې : ځينې يې له هغه دا دى چې : کله يې وفات نږدې شو وصيت يې وکړ چې په هغه قميص کفن ورکړي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وراغوستى و چې جسد يې پرې پټ کړي او له ده سره د رسول الله صلى الله عليه وسلم پرې کړي نوکان وو نو وصيت يې وکړ چې هغه ميده کړي او په سترګو او په خولې يې ورته واچوئ او ويې ويل : دا پر ما وکړئ او په منځ زما او په منځ د ارحم الراحمين کې مې پرېږدئ.

[222]. تطهير الجنان و النسان ابن حجر مکی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او په رسالة الناهيه عن طعن امير المؤمنين معاويه رضى الله عنه كې دا روايت راغلی دی:

[و كان عنده ازار رسول الله صلى الله عليه وسلم وردائه و قميصه و شيء من شعره و اظفاره فقال كفنوني في قميصه وادرجوني في ردائه و ازروني في ازاره واحشو منخري و مواضع السجود مني بشعره و ظفره و خلوا بيني و بين ارحم الراحمين][223]

يعنې: چې له ده سره ازار (لونګ) د رسول الله صلى الله عليه وسلم څادر او قميص او يو څه ويښتان او نوکان مبارک وو نو وې ويل: قميص يې راته کفن کړئ او څادر کې مې تاو کړی او ازار يې راته ازار کړی او ويښتان او نوکان يې په سپوږمو او د سجدو په ځايو راته ومومبئ ما او ارحم الراحمين مې سره پرېږدئ.

عثمان بن وهب له رسول الله صلى الله عليه وسلم روايت كړی چې د ويښتانو مباركو د علاج ثبوت په كې راغلی دی او هغه داسې دی:

[فارسلني اهلي الى ام سلمة بقدح من ماء و كان اذا اصاب الانسان عين او شيئ بعث اليها فاخرجت من شعر رسول الله صلى الله عليه وسلم و كانت تمسكه في جلجل من فضة فخضخضته له فشرب منه قال فاطلعت في الجلجل فرايت شعرات حمراء][224]

يعنې: كورنۍ مې ام سلمه ته يوه پياله اوبو سره وليږلم، څوک به چې له نظره شو يا به څه پرې وشول هغې ته به استول كېده نو هغې به د رسول الله صلى الله عليه وسلم ويښته مبارک د سپينو زرو له خولۍ راوبسته او په هغو اوبو كې به يې واهه او هغه به يې چيكلې، وويل: ما چې هغې طولۍ كې كتل سره ويښتان مې په كې وليدل.

---

[223]. الناهيه عن طعن امير المؤمنين معاويه.

[224]. رواه البخاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له پورتني توضيحاتو څرګندېږي چې صحابه وو کرامو وسيلې ته زيات اهميت ورکاوه که وسيله شرک وای جناب معاويه رضي الله عنه چې جليل القدر صحابي و د رسول الله صلی الله عليه وسلم تبرکات به يې نه وسيله کول. ده عقيده لرله چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم په بدن مبارک د لګېدليو جامو مبارکو او د ده صلی الله عليه وسلم د مبارکو وېښتو او مبارکو نوکانو په برکت به الله تعالی راسره د رحم او کرم معامله وفرمايي، که دا عقيده يې نه وای بيا يې دې عمل ته اقدام نه کاوه ځکه چې له صحابي د فضول عمل توهم او توقع نه کېږي ځکه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي : [زما صحابه د ستورو غوندې دي د هر يوه پيروي چې وشي هدايت مومي.] له دې امله د صحابه وو کرامو قول او عمل له سنتو خلاف نه وي، د صحابه وو کرامو اعمال او اقوال په احاديثو کې له رسول الله صلی الله عليه وسلم ثابت دي.

څوک چې دعا کوي او څوک ورنه وغواړي چې ما ته هم دعا وکړه دا عمل شرک، بدعت يا له محمدي شريعت خلاف نه دی، بلکې په خپله د نبي صلی الله عليه وسلم له خوا امت ته د نمونې په ډول داسې راوړو چې :

حضرت عمر فاروق رضي الله عنه رسول الله صلی الله عليه وسلم ته عرض وکړ چې يا رسول الله اجازه راکړه چې عمره ادا کولو لپاره مکې مکرمې ته سفر وکړم. رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل : ای زما وروره! ما په دعا کې ياد کړه.

عن ابن عمر رضی الله عنه انه استاذن النبی صلی الله عليه وسلم فی العمرة فاذن له و قال : يا اخی اشرکنا فی شیءٍ من دعائک و لا تنسنا .

په يوه روايات کې دا الفاظ وربانده زيات شوي دي : فقال : کلمة، ما يسرنی ان لی بها الدنيا.[۲۲۵]

---

۲۲۵. سنن ابن ماجه، ابواب المناسک.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يعنې : له عبدالله زوی د عمر رضي الله عنهما روايت دی چې : له نبي صلی الله عليه وسلم يې د عمرې اجازه وغوښتله نو اجازه يې ورته ورکړه او ويې ويل : ای وروره په دعا کې مې يو څه شريک کړه او هېر مې نه کړې.

څرګنده ده چې د صحابي مرتبه له نبي او رسول سره برابره نه ده، عمر فاروق رضي الله تعالی عنه ته د جنتي والی د زيري په برخه کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د احسان مرهون دی نو رسول الله صلی الله عليه وسلم عمر رضي الله عنه ته د دعا کولو کومه اړتيا نه لرله.

خو دا چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم هر قول او عمل امت ته حسنه طريقه، هدايت او لارښوونه ده. له دې امله عمر رضي الله عنه چې د بيت الله شريف عمرې کولو ته له رسول الله صلی الله عليه وسلم اجازه وغوښته هغه نه يوازې اجازه ورته وفرمايله بلکې سره له دې چې د عمر رضي الله عنه دعا ته يې اړتيا نه درلوده ورته ويې فرمايل چې ما هم په دعا کې هېر نه کړې او دعا راته وکړې، دا د دې لپاره چې : امت ته يې تعليم او لارښوونه وي.

حضرت اويس قرني رضي الله عنه او د رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمان :

له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره د اويس قرني صاحب بې ساری مينه او محبت و. يو وخت رسول الله صلی الله عليه وسلم عمر رضی الله عنه ته وفرمايل :

[عن أسير بن جابر رضی الله عنه ان اهل الکوفة و فدوا علی عمر رضی الله عنه وفيهم رجل ممن کان يسمی باويس فقال عمر : هل ههنا احد من القرنين فجاء ذلک الرجل فقال عمر ان رسول الله صلی الله عليه وسلم قد قال : ان رجلا ياتيکم من اليمن يقال له اويس لا يدع باليمن غير ام له قد

(c) ketabton.com: The Digital Library

كان به بياض فدعا الله تعالى فاذهبه الا موضع الدينار او الدرهم فمن لقيه منكم فليستغفرلكم][٢٢٦]

يعني: له اسير زوی د جابر رضي الله عنهما روايت دی چې د کوفيانو يوه ډله عمر رضي الله عنه ته راغله په دوی کې يو سړی و چې اويس نومېده نو عمر رضي الله عنه ووېل: ايا تاسې کې دلته د قرنين څوک شته؟ دا سړی ورته راغی نو عمر رضي الله عنه ووېل چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: له يمن يو سړی چې اويس ورته وايي تاسې ته له يمن نه راځي، په يمن کې به يوه مور لري په ده سپينوالی (پس) وي خدای تعالی ته دعا وکړي هغه به لاړ شي مگر د دينار يا درهم په اندازه ځای به پرې پاتې شي نو له تاسې چې څوک ورسره مخ شئ نو تاسې ترې د مغفرت دعا وغواړئ.

حضرت اويس قرني رضي الله عنه د حضرت عمر رضي الله عنه په يوه روايت کې داسې راغلي دي:

[عن عمر رضی الله عنه قال: انی سمعت رسول الله صلی الله عليه وسلم يقول ان خيرالتابعين رجل يقال له اويس و له والدة و كان به بياض فمروا فليستغفرلكم][٢٢٧]

يعني: له عمر رضي الله عنه روايت دی: ويلي يې دي په تحقيق سره ما له رسول الله صلی الله عليه وسلم واورېدل: ويل يې: ښه د تابعينو هغه سړی دی چې اويس ورته وايي. دی مور لري او په ده سپينوالی دی نو ورته ووايئ چې تاسې ته به مغفرت وغواړي.

له دې روايت څرگندېږي چې له غوره اشخاصو د دعا غوښتنه د رسول الله صلی الله عليه وسلم له تعليماتو څخه ثابت دي ځکه چې عمر رضي الله عنه جليل القدر صحابي او د احاديثو په کتابو کې يې ډېر فضايل راغلي دي حتی خپله پيغمبر عليه السلام ده ته د جنتي والی زيری ورکړی دی او د

٢٢٦. رواه مسلم.
٢٢٧. رواه مسلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عمرې کولو په وخت یې دعا ترې غوښتې وه سره له دې پیغمبر صلی الله علیه وسلم ورته حکم کوي چې اویس رضي الله عنه ځنې د مغفرت دعا وغواړه، دا صرف امت ته یو تعلیم دی چې مونږ د ښو خلکو دعا وغواړو.

مؤمنانو ته د فرښتو دعا :

الله تعالی د فرښتو دعا مؤمنانو ته په قرآن کریم کې داسې یاده کړې ده:

[الَّذِينَ يَحْمِلُونَ الْعَرْشَ وَمَنْ حَوْلَهُ يُسَبِّحُونَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَيُؤْمِنُونَ بِهِ وَيَسْتَغْفِرُونَ لِلَّذِينَ آمَنُوا رَبَّنَا وَسِعْتَ كُلَّ شَيْءٍ رَحْمَةً وَعِلْماً فَاغْفِرْ لِلَّذِينَ تَابُوا وَاتَّبَعُوا سَبِيلَكَ وَقِهِمْ عَذَابَ الْجَحِيمِ (٧) رَبَّنَا وَأَدْخِلْهُمْ جَنَّاتِ عَدْنٍ الَّتِي وَعَدْتَهُم وَمَنْ صَلَحَ مِنْ آبَائِهِمْ وَأَزْوَاجِهِمْ وَذُرِّيَّاتِهِمْ إِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ (٨) وَقِهِمُ السَّيِّئَاتِ وَمَنْ تَقِ السَّيِّئَاتِ يَوْمَئِذٍ فَقَدْ رَحِمْتَهُ وَذَلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ (٩)][۲۲۸]

ژباړه : هغه پرښتې چې عرش اخلي او هم هغه (پرښتې) چې چارچاپېره له دې عرش نه دي تسبیح وایي سره د حمد د رب د دوی او ایمان یې راوړی دی په دغه (الله) او مغفرت غواړي (له الله نه) هغو کسانو ته چې ایمان یې راوړی دی (نو وایي چې) ای زمونږ ربه! ته د رحمت او بخشش او علم له مخې هرځیز ته رسېدلیې نو هغو کسانو ته مغفرت وکړه چې توبه یې اېستلې ده او ستا د لارې متابعت یې کړی دی او وساتې دوی له عذابه د دوزخ نه (او هم وایي به) ای ربه زمونږ او ننه باسه دوی په جنتونو د همېشه هستوګنې کې هغه چې وعده کړې ده تا له دوی سره او څوک چې نېک شوی وي له پلرونو د دوی او (له) ښځو د دوی او (له) اولادود دوی، بېشکه چې ته هم ته یې ښه غالب قوي (په انفاذ د احکامو) ښه حکمت والا (چې هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوی) او وساته دوی له بدیو ځنې، او هر

[۲۲۸]. المؤمنون / ۷-۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوک چې ته له بدیو ځخه په دغه ورځ د قیامت کې وساتې نو په تحقیق رحمت دې پرې وکړ او دغه له عذابه ساتل تا هم دغه ډېر لوی بری دی.

قرآن کریم کې دا مضمون بل ځای داسې راغلی دی :

[تَكَادُ السَّمَوَاتُ يَتَفَطَّرْنَ مِنْ فَوْقِهِنَّ وَالْمَلَائِكَةُ يُسَبِّحُونَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَيَسْتَغْفِرُونَ لِمَنْ فِي الْأَرْضِ أَلَا إِنَّ اللَّهَ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ] [229]

ژباړه : نږدې دي اسمانونه له پاسه د دوی د وچولي او پرښتې تسبیح وایي سره د حمد د رب خپل او مغفرت غواړي لپاره د هغه چا چې په ځمکه کې دي (له مؤمنانو)، واوره خبردار شه چې بېشکه هم دغه (الله) ښه مغفرت کوونکی (د طغیانو) ډېر رحم والا دی (په انعام د اجر او ثواب سره).

د ځمکې والاوو د خطاګانو او بدو اعمالو له امله پرښتې مؤمنانو ته دعا کوي، او دا ځرګنده ده چې فرښتې یې له دې چې د خدای تعالی احکام په ځای کوي او دهغه تسبیح وایي بل مرام نه لري نو یقیناً خدای تعالی ورته امر کوي چې ګناهګارانو مؤمنانو ته دعا وکړي چې د الله تعالی له رحمت محروم پاتې نه شي.

روزتي او د دریاب ماهیان :

حضرت ابو هریره رضي الله عنه روایت کړی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي :

[اعطیت امتی خمس خصال فی رمضان لم تعطهن امة قبلهم خلوف فی الصائم اطیب عند الله من ریح المسک و تستغفر لهم الحیتان حتی یفطروا ویزین الله عزوجل کل یوم جنته ثم یقول یوشک عبادی الصالحون ان یتقوا عنهم المؤمنة و یصبر و الیک و یصعد فیه مروة الشیاطین فلا یخلصوا فیه الی ما کانو یخلصون الیه قیل یا رسول الله اهی لیلة القدر قال لا و لکن العامل انما یوفی اجره اذ اقضی عمله] [230]

---

[229]. الشوری / ۵.

[230]. رواه احمد بیهقی.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

یعنې: زما امت ته په رمضان کې پنځه خصلتونه ورکړ شوي دي چې پخوانيو امتو ته نه وو ورکړ شوي. د خولې بوي د روژتي د الله تعالی په نزد د مشکو له بوي ډېر ښه دی او کبان ورته بخښنه غواړي. خدای تعالی هره ورځ جنت ښکلی کوي...؟ وويل شول: ای رسول الله! دا د قدر شپه وي؟ وې فرمايل: نه بلکې عمل کوونکی چې عمل وکړي پوره ثواب يې ورکول کيږي.

په دې مبارک حديث شريف کې د روزې او روزتي فضايل راغلي دي او راښيي چې دروزتي لپاره هر شی دعا کوي خصوصاً د درياب ماهيان، د ځمکې او اسمانونو نور ځيزونه ورته دعا کوي.

د عبدالله بن عباس رضي الله عنه په جنازه ۴ تنه يا ۳ تنه صفونه ازاد شوی غلام حضرت کريب له عبدالله بن عباس رضي الله عنه روايت کړی چې: د قديد يا غسفان يو هلک فوت شوی و د جنازې په وخت کې يې عبدالله بن عباس رضي الله عنه وويل: څومره خلک راټول شوي دي؟ ما ورته وويل: ډېر خلک راغلي دي. ده وويل: ايا څلوېښت تنه به راغلي وي؟ ما ورته وويل: هو! ده وويل: رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: يقول ما من رجل مسلم يموت فيقوم علی جنازته اربعون رجلا لا يشرکون بالله شيئاً الا شفعهم الله فيه.[231]

يعنې: وايي: هېڅ مسلمان سړی به نه وي، چې مړ شي او په جنازه يې څلوېښت سړي ودريږي چې په خدای تعالی يې څه شی شريک کړی نه وي مگر خدای تعالی يې ورته شفيع گرځوي.

په بل حديث شريف د جنازې د صفو په برخه کې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: عن مالک بن هبيرة رضی الله عنه قال: سمعت رسول الله صلی الله عليه وسلم يقول ما من مسلم يموت فيصلی عليه ثلثة صفوف

---

[231]. رواه مسلم کتاب الجنائز.

(c) ketabton.com: The Digital Library

من المسلمين الا اوهب فكان مالک اذا استقل اهل الجنازة جزاهم ثلثة صفوف لهذا الحديث.[۲۳۲]

یعنې : له رسول الله صلی الله علیه وسلم مې واورېدل. ویل یې : هېڅ مسلمان نشته چې درې صفه د مسلمانانو وربانديې جنازه وکړي مگر بخشش ورته کېږي. مالک به د همدې حدیث شریف له کبله خلک درې صفه درول.

له دې روایت څرگندېږي چې د الله تعالی طرح داسې ده چې د مؤمنانو دعا او التجا قبلوي او د مؤمن مړي لپاره د جنت د دروازې د خلاصېدو وسیله کېږي او د جنازې لمونځ د مړي د مغفرت سبب او وسیله گرځي نو چې صالح عمل وسیله وي نو صالح شخص چې د صالح عمل محرک وي په اولی درجه وسیله وي نو غور په کار دی چې وسیلې نه انکار محض عناد دی.

وسیله او یو اعتراض :

وسیله د خدای تعالی او د بنده ترمنځ د واسطې نوم دی چې اطلاق یې په صالحه اعمالو او صالحینو باندې کېږي. حقیقت دا دی چې وسیله د خدای تعالی دربار نه پرته ممکنه نه ده خو ځینې خلک وسیلې ته غلط رنگ ورکوي. د شرک گنلو هاند یې کوي، سعي کوي، چې د خپلې بې خبرۍ له امله د اکثرو دوستانو ذهنیتونه مغشوش کړي، د صالحینو دعا وسیله کول د خپلې عاجزۍ اظهار دی، چې په خپلو اعمالو د مغروریت پر ځای الله تعالی ته د غوره بندگانو د وساطت عرض وړاندې کوي، چې په خپلې عاجزۍ او د خدای تعالی په لویوالي عملاً اقرار کوي.

معترضین وايي :

---

[۲۳۲]. رواه ابوداود کتاب الجنائز.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله تعالی علیم او خبیر دی، مستقیماً دې خدای تعالی ته دعا وشي څوک چې دعا وسیله کړي یا د بل چا په مدد غوښتنه وکړي شرک دی او د خپلې ادعا د ثبوت لپاره د بني اسرائیل سورة د دې مبارک ایت حواله ورکوي او د خپل غلط نظر د ثابتولو کوښښ کوي. هغه مبارک ایت دا دی:

[أُولَئِكَ الَّذِينَ يَدْعُونَ يَبْتَغُونَ إِلَى رَبِّهِمُ الْوَسِيلَةَ أَيُّهُمْ أَقْرَبُ وَيَرْجُونَ رَحْمَتَهُ وَيَخَافُونَ عَذَابَهُ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ كَانَ مَحْذُوراً] [۲۳۳]

ژباړه: دغه معبودان هغه دي چې عبادت (یې) کوي کفار لټوي دغه (کفار) طرف د رب خپل ته وسیله (د نږدیوالي) چې کوم یو له دوی څخه ډېر نږدې دی الله ته او امید لري د رحمت د دغه (الله) او ویرېږي دوی له عذابه د دغه (الله نو څنګه یې بولئ خدایان) بېشکه عذاب د رب ستا (ور او لایق دی) د دې چې وېره ترې وکړای شي (تل تر تله).

د قرآن کریم کلام د خدای تعالی معجز نظام دی او د هر شي تفصیل په کې راغلی دی، د خدای تعالی برحق کتاب دی او خلکو ته هدایت دی چې د هغه په رڼا کې څوک د حق د پېژندلو مرتکب نه شي، عوام خلک صرف په ناظره ویلو د قرآن کریم د عقایدو مشکل نه شي حلولی او علماوو ته ثابتیږي چې د مائدې په صورت کې د صالحه اعمالو وسیله کول مؤمنانو ته ثابته ده صحابه وو کرامو او د امت پاکانو دا طرز عمل او رهنمایي وه، او په دې ذکر شوي مبارک ایت کې د (اولئک الذین یدعون) څخه کافران او مشرکان مراد دي. مؤمنان ئې مراد نه دي او څوک چې په (یدعون) عبادت کول مراد وي بدون له شبهې شرک دی، څرنګه چې دعا عبادت ده، بلکې د عبادت مغز دی نو عبادت یوازې الله تعالی ته کیږي، او مؤمنان غیر له الله تعالی بل چا ته عبادت نه کوي او د (یبتغون الی ربهم الوسیله) الفاظو دلالت په وسیله ګرځولو کې هیڅ تردید نشته، بلکې کافران او

---

[۲۳۳]. بني اسرائیل / ۵۷.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشرکان مراد دی، چې که کافران یا مشرکان عبادت پیل کړي هغه نه منل کیږي ځکه چې بل ایت کې په دارنګه راغلی دی:

[ثُمَّ قَسَتْ قُلُوبُكُمْ مِنْ بَعْدِ ذَلِكَ فَهِيَ كَالْحِجَارَةِ أَوْ أَشَدُّ قَسْوَةً وَإِنَّ مِنَ الْحِجَارَةِ لَمَا يَتَفَجَّرُ مِنْهُ الْأَنْهَارُ وَإِنَّ مِنْهَا لَمَا يَشَّقَّقُ فَيَخْرُجُ مِنْهُ الْمَاءُ وَإِنَّ مِنْهَا لَمَا يَهْبِطُ مِنْ خَشْيَةِ اللَّهِ وَمَا اللَّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ][۲۳۴]

ژباړه: بیا سخت شول زړونه ستاسې بس له دغه (ژوندي کولو د مړي) نو دغه (زړونه په مثل د تېږې (ګټې) دي (په سختوالي کې) بلکې ډېر زیات دي په سختوالي کي او بېشکه چې ځینې تېږو (ګټو) ځنې خامخا هغه دي چې خوټیږي (بهیږي) له هغو څخه لویې لویې ویالې او په تحقیق سره ځینې له دې تېږو (ګټو) څخه خامخا هغه دي چې چوي نو راوځي له هغو څخه اوبه او بېشکه ځینې له دې تږو (ګټو) څخه خامخا هغه دي چې رارغړي (د غره له سره) له وېرې د الله او نه دی الله بې خبر له هغه څه چې کوئ ئې تاسې (ای یهودانو).

دې مبارک ایت نه معلومیږي چې ځینې تیږې د خدای تعالی له وېرې ماتیږي یعنې دوی د خدای تعالی په عظمت او کبریایۍ پوهیږي. یو حدیث شریف له علي رضي الله عنه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته تیږو، ونو او هر څه (السلام علیکم یا رسول الله) ویل په ترمذي کې ثابته ده چې ونو سجده کوله او تیږو کلمه ویله، د محمد صلی الله علیه وسلم په فراق د مسجد د ستنې د ژړا روایات ثابت دي او په احادیثو کې یې یادونه موجوده ده، د هغو له سیاق او د توحید د عقیدې مقتضی دانه ده چې مؤمن ته د مشرک نسبت وشي. بخاري شریف کې داسې راغلي دي:

---

[۲۳۴]. البقره / ۷۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library

[و كان ابن عمر يراهم شرار خلق الله و قال انهم انطلقوا الى ايات نزلت في الكفار فجعلوها على المؤمنين] [۲۳۵]

يعني: او ابن عمر دوی د خدای د مخلوق له شريرانو ګڼل او ويل يې: دوی هغه اياتونه چې د کفارو په حق کې نازل شوي د مؤمنانو لپاره ګرځول.

دا فتنه نننۍ نه ده، بلکې دا د اهل حق په جنګو کې هر وخت يوه جاري سلسله ده، د خدای تعالی د انعام ميندونکي په تېره د تصوف د څښتنانو په خلاف د غربي عالم هرزه سرايي ده وګورئ چې د ابن عمر له قول په ډېرې آسانۍ داسې څرګنديږي چې ده ويلي دي:

مشرکان له دوه لارو مشرکان کيږي. يوه لار يې دا ده چې د الله تعالی ربوبيت سره شريک ونيسي. دويمه لاره يې دا ده چې تنګي او فراخي دواړه حالتونه شرک بولي مصر کې اوبدي قبرونه، عدن کې د عيد اوسي قبر، يمن کي د هادي قبر، شام کې د ابن عربي قبر او عراق کې د سيد عبدالقادر جيلاني قبر شريک او سهيم قبروي. [۲۳۶]

د تصوف خاوندان د جهالت د وخت مشرکين په ډېر بد شرک مبتلا ګڼي. د جاهليت په وخت غير له دوه ذکر شويو طريقو د نورو مسالکو هم منفي سوچونه و خو چې د حق خاوندانو د هغه له منځه وړل او اصلاحات غوښتل قرآن کريم دغه افراد او تفريط نه اجتناب کړی د حق د لارې واضح کولو کې يې سعي کړې له تفريقو يې د نجات موندلو لپاره د احکامو پابندي غوښتې ده.

## وسيله او په هغې يو اعتراض:

اعتراض دا دی چې: الله تعالی سميع او بصير او عليم او خبير دی مستقيماً د هر چا خبره اوري له دې امله د خدای تعالی دربار ته د چا د دعا وسيله کول شرک دی، د دې اعتراض ځواب داسې دی چې څوک د خدای

---

[۲۳۵]. بخاری باب قتل الخوارج و الملحدين.

[۲۳۶]. العقيدة الصحيحه و بضادها.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دربار ته قبول ځيز وسيله کړي او دعا وکړي د خدای تعالی په سميع، بصير، عليم او خبير صفاتو کې د عقيدې له مخې کوم توپير نه راځي قرآن کريم کې داسې راغلي دي:

[بَدِيعُ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ وَإِذَا قَضَى أَمْراً فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ][237]

ژباړه: نوی (بې له نمونې) پيدا کوونکی د اسمانو او د ځمکې دی او هر کله چې اراده وکړي د يوه کار نو بېشکه هم دغه خبره ده چې وايي هغه کار ته چې وشه! نو هغه وشي.

له دې مبارک ايت ثرګنديږي چې الله تعالی څومره قوت، طاقت او اختيارات لري. بل څوک نه توانيږي چې دومره د کن فيکون اختيارات ولري، حقيقت دا دی چې الله تعالی مخلوقات په حکمت تخليق او ترتيب کړي دی د دوی د بقا لړۍ په ځمکه او اسمان کې د هر شي په کاريدلو له پاره يې ټول مخلوق کې وسيله پيدا کړې ده، که دغه پنده د خدای تعالی په دربار کې مقبول وي دعا يې وسيله شي الله تعالی يې اوري او ويني ئې، قرآن کريم په دې برخه کې داسې فرمايلي دي:

[هُوَ الَّذِي خَلَقَ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِي الأَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا وَمَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَاءِ وَمَا يَعْرُجُ فِيهَا وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنْتُمْ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ][238]

ژباړه: او دغه (الله) هغه ذات دی چې پيدا کړي يې دي اسمانونه او ځمکه په مقدار د شپږو ورځو کې (له ورځو د دنيا نه) بيا يې استواء وکړه په عرش باندې (لکه چې له شانه د الوهيت د ده سره مناسب وي) معلوم دی (الله ته) هغه څه چې ننوځي په ځمکه کې (لکه مږي او باران) او هر هغه څه چې راووځي له دغې ځمکې نه او (معلوم دی الله ته) هر هغه چې نازليږي له اسمانه (لکه رحمت او عذاب) او هر هغه چې پورته خېژي په دغه (اسمان

[237]. البقره / ۱۷.

[238]. الحديد / ۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې لکه نیک او بد عملونه او دغه (الله) له تاسې سره دی (په علم او قدرت سره) هر چېرې چې یې تاسې او الله په هر هغه څه چې کوئ یې تاسې ښه لیدونکی دی (نو جزا به پرې درکړي).

په دې مبارک ایت کې د خدای تعالی لا فاني او لا محدود علم او اختیار ذکر شوی چا ته د مرستې اړتیا نه لري بیا هم قرآن کریم فرمایلي دي:

[كَلاَّ بَلْ تُكَذِّبُونَ بِالدِّينِ (۹) وَإِنَّ عَلَيْكُمْ لَحَافِظِينَ (۱۰) كِرَاماً كَاتِبِينَ (۱۱) يَعْلَمُونَ مَا تَفْعَلُونَ (۱۲)][۲۳۹]

ژباړه: نه دی (دا غرور ستا مناسب) بلکې دروغ وایئ تاسې په ورځ د جزاء باندې حال دا چې بېشکه په تاسې باندې خامخا ساتونکې ملائکې (د عمل، مقرر دي) غزتمنې (په نزد د الله) لیکونکي (د اعمالو ستاسې) پوهیږي (دغه ملایک) په هغه څه چې کوئ یئ تاسې.

د حضرت ابراهیم علیه السلام چې میلمه پالنه فطري صفت و پرښتې یې د انسانانو په څېره میلمنې شوې هغوی چې د ابراهیم علیه السلام ډوډۍ نه خوړله وېره ورته پیدا شوه. هغوی ورته وویل: مونږ پرښتې یو د ډوډۍ د خوړلو عادت نه لرو، مونږ خدای پاک د یوه سرکش قوم د تباهۍ لپاره رالیږلي یو. په قرآن کریم کې داسې راغلي دي:

[قَالُوا إِنَّا أُرْسِلْنَا إِلَى قَوْمٍ مُجْرِمِينَ (۳۲) لِنُرْسِلَ عَلَيْهِمْ حِجَارَةً مِنْ طِينٍ (۳۳) مُسَوَّمَةً عِنْدَ رَبِّكَ لِلْمُسْرِفِينَ (۳۴)][۲۴۰]

ژباړه: وویل دوی بېشکه مونږ چې یو رالیږلي شوي یو طرف د یوه قوم ګنهګار (کافر) ته لپاره د دې چې ولیږو پر هغوی باندې تیږې (ګټې) له خټو (پخو شویو په اور لکه پخې خښتې) نښان داره کړی شوي (په نامه د هغه چا چې پرې ویشتل کیږي) په نزد د رب ستا لپاره د مسرفانو له حده تیریدونکیو (په کفر او فجور کې لپاره د هلاکولو).

---

۲۳۹. الانفطار/ ۹-۱۲.

۲۴۰. الذاریات/ ۳۲-۳۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library

[وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ مَرْيَمَ إِذْ انتَبَذَتْ مِنْ أَهْلِهَا مَكَاناً شَرْقِيّاً (١٦) فَاتَّخَذَتْ مِنْ دُونِهِمْ حِجَاباً فَأَرْسَلْنَا إِلَيْهَا رُوحَنَا فَتَمَثَّلَ لَهَا بَشَراً سَوِيّاً (١٧) قَالَتْ إِنِّي أَعُوذُ بِالرَّحْمَنِ مِنْكَ إِنْ كُنتَ تَقِيّاً (١٨) قَالَ إِنَّمَا أَنَا رَسُولُ رَبِّكِ لِأَهَبَ لَكِ غُلاماً زَكِيّاً (١٩) قَالَتْ أَنَّى يَكُونُ لِي غُلامٌ وَلَمْ يَمْسَسْنِي بَشَرٌ وَلَمْ أَكُنْ بَغِيّاً (٢٠) قَالَ كَذَلِكِ قَالَ رَبُّكِ هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ وَلِنَجْعَلَهُ آيَةً لِلنَّاسِ وَرَحْمَةً مِنَّا وَكَانَ أَمْراً مَقْضِيّاً (٢١)] [٢٤١]

ژباړه: او یاد کړه په دغه کتاب کې (قصه د) مریمې کله چې په څنګ شوه (لاړه) له کورنۍ خپلې هغه ځای ته چې (د کور په) شرقي (ډډه) وه پس ونیوله له طرفه د دوی پرده (لپاره د غسل د حیض) نو ولېږه مونږ دې ته (پس له غسل او اغوستلو د جامو) روح خپل پس شکل خپل یې جوړ کړ دې ته د سړي کامل (تام الخلقة د نوراني ځلمي) نو وویل (مریمې دغه ځلمي ته) بېشکه زه پناه غواړم په رحمن له تا نه که یې ته پرهیزګار سړی (نو له ما څخه په ډډه شه!) وویل (جبرئیل) بېشکه هم دا خبره ده چې زه رالېږلی شوی د رب ستا یم لپاره د دې چې ونیسم تا ته (په امر د رب د تا) یو صالح هلک (پاک له معاصیو) وویل (مریمې ډېره تعجبه) څرنګه به پیدا شي ما ته زوی حال دا چې نه دی رسیدلی ما ته هیڅ بشر (نه په نکاح او نه په سفاح) او نه ومه زه هیڅېرې بدکاره نو وویل (جبرئیل مریمې ته کار) همداسې دی (لکه چې ته وایې لیکن) فرمایلي دي رب د تا دغه (کار) پر ما باندې اسان دی او چې وګرځوو مونږ دغه (هلک لویه) علامه دلیل (د کامل قدرت) لپاره د خلقو او رحمت له (طرفه) زمونږ او دی (پیدا کیدل د ده بې له پلاره) یو کار مقرر کړی شوی (له ازله).

د قرآن کریم هره کلمه بلکې هر توری د غور وړ دی خو درې ځایونه یې د خاص دقت قابل دي:

---

[٢٤١]. مریم / ١٦-٢١.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اول ـ کرام کاتبین څوک دي؟
دوم ـ فرښتې څرنګه نافرمانان تباه کوي؟
دریم ـ جبرائیل علیه السلام بي بي مریمې ته وویل : زه د دې لپاره راغلی یم چې تا ته زوی درکړم.
دغه ایاتونه راښیي چې د دغو امورو سرته رسول فریضه نه ده، پرښتو یوازې همدا کارونه نه، بلکې داسې نور ډېر کارونه یې کړي او تر قیامته یې کوي نو سوال دا دی، چې خالق او مالک او عالم بالصدور په کائناتو کې احاطه لري د ده باوجود کرام الکاتبین یې ولې مقررې کړې دي؟ چې د شپې او ورځې د انسان ټول اعمال لیکي، دې کې شک نشته چې الله تعالی د بنده ټول حرکات او سکنات بې واسطې کولای شي نو پرښتو ته څه حاجت دی؟ او هغه ذات ټول مخلوقات پیدا کړي دي او په دې کار کې شریک ته محتاج نه دی، د کائناتو په پیدا کولو کې چا ته محتاج نه دی د چا مرستې او مدد ته څه اړتیا نه لري نو د کلو د تباه کولو لپاره پرښتو ته څه اړتیا ده؟ حال دا چې الله تعالی کائناتو ته هغه وخت چې (لم یکن شیئاً مذکوراً) وو وجود ورکړی، لاشریک دی، جبرائیل علیه السلام یې د څه لپاره پیدا کړی دی؟ دا ټولې نکتې د غور او دقت وړ دي. حقیقت دا دی چې د کرام الکاتبینو ماموریت او د تباهۍ لپاره د پرښتو نزول، او بي بي مریمې ته د جبرائیل علیه السلام په توګه د زوی ورکول د الله تعالی په اختیاراتو کې مداخله نه ده، بلکې نه ده بلکې دا د ده په عظمت دلالت کوي، داسې چې خدای تعالی د ټولې دنیا په تباه کولو قدرت لري او په انساني تخلیق کې چا ته اختیاج نه لري خو پرښتې الهي فوج دی د خدای تعالی حکم ته پابندي ولاړې دي نو د دوی په توګه د کارو اجرا کول د خدای تعالی د قدرت د کمي دلیل نه دی، بلکې دا په کائناتو کې د یوه منظمه دستور چلولو علامه ده نو د کرام الکاتبینو ماموریت د خدای تعالی له قدرت سره منافي نه ده او د ورانولو او مریمې ته د زوی ورکول د

(c) ketabton.com: The Digital Library

جبرائیل علیه السلام د نزول په توګه د خدای تعالی قدرت او اختیارات نه نفي کوي. دغه د بندګانو د غوره ګرځولو طرح (انبیاء، صدیقین، شهداء، صالحین) وسیلې کول او د هغوی دعاګانې اورېدل د خدای تعالی د بې واسطې اورېدنې د ده د محیط علم او اختیاراتو نفي نه ده بلکې دا د خدای تعالی په عظمت دلالت کوي، دا طرح د خدای تعالی په عظمتونو دلیل دی او دا غوره طرحې د بندګانو وسیلې دي. د الله تعالی لویي او ستروالی او زمونږ د عاجزۍ توضیحات ښکاروي.[۲۴۲]

## د نفس الامر حقیقت:

د باران په څاڅکو مړه ځمکه ژوندۍ کیږي، په لمر او حرارت نرم او نازکه بوټي، ګلان مضبوطیږي، لمر او سپوږمۍ او ستوري رڼا کوي، دریابونه، ځمکې او اسمانونه په انساني خدمت کې د خدای تعالی په اذن مشغول دي، د کائناتو خالق بدون له اوبو د انسانانو د حاجت په سرته رسولو قادر دی لکه چې فرمایلي یې دي (و هو علی کل شيءٍ قدیر) خو سره له دې د ځمکې او اسمانو مالک د اوبو کولو لپاره اوبه وسیله پیدا کړې ده او له ځمکې یې د رزق خزانې راوبستلې دي. فرمایلي یې دي [و انزل من السماء ماءً فاخرج به من الثمرات رزقالکم] باران یې د راشنه کېدلو لپاره ذریعه ګرځولې ده، حال دا چې خدای تعالی بې له دغې ذریعې له ځمکې نباتات راشنه کولای شي لکه چې فرمایلي یې دي (فالق الحب والنوی) نو غرض دا دی چې: د عرش او فرش کائناتو د بقا او د وجود د دوام لپاره نورو اشیاوو او مخلوق ته اړتیا لري او په مخلوق ارتقاء کوي او دا د وسیلو او ذریعو لړۍ یې د فطرت په مقتضی روانه ده او که واسطه په منځ کې نه وي د الله تعالی ذات مستقیماً جلوه عنایت کړي ښکاره ده چې خپله ذات د خدای تعالی بې مثل او بې مثاله، بې نیازه د کن فیکون اختیاراتو لرونکی دی

[۲۴۲]. حقیقت شرک.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شریک نه لري. د خدای تعالی ذات چې د مخلوقاتو د کار امد لپاره ذریعې او وسایل په کار اچولي. دا د ده جل جلاله رحمت دی چې د ذریعو لړۍ یې روانه کړې ده، دالله تعالی هر نعمت چې د ضرورت مطابق د فطرت په تقاضا کیږي چې انکار ترې نه شي کېدلای.

دنیا بې ضرورتونه او مادي وسیلې دیني او روحاني اړتیاوې چې غور لاندې ونیول شي معلومیږي چې الله تعالی د انسان یار او مددګار دی هدایت او لارښودنه ورته کوي د نفس تزکیه او د قلب تصفیه په دنیا کې د شخصیتونو د وجود باعث کیږي، رحمت او برکت د انساني ژوند کردار او عمل پورې اړه لري. له دې امله الله تعالی سره خصوصي قرب او معیت حاصلوي، یو لک او څلېریشت زره څه کم او زیات انبیاء او مرسلین علیهم السلام د قدسي صفاتو شخصیتونه دي، دوی نه وروسته تر قیامته پورې انعام موندونکي نفسونه خدای تعالی پیدا کړي دي چې د خدای تعالی په یادو کې یې ژوند کړی او کوي یې، هره یوه شیبه یې په الهي رضا کې په سوز او سرور تېره کړې، د دوی په صحبت مؤمنان په اخرت سرفراز کیږي، جنت یې په برخه کیږي، د انوارو باران پرې اوریږي (سیماهم فی وجوهم من اثرالسجود) له الهي انوارو مراد الهي عبادات د ذکر او فکر زیاتوالی دی، د اهل حق له ښېرو معلومیږي چې دوی الله تعالی یاد کړی دی.

## ذاتي او صفاتي قرب او معیت :

الله تعالی خپل بنده ته ډېر نږدې دی لکه چې فرمایلي یې دي :

[وَلَقَدْ خَلَقْنَا الإِنْسَانَ وَنَعْلَمُ مَا تُوَسْوِسُ بِهِ نَفْسُهُ وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيدِ][۲۴۳]

ژباړه : او په تحقیق پیدا کړی دی مونږ جنس د انسان په داسې حال کې چې مونږ پوهیږو په هغه څیز چې وسوسه او خطره کوي په هغه سره زړه د ده له

[۲۴۳]. ق / ۱۶.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ذکرونو عبثو او ناکارو سره حال دا چې مونږ ډېر نږدې یو ده ته په علم سره له رګونو د ورمیږ د ده څخه.

په بل ځای کې د خدای تعالی قرب داسې بیان شوی دی :

[أَلَمْ تَرَى أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَوَاتِ وَمَا فِي الأَرْضِ مَا يَكُونُ مِنْ نَجْوَى ثَلاثَةٍ إِلاَّ هُوَ رَابِعُهُمْ وَلا خَمْسَةٍ إِلاَّ هُوَ سَادِسُهُمْ وَلا أَدْنَى مِنْ ذَلِكَ وَلَا أَكْثَرَ إِلاَّ هُوَ مَعَهُمْ أَيْنَ مَا كَانُوا ثُمَّ يُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوا يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِنَّ اللَّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ] [۲۴۴]

ژباړه : ایا نه وینې ته نه یې خبر چې بېشکه الله ته ښه معلوم دی هر هغه څیز چې اسمانونو کې دی او هر هغه څه چې په ځمکه کې دی (بلکې خپر یې) نه به وي پټې خبرې (یو د بله په غوږونو کې) د درې تنو مګر خو دغه (الله) په څلورم د هغوی دی (علما) او نه به وي پنځه تنه (راز ویونکي) مګر خو دغه (الله) شپږم د هغوی دی (په اعتبار د علم سره) او نه به وي لږ له دې (عدد) نه او نه به وي ډېر (له دې عدد نه) مګر خو وي به دغه (الله) له هغو سره (په اعتبار د علم سره) هر چیرې چې وي هغوی. بیا به خبر کړي (الله) دوی په ورځې د قیامت کې په هغو (دنیوي اعمالو) چې کړي یې دي بېشکه الله په هر څیز باندې ښه پوهېدونکی ښه خبردار دی.

له دې مبارکو ایاتو څرګندیږي چې (قرب) د الله تعالی وصف او صفت دی هغسې چې مخلوقاتو نه خالق او مالک همدا ډول ورته په (قرب) باندې ورته قریب هم دی خو فرمان بردارانو ته یې د ذات قرب ځانګړی برخه ده لکه چې فرمایلي یې دي:

[إِنَّ اللَّهَ مَعَ الَّذِينَ اتَّقَوْا وَالَّذِينَ هُمْ مُحْسِنُونَ] [۲۴۵]

---

[۲۴۴]. المجادله / ۷.

[۲۴۵]. النحل / ۱۲۸.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه: بېشکه الله ملګری دی (په عون او نصرت سره) له هغو کسانو چې پرهېزګاري کوي (له کفر او معاصیو او ویرېږي له الله) او له هغو کسانو سره چې دوی نیکي کوونکي دي.

نو الله تعالی چې مخلوقاتو کې نیک او بد، غریب او امیر، عالم او جاهل، مؤمن او کافر ته خالق او مالک دی او داسې ورته قرب هم لري لکه چې د (ان الله مع الصابرین) او (ان الله مع الذین التقو) او داسې نورو فرمودو نه یې څرګندېږي خو دغه قرب مؤمنانو ته په عام ډول او انبیاوو، اصفیاوو ته په خاص ډول ورعطا شوی دی ځکه چې افعال او اعمال د مؤمنانو د مقام او مرتبې او اهلیت په اعتبار ځانته ځانته دي، د خدای تعالی د ذات د قرب لذت هر چا ته په بېل بېل کیفیت میسر کېږي، د خدای تعالی له دربار هر چا ته د ده غوښتنې، عزت او شرف مطابق درجه ورکول کېږي چې د درجو او مرتبو په برخه کې یې خدای تعالی داسې فرمایلي دي:

[وَمَنْ يُطِعِ اللّهَ وَالرَّسُولَ فَأُوْلَـئِكَ مَعَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللّهُ عَلَيْهِم مِّنَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاء وَالصَّالِحِينَ وَحَسُنَ أُولَـئِكَ رَفِيقاً (٦٩) ذَلِكَ الْفَضْلُ مِنَ اللّهِ وَكَفَى بِاللّهِ عَلِيماً (٧٠)][٢٤٢]

ژباړه: او هر څوک چې حکم ومني د الله او د رسول (د الله) نو دغه کسان به له هغو سره وي (په جنت کې) چې انعام کړی دی الله پر دوی باندې چې انبیاء دي او صدیقان دي او شهیدان دي او صالحان دي، او ښه دي، دغه کسان له جهته د رفاقته (چې ښه ملګري دي) دا (ملګرتیا) فضل (احسان، رحمت) دی له (جانبه د) الله نه او کافي دی الله ښه پوه (په ټولو نیتونو او عملونو هم).

اوله درجه د انبیاوو ده او د نورو درې درجې دي چې ټولې څلورو طبقو ته انعام شوي دي او هغه درجې دادي:

---

[٢٤٢]. النساء / ٧٠.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اول ـ د خدای تعالی د دربار د مقبولینو درجه.
دوهم ـ د خدای تعالی د دربار د خوښوونکو درجه.
دریم ـ هغه چې د خدای تعالی نعمتونه او عزت یې نصیب او فضل یې وربانديې شوی وي.
انبیاوو او د رسولانو باندې مستقیماً د الله تعالی فضل شوی دی، دوی د خدای تعالی د هر فعل او هر حکم پابند دي او باقي نور درې مقامونه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په اتباع او پېروۍ کې امکان مومي.
حقیقت دا دی چې په دنیا او اخرت بریالیتوب د رسول الله صلی الله علیه وسلم په پېروۍ کې دی او د رسالت تصور له شیطاني وسوسو پاک او خالص توحید کې وي.
د نبوت فرایضو کې د نفوسو تذکیه، د زړونو تصفیه د فرضیت بنیادي حیثیت لري او د نبوت د دروازې له بندېدلو وروسته داسې شخصیتونو ته اړتیا ده چې په ظاهر او باطن د خدای تعالی د فرمودو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنتو د اطاعت په اینه کې ځان ګوري، اورېدلو او لوستلو ته یې د زړه په کور کې ځای ورکوي او له ټولو الایشونه یې پاک ساتي لکه صوفیه کرام رحمهم الله چې په صدق او اخلاص د ځمکې په مخ د (لا اله الا الله) خوشبویه معطره فضا خورول د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ژوند ظاهري او باطني او د صحابه وو کرامو رضي الله عنهم په لاره سم برابر د خدای تعالی د خلقو رهبري او لارښوونه خپله فریضه ګڼي او په ښه وجه یې سرته رسوي، د دې خلکو په وینا کې تاثیر وي او کړنې یې پخې په انساني نسل کې لارښودې وي، خدای تعالی له انبیاوو وروسته دوی ته د اعلی اوصافو او عمده اعمالو له سببه د ولایت لوړه درجه ورکړې ده او د خدای تعالی په مخلوقاتو کې یې محبوبیت عام شوی، هر وخت کې د قدسیه نفسونو د علم د عظمت په توګه د نړۍ د انسانانو د نقصانونو اصلاح کیږي. له دغو شخصیتونو علي هجویري

(c) ketabton.com: The Digital Library

رحمة الله علیه، خواجه اجمیري رحمة الله علیه، سید عبدالقادر جیلاني رحمة الله علیه، مجدد الف ثاني رحمة الله علیه، بایزید بستامی رحمة الله علیه، ابوالحسن خرقاني رحمة الله علیه هر یو د خدای تعالی په بندګۍ کې د دغو مرتبو څښتنان شوي دي، د ولایت دغه ستر مقام تنها په تعلیم تبلیغ او نورو کارنامو حاصلیږي او که دا د کتاب او قلم کمال دی، بلکې دا د خدای تعالی د فیض د نظر اثر دی، دا د هغوی د «الله» ویلو د اواز اثر دی. دا مقام یوازې په ظاهر نه، بلکې د خلکو د بد باطن په بدلولو او صفا کولو، له حق سره د اشنایي په پیدا کولو، د خدای تعالی د خلقو په نه ازارولو، د خدای تعالی په ذکر خوی او عادت کولو باندې حاصلیږي، دوی د نور منارې دي، هر خاص او عام ته د هدایت او معرفت رڼا ورکوي، دوی د جنت د باغو او نقشونو ذریعه دي، دغه خلک ژوندي دي، دغه خلک چې چا ته دعا وکړي مراد یې حاصلیږي، دوی چې له دنیا سفر وکړي د برزخ په عالم کې د خدای تعالی وسیلې او عنایت کېدلای شي، څوک چې د کامل انسان لمن ونیسي د الهي قرب منزل ته رسیږي.

## د دین د تبلیغ تقاضا او اداب:

دا حقیقت دی چې دعوت او تبلیغ د امت په خیر او د اسلامي عقایدو او اعمالو په اصلاح کې انکار نه منونکی اهمیت لري، د تبلیغ طریقه یوازې تقریر او لیکل نه دي، بلکې له هغه سره الفت او محبت او صداقت او زړورتیا هم په کار ده، نو واعظین او مصنفین باید د بلالي اذان په څېر په واضح صورت خپل نظر وښیي، خو افسوس په دې کې دی چې د قرآن او سنتو له روښانه دلایلو سره ځینې خلک د محض مسلکي تفریق له مخې او د جاهلانه رسومو لامله چا ته کافر او چا ته مشرک وایي، حضرت محمد صلی الله علیه وسلم او د امت پاکانو او د مؤمنانو عقایدو پورې طعن وایي تشنیع یې کوي او بدعتیان یې بولي، د قران کریم منزلو ایاتو له مخې انبیاء کرام او د امت صالحین د نبوت او ولایت عقیدت مندان د

(c) ketabton.com: The Digital Library

نبوت او ولایت تبلیغ لازمي بولي خو په تش نوم مبلغین له دغه امر په بده استفاده ساده لوحو عوامو ته غلط عقاید او نظریات وړاندې کوي او د بدو شیطاني عملیاتو په توګه بې خبره او جاهل عوام غولوي، د طریقت لړۍ بدناموي، بالاخره د امت زیات شمېر مشرک ګڼي، دا ډول طرح امت ټوټه ټوټه او تکه تکه کوي، د امر بالمعروف او نهی عن المنکر مقصد تعمیر دی او د انسانیت تکمیل نه تخریب او فتنه اچول، د تبلیغ او دعوت اصول په قرآن کریمکې داسې بیان شوي دي:

[ادْعُ إِلَى سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِمَنْ ضَلَّ عَنْ سَبِيلِهِ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ][۲۴۷]

ژباړه: بلنه کوه (ای محمده! خلقو ته) لارې د رب خپل ته (چې توحید او اسلام دی) په حکمت (محکمې خبرې د قرآن) سره او په نېک وعظ (پند) سره په ښه ډول (طریقه) او مباحثه کوه له دوی سره په هغې (طریقې سره) چې هغه ډېره ښه وي، بېشکه چې رب ستا ښه عالم دی په هغه چا چې ګمراه شوی دی له لارې د الله څخه او دی ښه عالم دی په لاره موندونکو (دین ته او تاسې تبلیغ دی).

تبلیغ دومره واضحه ارشاد دی چې په خوږه ژبه او غوره لهجه استعمال شي او دا تعلیم جاري دی، حقیقت دا دی چې دین رحمت دی اجازه نشته چې څوک خپل مسلمان ورور د باطلو معبودانو مشرک یا کافر وبولي نو نتیجه دا شوه چې په ترغیب او ترهیب تائید او تنقید د قرآن او احادیثو په تابعدارۍ کې د قرآن او احادیثو صحیح مفهوم او مقصود عامو خلقو ته وروپېژاندل شي چې خپل خالق، رازق او مالک خدای تعالی ته رجوع وکړي او د اصلي مقام د حصول په سعي کې وي، بلکه دا چې شرک او کفر

---

[۲۴۷]. النحل / ۱۲۵.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستر گناهونه دي او چا ته يې نسبت کول لوی جرم دی، نبي کريم صلی الله عليه وسلم په دې برخه کې داسې فرمايلي دي:

[و عن ابي هريره رضی الله عنه ان رسول الله صلی الله عليه وسلم قال يحسب امرئ من الشران يحقر اخا المسلم][248]

يعنې: او له ابي هريره رضي الله عنه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: هغه څوک چې خپل مسلمان ورور سپکوي تحقيروي يې له شر د خلقو حسابيږي.

او قران کريم کې راغلي دي:

[وَلَا تَسُبُّوا الَّذِينَ يَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ فَيَسُبُّوا اللَّهَ عَدْواً بِغَيْرِ عِلْمٍ ... الايه][249]

ژباړه: او کنځا مه کوئ (ای مؤمنانو) هغو (معبودانو) ته چې عبادت يې کوي دغه (کفار د هغو) بې له الله نو کنځا به وکړي دوی (هم) الله ته په ناحقه سره بې له پوهې (له خپل جهالته).

د رسول الله صلی الله عليه وسلم په احاديثو کې د مؤمن تحقير غندل شوی دی، داسې يې فرمايلي دي:

[عن ابن عمر رضی الله عنهما قال قال رسول الله صلی الله عليه وسلم اذا قال الرجل لاخيه يا کافر فقد باء بها احدهما فان کان کما قال والارجعت اليه][250]

يعنې: له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دی ويلي يې دي: رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي کله چې يو سړی خپل ورور ته ووايي: ای کافره! نو په تحقيق يو د دوی دواړو پرې اخته کيږي. که حقيقت همداسې

[248]. رواه مسلم.
[249]. الانعام / ۱۰۸.
[250]. متفق عليه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي چې ویلي یې دي همدا خبره تېګ ګڼل کیږي او که نه وي بېرته ویونکي ته راجع کیږي.

د بدل نسب نسبت کولو باندې د کافر کېدلو په برخه کې رسول الله صلی الله علیه وسلم داسې فرمایلي دي:

[عن ابي ذر انه سمع رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول لیس من رجل ادعی بغیر ابیه و هو بعلمه الا کفر و من ادعی ما لیس له فلیس منا و لیتبوا مقعده من النار و من دعا رجلابا لکفر او قال عدوا الله و لیس کذلک الاعاد علیه][251]

یعنې: له ابي ذر رضي الله عنه روایت دی چې ده له رسول الله صلی الله علیه وسلم اوریدلي دي فرمایلي یې دي: څوک چې غیر له پلاره بل چا ته د چا د نسب ادعا وکړي او دی په دې خپلو دروغو پوهیږي کافر کیږي او څوک چې ادعا وکړي د داسې څه چې هغه د ده نه وي نو هغه له مونږ نه دی او خپل ځای یې اور کې (دوزخ) کې دی او څوک چې د چا د کفر ادعا وکړي ووایي چې: د خدای تعالی دښمن دی، او داسې نه وي ده ته بېرته ورګرځي.

له دې شریفو احادیثو څرګندیګي چې څوک چا ته کافر یا مشرک ووایي څه بد اثرات پرې مرتب کیږي، دا شخص رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ملامت دی، نو ضروري دا ده چې د چا دتذلیل یا تحقیر په ځای باید هغه اصلاح شي، په وقار او مثبت انداز تبلیغ ورته وشي.

اسلام فطري دین او د ژوندانه مکمل ترین نظام دی د هر مشکل حل او لارښوونه په کې شته خو ضروري امر یې د ایمان ساتنه په تحریر او تقریر کې له خدای تعالی وېره لرل دي او په دې عقیده لرل دي چې په هغې دنیا

---

[251] . رواه مسلم کتاب الایمان.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د هر قول او فعل پوښتنه کیږي او له حالاتو منافرت د شرمندګۍ سبب کیږي.
قرآن او سنت د مناظرو او مجادلو علم نه دی، دا د ژوند نظام دی او د انساني ژوند منشور دی، د انساني نسل د هرې طبقې لپاره لار ښیي او د هر درد لپاره مداوا دی صرف د څو ایاتو له سیاق او سباق ګرانې معناګانې راخستل هوښیاري نه ده، په ټولو ایاتو باید عمل وشي، خانقایي نظام چې صوفیه کرام په کې روزل کیږي له نظره یې غورځول او د تکفیر نوم ورکولو په ونج یې ترمنځ مینه پیدا کول ښه دي نو د شرع مفتیانو ته د دنیوي حرص او هوس په ځای د حق توفیق غواړم چې خلک په سمه لاره روان شي.

## د څو شرکیه افعالو تفصیل (یو ضروري بحث):

د رسول الله صلی الله علیه وسلم سیرت او تعلیمات داسې دي چې افعال او اعمال یې بیان کړي دي نو د ده صلی الله علیه وسلم د واقعي تعلیماتو سره سم چې شرک یا کفر وي او یا شرک او کفر ته نږدې وي مؤمنان دې ترې ځان وساتي.
مسلمانان دې پوه شي چې الله تعالی د ټولو مخلوقاتو خالق او مالک دی بې د ده له حکم او اذن په کائناتو کې تغییر او تبدیل نه شي راتلای خو سره له دې ځینې په بدعملۍ او بد عقیدګۍ ایمان بربادوي په مصنوعي فقر او جعلي ولایت ساده او نابوده عوام له رعب او تاثیر لاندې راولي، دنیا او دولت ترې په لاس راوړي شپه او ورځ لګیا دي د مصنوعي پیرۍ په لباس کې د جادو، کهانت، نجوم علم، فال او داسې د نورو څیزو دکانداري کوي دا څوک دي؟

## سحر (جادو) د قرآن او سنتو په رڼا کې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

عربي د قرآن کریم ایاتونه ذکر کړي او سحر (جادو) یې یو ډول شرک ګڼلی دی، ویلي یې دي چې شیطان صفتي خلک د جادو په توګه تکلیف رسولو کې کوشش کوي، د سلیمان علیه السلام په وخت کې د جادو یادونه قرآن کریم کې په خاص ډول داسې شوې ده:

[واتّبَعُوا مَا تَتْلُو الشّيَاطِينُ عَلَى مُلْكِ سُلَيْمَانَ وَمَا كَفَرَ سُلَيْمَانُ وَلَكِنّ الشّيَاطِينَ كَفَرُوا يُعَلّمُونَ النّاسَ السّحْرَ وَمَا أُنزِلَ عَلَى الْمَلَكَيْنِ بِبَابِلَ هَارُوتَ وَمَارُوتَ وَمَا يُعَلّمَانِ مِنْ أَحَدٍ حَتّى يَقُولا إِنّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلاَ تَكْفُرْ فَيَتَعَلّمُونَ مِنْهُمَا مَا يُفَرّقُونَ بِهِ بَيْنَ الْمَرْءِ وَزَوْجِهِ وَمَا هُمْ بِضَارّينَ بِهِ مِنْ أَحَدٍ إِلاّ بِإِذْنِ اللّهِ وَيَتَعَلّمُونَ مَا يَضُرّهُمْ وَلا يَنفَعُهُمْ وَلَقَدْ عَلِمُوا لَمَنْ اشْتَرَاهُ مَا لَهُ فِي الآخِرَةِ مِنْ خَلاقٍ وَلَبِئْسَ مَا شَرَوْا بِهِ أَنفُسَهُمْ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ] [۲۵۲]

ژباړه: او متابعت وکړ یهودانو د هغه څه چې لوست به شیطانانو (پېریانو) په (زمانه د) پاچاهۍ د سلیمان کې (چې دې احمقانو کتاب د الله تر شا وغورځاوه او سحر یې زده او په متابعت یې لګیا شول او نه و کافر شوی سلیمان (د سحر د عمل په تحلیل سره) ولکن شیطانان کافران شوي وو حال دا چې ښوده به یې خلقو ته سحر او (متابعت به یې کاوه) د هغه شي چې نازل کړی شوی و په دوو پرښتو په (ښار د) بابیل کې (چې نوم د یوې هاروت او (د بلې) ماروت (دی)، او نه به کوله ښودنه دوی دواړو هیچا ته تر هغه پورې چې وبه ویل دواړو بېشکه همدا خبره ده چې مونږ ازموینه (ازمېښت) یو (له جانبه د الله) نو مه کافر کیږه (په زده کولو د سحر چې د عمل په جواز یې معتقد اوسې) نو زده کاوه به هغوی له دوی دواړو نه هغه شی چې بېلتون به یې کاوه په هغه سره په منځ د مېړه (خاوند) او ښځې د هغه کې او نه وو دوی ضرر رسوونکي په دغه سحر سره هیچا ته مګر په اذن (حکم) د الله سره او زده کوي دوی (یهودان) هغه څه چې ضرر رسوي

[۲۵۲]. البقره / ۱۰۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی ته او نفع نه رسوي دوی ته او هرو مرو (خامخا) په تحقیق پوهېدل دوی چې خامخا هغه څوک چې پېرې (اخلي) (زده کوي په اعتقاد د جواز) سحر نشته ده لره په اخرت کې هیڅ برخه (د نیکۍ) او هرو مرو (خامخا ډېر بد دی هغه شی چې پلورلی (اخستی) دی دوی په هغه شي سره (حصه د ځانو خپلو که چېرې وي دوی چې پوهېدلی (په انجام د سحر نو نه به یې زده کاوه).

بل ځای کې یې د موسی علیه السلام سره د جادو موضوع داسې یاده کړې ده.

[قَالُوا يَا مُوسَى إِمَّا أَنْ تُلْقِيَ وَإِمَّا أَنْ نَكُونَ نَحْنُ الْمُلْقِينَ (۱۱۵) قَالَ أَلْقُوا فَلَمَّا أَلْقَوْا سَحَرُوا أَعْيُنَ النَّاسِ وَاسْتَرْهَبُوهُمْ وَجَاءُوا بِسِحْرٍ عَظِيمٍ (۱۱۶)][253]

ژباړه: وویل جادوګرانو چې: ای موسی ایا ته غورځوی (همسا خپله) او یا دا دی چې شو مونږه هم دا موږه (ړومبی) غورځوونکی (د پړیو او همساګانو خپلو) وویل موسی ساحرانو ته (تکرما، تسامحا معتمداً علی الله) چې وغورځوئ تاسې خپل پړي او همساګاني، نو کله چې وغورځول دوی نو جادو یې وکړ پر سترګو د خلکو او ووېرول دوی دا (خلک) او راتله وکړه دوی په جادو لوی سره.

داسې په نورو مبارکو ایاتو کې د جادو یادونه شوې ده او هم په احادیثو کې یې لارښوونې شوې دي لکه له ابو هریره رضی الله عنه چې روایت شوی دی:

[عن ابی هریره رضی الله عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: اجتنبوا الموبقات، شرک بالله و السحر][254]

یعني:

---

[253]. الاعراف / ۱۱۵-۱۱۶.

[254]. رواه البخاری کتاب الطب.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې مبارکو ایاتو او احادیثو څرګندیږي چې جادو یو حقیقت دی او په انساني ژوند کې یې اثر ثابت دی لکه چې په احادیثو کې یې بیان شوی دی ځینې خلکو جادو ته په شریعت کې کفر ویلی دی لکه چې دې ایت کې راغلي دي (ولكن الشيطين كفروا يعلمون الناس السحر) نو جادو یې شرک او جادو یې د اسلام له چوکاټ وتلی بللی دی، سحر د ښځې او مېړه ترمنځ د تنفر لـه منځه وړلو سبب کیږي او محبت یې ترمنځ پیدا کیږي او هم شیطاني لاره باندې ناوړه اعمالو لپاره کیږي خو په احادیثو کې یو مذموم عمل ګڼل شوی او جادوګر ته یې د دردناک عذاب ورکولو خبر ورکړی دی.

جادو او علاج یې :

څرنګه چې جادو د شیطانی عمل دی لکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي :

[عن جابر رضى الله عنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم سئل عن النشرة فقال هى من عمل الشيطان][255]

یعنې : له جابر رضي الله عنه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم نه د النشره ( ) پوښتنه وشوه نو وې فرمایل : هغه د شیطان له اعمالو څخه دی.

له احمد رحمه الله علیه یو حدیث روایت شوی دی چې هغه له ابو داود روایت کړی دی او حافظ بن حجر العسقلانی د دې حدیث سند حسن بللی دی، چې (نشره) یو شیطاني عمل دی د جاهلیت په وخت کې به یې ترې کار اخسته، نبي کریم صلی الله علیه وسلم نه صحابه وو رضي الله عنهم په دې برخه کې پوښتنه کړې هغه صلی الله علیه وسلم ورته فرمایلي دي :

---

[255]. رواه ابوداود – کتاب الطب.

(c) ketabton.com: The Digital Library

[عن ابن عوف بن مالک الاشجعی قال کنا نرقی فی الجاهلية فقنا يا رسول الله کيف ترى فی ذلک فقال : اعرضوا علی رقاکم لا باس بالرقی ما لم يکن فيه شرک][252]

يعنې : له ابن عوف بن مالک شجعي رضی الله عنه روايت دی چې ويل يې دي : مونږ به په جاهليت کې تعويذ کاوه نو مونږ وويل : ای رسول الله! څه وايې په دې کې؟ نو وې فرمايل : وړاندې ورځې يا اعراض وکړئ پر تعويذو خپلو او هغه تعويذونه باک نه لري چې په هغه کې شرک نه وي د صحابه وو رضی الله عنهم په اثارو يې د معالجې په هکله فرمايلي دي :

[عن قتادة رضي الله عنه قلت لابن المسيب رجل به طب او يؤخذ عن امراته ايحل امراته ايحل عنه او ينشر قال لا باس به انما يريدون به الاصلاح فاما ينفع فلم ينه عنه][257]

يعنې : له قتاده رضي الله عنه روايت دی : ابن المسيب ته مې وويل : يوه سړي باندې ناروغي وه او له خپلې ښځې يې اخسته ايا ورته روا دي او تعويذ وکړي ويې ويل : پروا نه لري په تحقيق دوی پرې د اصلاح اراده لري نو هغه څه چې نفع لري نو له هغه منع نه ده شوې.

د حضرت سعيد بن مسيب رضي الله عنه د (لاباس) الفاظو کې مضائقه نشته مطلب يې دا دی چې داسې جادو چې اصلاح پرې راځي مخالفت نه لري نو دا ډول نشره يا جادو شرکيه عمل نه دی.

حافظ بن قيم د جادو په برخه کې او په هغه د معالجې په هکله داسې ويلي دي :

[النشرة حل السحر من المسحور وهی نوعان احدهما : حل بسحر مثله و هوالذی من عمل الشيطان و عليه يحمل قول الحسن رح فيتقرب الناشر

---

[252]. رواه مسلم.

[257]. رواه البخاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

والمنشر الى الشيطان بما يحب فيبطل عمله من المسحور و الثانى : النشرة بالرقية و التعوذات والادوية والدعوات المباحة فهذا جائز] [۲۵۸]

یعني : النشره د جادو کړی شوی جادو خلاصوي او په دوه ډوله دی : یو دا چې جادو په جادو خلاصوي او هغه د شیطان له عمل څخه دی او د الحسن رح قول په همدې ډول حمل کیږي نو ناشر او منشور پرې شیطان ته نږدې کیږي. په هغه څه چې ورته گران وي له جادو کړی شوي عمل باطلوي او دوهم ډول هغه دی چې په نشره، رقیه، تعویذ ، دوا ، دعاگانو مباح دم باندې وي او دا جواز لري.

له دې پورتنیو ذکر شویو اقوالو څرگندیږي : هر هغه عمل چې د شریعت په خلاف نه وي او شرعي نقص ونه لري هغه جائز دی.

[لیس بن ابی سلیمه ویلي دي : د جادو د لرې کولو لپاره دغه مبارک ایت باندې ډول ښه دي او انشاء الله فوراً ناروغ ورباندې جوړیږي:

[فَلَمَّا أَلْقَوْا قَالَ مُوسَى مَا جِئْتُمْ بِهِ السِّحْرُ إِنَّ اللَّهَ سَيُبْطِلُهُ إِنَّ اللَّهَ لا يُصْلِحُ عَمَلَ الْمُفْسِدِينَ (۸۱) وَيُحِقُّ اللَّهُ الْحَقَّ بِكَلِمَاتِهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُجْرِمُونَ (۸۲)] [۲۵۹]

ژباړه : نو کله چې وغورځول ساحرانو (پړي او همساگانې خپلې) نو وویل موسی هغه څیز چې راوړی دی تاسو هغه یوازې سحر دی (نه بل شی) بیشکه چې الله ژر تباه کوي دغه (سحر) بیشکه چې الله نه جوړوي کار د فساد کوونکو او (بیا ژر) ربښتیا کوي الله حقه خبره (چې زما راوړی دین دی) په کلماتو (او حکمونو) خپلو سره او اگر که یې بد گڼي مجرمان او کافران.

[فَوَقَعَ الْحَقُّ وَبَطَلَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ (۱۱۸) فَغُلِبُوا هُنَالِكَ وَانقَلَبُوا صَاغِرِينَ (۱۱۹) وَأُلْقِيَ السَّحَرَةُ سَاجِدِينَ (۱۲۰) قَالُوا آمَنَّا بِرَبِّ الْعَالَمِينَ (۱۲۱)] [۲۶۰]

---

[۲۵۸]. نسخ المجید شرح کتاب التوحید.

[۲۵۹]. یونس / ۱-۸۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه: نو ثابت شو حق او باطل (ورک) شو هغه څه چې وو دوی چې کول به یې نو مقلوب شول دا (ساحران) په هغه ځای کې او وګرځېدل دوی خوار سپک او وغورځول شول ساحران په دې حال کې چې سجده کوونکي وو وویل جادوګرانو ایمان مو راوړی دی په رب د عالمیانو.

[إِنَّمَا صَنَعُوا كَيْدُ سَاحِرٍ وَلَا يُفْلِحُ السَّاحِرُ حَيْثُ أَتَى] [۲۲۱]

ژباړه: بېشکه هغه شی چې جوړ کړی دی دوی (او میدان د مقابلې ته یې حاضر کړی دی) مکر د ساحر دی، او بری نه مومي ساحر (کوډګر) هر چېرته چې راشي (او وي).

په دې سربېره چې په چا جادو شوی وي له ښځې بند شوی وي د دغه جادو د رد لپاره دې د بېرې (   ) تازه او شنې پاڼې په دوه تیږو یوه لاندې بله پرې باندې وټکوي او پاکو اوبو کې دې واچوي بیا دې پرې ایت کرسي او چار قل دم کړي د دې غوړ به دې جادو شوي ناروغ وچیکي او په نورو دې غسل وکړي جوړ به شي ان شاء الله تعالی.

## کاهن او نجومي د نبوي ارشاداتو په رڼا کې:

[و عن ابن عباس رضی الله عنه قال اخبرنی رجل من اصحاب النبی صلی الله علیه وسلم من الانصار انهم پیناهم جلوس لیلة مع رسول الله صلی الله علیه وسلم رمی منجم و ستننار فقال لهم رسول الله صلی الله علیه وسلم ما کنتم تقولون فی الجاهلیة اذا رمی بمثل هذا قالوا الله و رسوله اعلم کنا نقول ولد اللیلة رجل عظیم و ملت رجل عظیم فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم فانها لا یرمی بها الموت احد و لا الحیوت و لکن ربما تبارک اسمه اذا قضی امراً تسبیح حملة العرش ثم سبح اهل هذه السماء الذین یلونهم حتی یبلغ التسبیح اهل هذه السماء الدنیا ثم قال الذین یلون حملة

---

[۲۲۰]. الاعراف/ ۱۱۸-۱۲۱.

[۲۲۱]. طه/ ۶۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library

العرش ما ذا قال ربكم فيخبرونهم ما قال فليستخبر بعض اهل السموات بعضا حتى يبلغ هذه السماء الدنيا فيخطف الجن السمع فيقذفون الى اوليائهم و يرمون فما جاؤ به على وجهه فهو حق ولكنهم يقذفون فيه و يزيدون][۲۲۲]

يعني : له ابن عباس رضی الله عنهما روايت دی ويلي دي يوه سړی له انصارو له اصحابو د رسول الله صلی الله عليه وسلم خبر راکړ چې : دوی مونږ ته بيانول چې دوی يوه شپه له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره ناست وو يو ستوری وويشتل شو او لمبه يې وکړه نو رسول الله صلی الله عليه وسلم دوی ته وويل : په جاهليت کې مو دوی ته څه ويل : دوی وويل : الله او رسول يې پوهيږي مونږ به ويل چې يو لوی سړی په دې شپه پيدا شو يا يو لوی سړی له دې دنيا لاړ. رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل : دا د چا د پيدا کيدلو يا د چا د مړه کيدلو لپاره ويشتل نه کوي لکن نوم د الله تعالی مبارک دی کله چې يو کار وکړي د عرش حاملاني پرښتي تسبيح ووايي بيا ورپسې د دې اسمان والا تسبيح ووايي چې ورنږدې وي څو کې تسبيح ووايي د دې دنيا اسمان والا بيا وايي هغه څوک چې د عرش حمله وو ته نږدې دي خدای تعالی مو څه ويل؟ نو خبر ورکوي له هغه څه چې په هغه ځينې اسمان والاو ځينې نورو ته خبر ورکړي څو چې دې اسمان د دنيا ته ورسيږي نو جن دغه اوريدنه راوتښتوي او خپلو اولياوو ته يې وروغورځوي نو څه يې چې راوړي وي په هغو يې په مخ وولي تر هغه حق وي او لکن دوی په هغه کې ويشتل او زياتول کوي.

د دې موضوع حقيقت قرآن مجيد کې داسې راغلی دی :

[وَلَقَدْ زَيَّنَّا السَّمَاءَ الدُّنْيَا بِمَصَابِيحَ وَجَعَلْنَاهَا رُجُوماً لِلشَّيَاطِينِ وَأَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابَ السَّعِيرِ][۲۲۳]

---

۲۲۲. رواه مسلم.

۲۲۳. الملک / ۵.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه: او خامخا په تحقیق ښایسته کړی دی مونږ دا اسمان (له ټولو اسمانونو څخه) ډېر نږدې (ځمکې ته) په ډېرو ستوریو سره ګرځولی دی مونږ دغه (ډېرې ستوری) ویشتونکي شیطانانو لره او تیار کړی دی مونږ دوی لره عذاب ډېر سوزوونکی (د دوزخ) له دې مبارک حدیث معلومیږي چې ملکې په کائناتو کې پورته او ښکته د خدای تعالی احکام په ځای کوي او شیطانان کوشش کوي چې د پرښتو خبرې واوري او خپلو (کاهنانو) او نجومیانو دوستانو ته یې انتقال کړي، نو هغوی چې کوم خبر وایي له واقع سره سمون مومي نو عوام الناس یې علم غیب تصور کوي لکه غلا، ډاکه، قتل، اختطاف، ښادي او داسې نور څه چې شیطانان یې خبر واوري هغه ضعیف العقیده وو ته رسوي، دوی یوازې د عوامو دولت نه ضایع کوي، بلکې د ایمان متاع ته هم تاوان رسوي لکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

[من اتی عرافا فسا له عن شيءٍ فصدقه بما یقول لم تقبل له صلوة اربعین یوماً] [۲۲۴]

یعنې: څوک چې عرافو ته ورځي او د یو څیز پوښتنه ترې کوي او چې څه وایي د هغو تصدیق کوي څلوېښت ورځې یې لمونځ نه قبلیږي.

په بل حدیث شریف کې راغلي دي:

[عن ابي هریره رضي الله عنه عن النبي صلی الله علیه وسلم قال من اتی کاهنا فصدقه بما یقول فقد کفر بما انزل علی محمد صلی الله علیه وسلم] [۲۲۵]

یعنې: له ابي هریره رضي الله عنه روایت دی چې له نبي صلی الله علیه وسلم یې روایت کړی دی فرمایلي یې دي څوک چې کاهن ته ورشي او د

---

[۲۲۴]. رواه مسلم.

[۲۲۵]. رواه ابو داؤد کتاب الطب.



www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

وینا تصدیق یې وکړي په تحقیق کافر کیږي په هغه څه چې په محمد صلی الله علیه وسلم نازل شوي دي.

بخاري له قتاده یو قول رانقل کړی چې خدای تعالی ستوري د درې شیو لپاره پیدا کړي دي. یوه دا چې د اسمان ښکلا ده. دویم دا چې شیطانان پدې ویشتل کیږي او دریم دا چې نښې ښیي چې خلک د سفر لوری پرې معلوم کړي نو څوک چې له دې درې عرضو سربېره بل غرض یې بیانوي هغه غلطي کوي.

[عن ابی عباس قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من اقبلس بابا من علم النجوم لغیر ما ذکر الله فقد اقبلس شعبة من السحر المنجم کاهن و الکاهن ساحر و الساحر کافر][۲۲۶]

یعنې: له ابن عباس رضی الله عنهما روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي څوک چې د نجوم د علم دروازه غیر د هغه څه چې الله تعالی ذکر کړی اقتباسي کړه نو په تحقیق د سحر، منجم، کاهن د څانګې اقتباسي یې کړې ده، کاهن ساحر دی او ساحر کافر دی.

قرآن کریم کې داسې راغلي دي:

[وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ جَمِيعاً يَا مَعْشَرَ الْجِنِّ قَدْ اسْتَكْثَرْتُمْ مِنْ الانسِ وَقَالَ أَوْلِيَاؤُهُمْ مِنْ الانسِ رَبَّنَا اسْتَمْتَعَ بَعْضُنَا بِبَعْضٍ وَبَلَغْنَا أَجَلَنَا الَّذِي أَجَّلْتَ لَنَا قَالَ النَّارُ مَثْوَاكُمْ خَالِدِينَ فِيهَا إِلاَّ مَا شَاءَ اللَّهُ إِنَّ رَبَّكَ حَكِيمٌ عَلِيمٌ][۲۲۷]

ژباړه: او یاد کړه هغه ورځ چې جمع به کړي (الله) دوی ټول (او وبه ویل شي) ای جماعته د جنیانو (د پېریانو) په تحقیق چې ډېر مو تابع کړي دي تاسې له انسانانو او وبه وایي دوستان د دوی له انسانانو څخه، ای ربه زمونږ نفع اخستې ده ځینو (نورو) او رسیدلي یو مونږ نېټې خپلې ته هغه نېټه چې مقرره کړې وه تا مونږ ته (چې قیامت دی او مونږ ترې منکران وو نو اوس به

---

۲۲۶. مشکوة – بحواله زرین.

۲۲۷. الانعام / ۱۲۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ څه حال وي؟) او وبه فرمايي (دوی ته الله) چې اور ځای ستاسې دی حال دا چې همېشه به اوسئ تاسې په دغه اور کې مګر (کله) چې اراده وفرمايي الله (د اېستلو د دوی زمهرير يا حميم يا بل کوم عذاب نه) بېشکه رب ستا ښه حکمت والا ښه عالم (ډېر خبردار) دی.

له قرآن کريم او احاديثو څرګندېږي چې مؤمنانو ته نه ښايي چې د دين له دښمنانو سره تعلق ونيسي ځکه چې په دې کارېي نه يوازې اعمال لغو او بربادېږي، بلکې اخرت کې په دردناک عذاب اخته کېږي.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په بدشگون او په پرندو د فال نیول او شرک :

له قطن ابن قبیصه روایت دی چې هغه له خپل پلار روایت کړی دی چې نبي صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي :

[عن قطن ابن قبیصة عن ابیه ان النبی صلی الله علیه وسلم قال : العیافة و الطرق و الطیرة من الجبت][۲۲۸]

یعنې : له قطن ابن قبیصه روایت دی چې هغه له خپل پلار روایت کړي چې نبي صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : عیافت ( ) طرق ( ) او طیره ( ) له جبتو (بتانو) څخه دی.

د فال په برخه کې عرض دا دی چې هغه ښه کلمه چې په طبعي ډول د سړي خوښېږي هغه ته فال وایي، د مثال په ډول سړی یو مقصد لري چې انجام یې ورته معلوم نه وي نو دی د برکت او د هغه کار د سرته رسولو دعا کوي او وایي چې خدایه د دې کار د سرته رسولو ډاډ راکړې بیا فال ونیسي چې کله هغه فال وخېژي د روحي تسکین لپاره وایي چې هغه کار به یې سرته ورسیږي، بیا که هغه کار ترسره شي او که ترسره نه شي ترسره کیدل یې حتمي نه ګڼي او که فال یې ونه خېژي یو ډول روحي تقابض ورته پیدا شي خیال کوي چې دا کار به یې سرته ونه رسیږي. په واقع کې که سرته ورسیږي او که نه قطعي باور پرې نه کوي چې سرته به نه رسیږي نو په فال کې کوم حرج نشته او الوتونکو مرغانو کې چې ښي خوا الوتل یې نېک او چپ خوا الوتل یې بد وګڼي سراسر حماقت دی، دا طرح په ورځني ژوند کې بې شمېره دي کوم څیز چې د عامو خلکو خیال کې شرک نه وي بد دي ونه ګڼل شي همدارنګه د پیشو، ګیدړې ښي او چپې خوا ځغاسته د کارغه اواز بد ګڼل ناکاره خیالات دي، او نېک فال ممانعت نه لري.

د ستورو په برخه مختلف اعتقادات دي چې زیات یې کفر بلل شوی دی :

---

۲۲۸. رواه ابوداود کتاب الکهانه والتطییر.

(c) ketabton.com: The Digital Library

[عن زين بن خالد جهنمی قال صل لنا رسول الله صلی الله علیه وسلم صلوة الصبح بالحدیبیة علی اثر سماء کانت من اللیل فلما انصرف اقبل علی الناس فقال هل تدرون ماذا قال ربکم قالوا الله ورسوله اعلم قال: اصبح من عبادی مؤمن بی و کافر فاما من قال: مطرنا بفضل الله و رحمته و ذلک مؤمن بی کافر بالکوکب فاما من قال مطرنا بنوه کذا فذالک کافر بی مؤمن بالکوکب][229]

یعنې: له زید به خالد جهنی روایت دی ویلي یې دي: رسول الله صلی الله علیه وسلم په حدیبیه کې مونږ سره د سبا لمونځ ادا کړ مخ یې خلکو ته راواړاو. ویې فرمایل: ایا پوهیږئ چې خدای مو څه ویلي دي؟ وویل: الله او رسول یې ښه پوهیږي. ویې فرمایل: زما له بندګانو پر ما مؤمن او کافر کیږي. نو هغه څوک چې ووایي: د خدای په فضل او رحمت پر مونږ باران واوریږ په ما مؤمن دي او په ستورو کافر دي او هغه څوک چې وایي پر مونږ یې زامنو باران وکړ نو دا پر ما کافر دی او په ستورو مؤمن دی.

د ستورو په برخه کې بحث د مخه تېر شو دلته صرف دا مقصد ذکر کوو چې داسې طرح چې فلانی کار د فلانې ستوري له وجې وشو د الله تعالی له صفاتو سره شبهي شرک بلل کیږي ځکه چې د کائناتو ټول امور د واحد او لا شریک خدای جل جلاله په حکم سرته رسیږي، مسلمان ته نه ښایي چې ستوری یا بل څیز الله تعالی سره شریککړي په کائناتو کې هر شی د الله تعالی حکم او فرمان ته د تسلیم سر ښکته کړي او د ده جل جلاله د رضا او خوشحالۍ غوښتلو کې کوشش کوي او الله تعالی د هر شي په حکم کولو غالب دی.

د موسم پیش ګویي:

[229]. متفق علیه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ستورو د ځینې واقعاتو پېښودلو په برخه کې د شرک او کفر حکم باید چې د احادیثو په مطالعه کې وڅېړل شي او د موسمیاتو اوسنۍ پیشګویي بالعموم د زراعت او بزګرۍ په کارو کې مهم فطري امر دی خو دا چې د دې فن د ماهرینو د پیشګویۍ په وینا عمل کول څرنګه دي؟

نجومیانو او کاهنانو په طرح د یقین کولو له امله د شرک د تصور غوندې دی که بل ډول دی؟

په دې برخه کې عرض دا دی چې الله تعالی انسانانو ته عقل او علم ورکړی دی د هغو په استفاده یې الات ایجاد کړي دي چې د هغو په مرسته معلومات ورکوي او دا معلومات د کاهنانو او نجومیانو له معاملې سره برعکس دي ځکه چې دوی د غیب علم دعوی کوي او بې وقوفه خلک پرې یقین کوي له دې امله یې مشرک بولي، او د موسمیاتو پیشګویي ویونکی د علم غیب دعوی نه لري، بلکې د خدای تعالی له خوا د ورکړې علمي صلاحیت معلومات ورکوي چې هغه هم په حتمي او قطعي ډول خبر نه وي، د مثال په ډول د موسمیاتو ماهرین د الاتو په امداد اندازه لګوي چې د باد چلند په کومه اندازه دی، د هوا حال په څه ډول دی؟ باراني دی که نه دی، دې برخه کې قرآن کریم داسې ارشاد فرمایلی دی:

[وَهُوَ الَّذِي يُرْسِلُ الرِّيَاحَ بُشْراً بَيْنَ يَدَيْ رَحْمَتِهِ حَتَّى إِذَا أَقَلَّتْ سَحَاباً ثِقَالاً سُقْنَاهُ لِبَلَدٍ مَيِّتٍ فَأَنزَلْنَا بِهِ الْمَاءَ فَأَخْرَجْنَا بِهِ مِن كُلِّ الثَّمَرَاتِ كَذَلِكَ نُخْرِجُ الْمَوْتَى لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ] [٢٧٠]

ژباړه: او هم دغه (الله) هغه ذات دی چې رالیږي بادونه زېری کوونکي په مخکې د رحمت د ده (چې باران دی) تر هغه پورې چې راواخلي (دغه بادونه) وریځې درنې (په اوبو سره) چې روان وو مونږ دغه (وریځې زرغونولو د) هغه ځمکې ته چې مړه (وچه بې ګیاه) وي پس نازلوو مونږ له

[٢٧٠]. الاعراف / ٥٧.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې وریځو څخه اوبه نو راوباسو مونږ په هغو اوبو له هر قسم مېوو څخه هم داسې (چې دغه مړه وچه ځمکه ژوندۍ کوو) راباسو مونږ مړي (له ځمکې) لپاره د دې چې پند واخلئ (او لازم دي چې غور په کې وکړئ) په عام ډول گرم موسم کې چې کله یخه یخه هوا وچلیږي د باران خیال کیږي چې الله تعالی د اوربدلو خوشخبري ورکوي دا ډول د اندازه کولو الات چې د هوا حالات رابښيي دا ډول اندازه کول شرک نه دی.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دم تعویذات او شرک :

دم او تعویذات د مختلفو پرېشانیو او ناروغیو لپاره مهم حیثیت لري، د دم او تعویذاتو لړۍ د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د لوړو ارشاداتو په لارښوونه سرته رسیږي.

له حضرت عمران بن حصین داسې روایت راغلی دی :

[عن عمران بن حصین ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال : لارقیة الا من عین او حمة] [۲۷۱]

یعني : له عمران بن حصین روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي تعویذ نشته مگر د نظر او تبې لپاره.

رسول الله صلی الله علیه وسلم په یوه حدیث شریف کې فرمایلي دي چې نظر لگېدل حق دی، ترمذي او ابن ماجه روایت کړی دی چې : حضرت اسماء بنت عمیس عرض وکړ چې یا رسول الله د جعفر (طیاره) اولاد نظر زیات لگېږي آیا هغوی په منتر دم کړم؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل :

[نعم فانه لو کان شیءٍ سابق القدر السبقته العین] [۲۷۲]

یعني : هو! که په قدر کې څه تیر وي په نظر کېدل هم سابقه لري.

[عن ام سلمة ان نبی صلی الله علیه وسلم رای فی بیتها جاریة فی وجهها سفعة تعنی صفرة فقال : استر قوالها فان بها النظرة] [۲۷۳]

یعني : بېشکه دا په سترگو شوې ده له ام سلمه روایت دی چې نبي صلی الله علیه وسلم د دې په کور کې یوه نجلۍ ولیده چې په مخ کې یې زېړوالی و نو ویې فرمایل : تعویذ ورته وکړئ حضرت ابو سعید خدري ویلي دي

---

[۲۷۱] .

[۲۷۲] . رواه الترمذی – ابن ماجه.

[۲۷۳] . متفق علیه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د پېریانو او د انسانانو له نظر پناه غوښتله خو چې معوذتین نازل شول :

[فلما نزلت اخذبهما و ترک ما سواهما][۲۷۴]

یعنې : کله چې معوذتین نازل شول له هغو به یې کار اخست او غیر له هغه نور څه یې پرېښودل.

مسلم شریف کې له جابر رضي الله عنه یو روایت راغلی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په افسون (نظر) منتر ویل منع کړي و بیا د عمرو بن حزم څو تنو ورته عرض وکړ چې :

[یا رسول الله انه کانت عندنا رقیة ترقی بها من العقرب و انت نهیت عن الرقی فعرضوا ها علیه فقال ما اری بها باسا من استطاع منکم ان ینفع اخاه فلینفعه][۲۷۵]

یعنې : ای رسول الله موږ د لړم نه تعویذونه کول او تا له تعویذ منع کړي یو دا عرض یې ورته وکړ نو رسول الله صلی الله علیه سلم وفرمایل : پروا نه لري څوک چې له تاسې توانېږي چې خپل ورور ته نفع ورسوي نو نفع دې ورته ورسوي.

یو بل روایت دی چې :

[عن عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده ان رسول الله صلی الله قال اذا فزع احدکم فی النوم فلیقل اعوذ بکلمات الله التامة من غضبه و عقابه و من شر عباده و من شر همزات الشیاطین و ان یحضرون فانها لن تضره فکان عبدالله بن عمرو یلقنها من بلغ من والده و من لم یبلغ منه کتبها فی صک ثم علقها فی عنقه][۲۷۶]

---

[۲۷۴]. رواه الترمذی و ابن ماجه.

[۲۷۵]. رواه مسلم.

[۲۷۶]. رواه الترمذی – ابواب الدعوات.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یعنې: له عمر بن شعیب روایت دی چې له خپل پلار او هغه یې له نیکه روایت کړي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: که څوک له تاسې په خوب کې وېرېږي ودې وایي پناه غواړم د خدای تعالی په پوره کلمو له غضبه د ده او له عذابه د ده او له شره د بندګانو د ده او له شره د لغزشونو د شیطانانو ضرر به ورته ونه رسیږي نو عبدالله بن عمرو ته چې له پلار نه څه رسیدلي و هغه یې تلقینول او چا ته به چې له ده ونه رسېده هغو ته به بې لیکه او په غاړه کې به یې زوړنداوه.

د دې ټولو روایتو له رانقلولو مقصد دا دی چې د احادیثو له روښنایۍ واضح څرګندیږي چې دم او تعویذات شرعي حیثیت لري.

دا بحث د ابن قیم په تېر بحث کې هم یاد شوی خو دلته پرې روښنایي ضروري ده داسې چې د دم او تعویذاتو لړۍ کې دا خبره ذهن کې وساتئ چې:

هغه دم او تعویذات چې داسې الفاظ په کې شامل وي چې د شرک احتمال لري د هغه دم او تعویذ استعمال شرک او د خدای تعالی نافرماني ده او د رسول الله صلی الله علیه وسلم له سنتو انحراف دی او که دم او تعویذ کې قرآني ایاتونه یا د احادیثو الفاظ (یا هغه چې شرک الفاظ نه وي) مشرک نه دی، ناروغي او نظر، زهر او نور زایله کولو کې اثر لري داسې دم او تعویذ کې د مسلمانانو خدمت کول دي (هغسې چې دواګانو (لکل داء دواء) د ناروغیو علاج جواز لري دارنګه له شرک په پاکو الفاظو مشتمل دم او تعویذ قباحت نه لري.

## د اولیاوو مزارات او شرک:

د امت د افرادو هر وخت د اولیاوو کرامو دربار ته حاضرېدل له سل کلن بې ریا عبادت غوره ګڼلی، له دې امله د دوی د قبر و زیارت د شرف باعث بولي، اهل سنت وایي د اولیاوو کرامو خدمت ته حاضرېدل د سعادت او برکت سبب کیږي له دې څرګنده شوه چې د مقدسو نفوسو مجلسونه ریاض

(c) ketabton.com: The Digital Library

الجنة (د جنت باغچې) دي داسې مجلسو ځنې د مغفرت زيری کيږي د دې مؤمنانو يوازې له ژوند قربت او فيض نه رسيږي، بلکې له مرګ وروسته يې هم زيارتونه د خلقو مرجع ده، د مؤمنانو زيارتونه په صالح عمل کولو کې اهميت لري، قرآن کريم کې د وران شويو کلو نه په عبرت اخستلو لپاره د هغوی د ليدلو حکم داسې راغلی دی:

[قُلْ سِيرُوا فِي الأَرْضِ ثُمَّ انظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِينَ][277]

ژباړه: ووايه (ای محمده! دوی ته که دوی نه وي قايل په هلاک د پخوانيو قرنو) وګرځئ تاسې په ځمکه کې بيا وګورئ چې ځرنګه و عاقبت (خاتمه) د دروغجن کوونکو (د رسولانو).

بل ځای کې يې داسې فرمايلي دي:

[أَوَلَمْ يَسِيرُوا فِي الأَرْضِ فَيَنظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ كَانُوا مِنْ قَبْلِهِمْ كَانُوا هُمْ أَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً وَآثَاراً فِي الأَرْضِ فَأَخَذَهُمُ اللَّهُ بِذُنُوبِهِمْ وَمَا كَانَ لَهُمْ مِنَ اللَّهِ مِنْ وَاقٍ][278]

ژباړه: ايا نه ګرځي (دغه مشرکان) په ځمکه (ملکونو) کې چې وګوري دوی چې ځرنګه وو عاقبت اخره خاتمه د هغو کسانو چې وو پخوا له دغو (مشرکاتو) چې وو هغوی (پخواني مکلبين) هم دوی ډېر سخت له دغو (کفارو) ځخه له جهته د قوت او اثار (چې پريښي يې دي) په ځمکه کې بس ونيول هلاک کړل دوی لره الله په سبب د ګناهونو د دوی او نه وو دوی ته له (عذابه د) الله هيڅوک ساتونکی.

دې مبارک اياتونو د سرکشانو بد حال د عبرت لپاره بيان کړی دا ځکه چې قرآن کريم هدايت د تعليم، زده کړې او معانيو خزانه ده. که په دې مباراکو اياتو کې غور وشي دا په کې ځرګنديږي چې الله تعالی نافرمانان خراب کړي کورونه يې پرې ورغورځولي دي خو له دې بيانونو انسان بالخصوص

[277]. الانعام / ۱۱.

[278]. المؤمن / ۲۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسلمانان له خدای تعالی وېره پیدا کوي او دا وېره او تقوی یې (خدای تعالی سره د مینې او محبت باعث شي، نو د نافرمانو د سزا ورکولو په یادولو به د امت د پاکانو او د صالح عمل لرونکي مقدسو اشخاصو په مزاراتو د ثواب حاصلولو طرف ته توجه وشي. حضرت سلیمان بن برید رضي الله عنهما له خپل والد صاحب روایت کړی دی چې:

[قال رسول الله صلی الله علیه قد کنت نهیتکم عن زیارة القبور فقد اذن لمحمد فی زیارة قبر امه فزروها فانها تذکره الاخرة][279]

او ترمذي کې راغلي دي:

حدیث بریده حدیث حسن صحیح والعمل علی هذا عند اهل العلم لا یرون بزیارة القبور باسا و هو قول ابن المبارک والشافعی و احمد و اسحق][280]

یعنې د بریده حدیث حسن او صحیح دی علماوو عمل وربانديې کړی دی چې د قبرو په زیارتو کې حرج نشته ابن مبارک شافعي احمد او اسحق په دې قایل دي.

شک او تردید نشته چې د عامې هدیرې د مړو زیارت اخرت راپه یادوي نو د انبیاوو کرامو علیهم السلام اود اولیاوو کرامو رحمهم الله د قبرونو زیارت کول خو په اوله درجه د خدای تعالی د یاد او د اخرت د فکر کولو سبب کیږي او د خدای تعالی د غوره بندګانو قربت د دعا قبلېدلو لپاره یو حقیقت دی، دې برخه کې عن صالح بن درهم یقول انطلقنا حاجبین فاذاً رجل فقال لنا الی جنبکم قریة یقال لها الابلة قلنا نعم قال: من یضمن لی منکم ان یصلی فی مسجد العشاء رکعتین او اربعا و یقول هذه لابی هریره سمعت خلیلی ابا لقاسم صلی الله علیه وسلم یقول: ان الله عزوجل یبعض

---

[279]. رواه الترمذی ابواب الجنائز.

[280]. د بریده حدیث حسن او صحیح دی د علماوو په نزد عمل وربانديې د قبرو د زیارتو په برخه کې باک نه لري. دا قول د ابن المبارک شافعي احمد او اسحق دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

من المسجد العشاء يوم القيامة شهداء لا يقوم مع الشهداء بدر غيرهم رواه ابوداود و قال هذا المسجد مما بلى النهر] [٢٨١]

یعني: له صالح بن درهم روایت دی چې ویلي یې دي: حاجیانو سره خوشی شولم نو یو سړی و راته وویل: ستاسې په څنګ کې یو کلی دی (الابله نومېږي؟) ورته ومو ویل: هو! وویل: څوک له تاسې ما ته ضامن کیږئ چې د (العشاء) جماعت کې دوه رکعته یا څلور رکعته لمونځ وکړي او ووایي (لپاره د ابوهریره دی) ما له خپل خلیل (ملګری) ابالقاسم صلی الله علیه وسلم اوریدلي چې ویلي یې دي: ببشکه الله تعالی د (العشاء) له مسجد نه د قیامت په ورځ شهیدان راپیدا کوي د بدر له شهیدانو سره دریږي دا حدیث ابو داؤد روایت کړی دی او ویلي یې دي چې دا مسجد (النهر) ته نږدې دی.

له دې معلومیږي چې د بزرګانو مقامات د دین د عظمت پته او د ثواب د حصول ثبوت دی چې د نفلي عباداتو د صحابه وو کرامو د عقیدې مطابق یقیني فایده لري.

د حرم شریف په صحن کې د ابراهیم علیه السلام ددوه قدمو ځای (پلونه) د زمزم د رحمت اوبه، صفا او مروه نیک یادګارونه د ابراهیم خلیل د دوی قدمو (پلونو) د ساتنې مقصد دا دی چې د ده د قدمو مبارکو د پلو دومره عزت دی خپله د ابراهیم خلیل الله عزت عالمي دی.

چې د کعبې شریفې تعمیر یې جوړاوه په دې تیږه ورته درېده او د دیوال مواد به پرې پورته کېدل لکه چې الله تعالی فرمایلي دي:

[إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِي بِبَكَّةَ مُبَارَكاً وَهُدًى لِلْعَالَمِينَ ۝ فِيهِ آيَاتٌ بَيِّنَاتٌ مَقَامُ إِبْرَاهِيمَ ... الايه] [٢٨٢]

---

[٢٨١]. مشکوة باب الملاحم.

[٢٨٢]. ال عمران / ٩٧.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه: بېشکه لومړنی کوټه (بیت الله) چې جوړه شوې ده (له ګردو ټولو نه پخوا د عبادت لپاره) خلقو ته خامخا (هغه کوټه) هم دا ده چې مکه کې ده حال دا چې برکت ناکه او لاره ښوونکې ده خلقو ته (د جنت) شته په دې کوټه کې آثار ښکاري ځینې یې مقام د ابراهیم دی. همدارنګه د صفا او مروه زیارت د قبولیت په درجه عبادت دی تل د خدای تعالی رحمت پرې اوري په حنفي مذهب کې د صفا او مروه سعي واجب ده او د ابراهیم علیه السلام مقام کې دوه رکعته نفل له واجب طواف سره برابر په همدې ډول عرفات باندې درېدل د عظیم عبادت ادا کولو په عقیده به مینه او محبت سرشار او مطمئن عبادت دی.

## د عبادت او تعظیم توپیر:

ځینې خلک د مقبولو اشخاصو زیارتو ته تګ شرک بولي وایي د اولیاوو زیارتو ته ورتګ عبادي دی او د غیر الله عبادت شرک دی خو افسوس چې ځینې شدت خوښوونکي د رسول الله صلی الله علیه وسلم مقدسې مبارکې روضې مدینې منورې ته ورتګ هم شرک ګڼي، د دې اعتراض۲ په طرح هاند کوي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د شنې ګنبدې زیارت کول مؤمنانو ته مذموم وځلوي.

دا اعتراض په قطعي ډول غلط دی دغه معترضین باید متوجه شي د تعظیم او عبادت ترمنځ ستر توپیر دی ځکه چې عبادت خاص خدای تعالی ته کیږي او بې له الله تعالی بل چا ته عبادت کول شرک دی لکه صرف د کعبې شریفې طواف یې عبادت دی د بل زیارت طواف عبادت نه دی. ځینې ګمراهان عقیده لري چې ذوالحجې په لسم چې فلاني زیارت نه څوک کرداګرد طواف وهي لکه حج یې چې کړی وي. دغه عقیده مشرکانه او دا عمل سراسر شرک دی، ټول صحابه وو کرامو حج او عمرې لپاره مکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

معظمې ته تللي او د رسول الله صلی الله علیه وسلم له روضې مبارکې يې طواف نه دی کړی. که څوک له روضې مبارکې په طواف عقيده ولري دا گمراهي ده، څرنگه چې انبياو او اصفياوو ته خدايتعالی عزت او عظمت ورکړی دی نو پر مسلمانانو يې تعظيم لازم دی. حقيقي عزت او عظمت الله تعالی لره دی چې د ټولو کائناتو مالک او د ټول مخلوق رب دی. دې برخه کې د قرآن شريف داسې ارشاد دی:

[قُلْ اللَّهُمَّ مَالِكَ الْمُلْكِ تُؤْتِي الْمُلْكَ مَنْ تَشَاءُ وَتَنْزِعُ الْمُلْكَ مِمَّنْ تَشَاءُ وَتُعِزُّ مَنْ تَشَاءُ وَتُذِلُّ مَنْ تَشَاءُ بِيَدِكَ الْخَيْرُ إِنَّكَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ][۲۸۳]

ژباړه: ووايه (ای محمده!) يا الله (ای) مالکه د سلطنت (واکداره د باچاهۍ!) ورکوې ته سلطنت هر هغه چا ته چې اراده وکړې (يا الله د ورکولو يې) او بېرته اخلې سلطنت له هر هغه چا څخه چې اراده وکړې (د بېرته اخيستو يې) او عزت ورکوې هر هغه چا ته چې اراده وکړې (يا الله د عزت يې) او خوار ذليل کوې هر هغه څوک چې اراده وکړې (د ذلت يې) په لاس (د قدرت) ستا (هر راز) خير (ښېگڼې) دی بېشکه ته (يا الله) پر هر شي باندې (چې اراده وفرمايې) ښه قادر يې (هم په ورکولو هم په اخيستلو هم په عزت هم په ذلت د ټولو عزمو مالک خدای تعالی دیلکن مقبول او انعام موندونکي بندگان د تکريم وړ او د تعظيم لايق دی دا عزت خدای تعالی ورته عنايت کړی دی، الله تعالی فرمايلي دي:

[وَلِلَّهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَلَكِنَّ الْمُنَافِقِينَ لا يَعْلَمُونَ][۲۸۴]

ژباړه: او خاص الله لره دی عزت او غلبه او رسول د ده لره دی او مؤمنانو لره دی و ليکن منافقان نه پوهيږي (په عزت او رزاقيت د رب العزت).

---

۲۸۳. ال عمران/ ۲۶.

۲۸۴. منافقون/ ۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لـه دې ارشـاد واضـحه معلومېږي چې د الهـي دربـار مقبولينـو زيـارتو تـه عقيده تسليم ده نه عبادت نو عبادت ګنل يې او د شرک عقيده وربانـدې کول مناسب نه دي)

ځينې جاهلو او زرپرستو بې عملـه ګمراه مجاورين خاناقاګانې چلوي لـه شرع خلاف د بدعتونو مرتکب کيږي چې نـه د تصـوف لـه تعليمـاتو سـره برابرى لري او نه د قرآن او سنتو له تعليماتو سره سمون لري. دغه خرافات هنـدي رسـومات دي د تصـوف پـه طريقـې پـورې تعلق نـه لـري، د تصـوف مسلک ګمراه کوونکى مسلک نه دى او نه د داسې حرافاتو تصديق کوي، دا پـه ديـن کې داخل شـوي خرافـات دي چې نـه علمي حيثيت لـري او نـه روحاني مقام او منزلت لري. د داسې خلکو احترام او عقيـده لـرل وربانـدې مناسب نه دي او بې لـه شبهې خرافات او بـدعات قابـل د مـذمت دي نـو د دغو شرخوښوونکو له امله اهل سنت ته مشرک ويـل او د اوليـاوو لـه مقـام منکرېـدل سـم کـار نـه دى. څـه ضـرورت دى چې د علمـاوو او د عوامـو د حوصلې د خرابولو باعث او سبب شي، کعبې شريفې کې بت پرستي او شرکت د کعبې حيثيت ته صدمه ونه رسوله او نه يې د هغې په عظمت کې توپير راووست بل وخت کعبه شريفه له خرافاتو پاکه شوه، نو دا ډول که په چا کې خرابي وي د هغه پاکولو کوشش په کار دى. هر مقصد تـه شرک او مؤمننو ته مشرک ويلو نـه بايـد پرهيـز وشي او څومره چې امکـان لـري پـه مسلسل ډول عوامو کې بيداري او ديني شعور پيدا کول ضروري دي.

د ادب او تعظيم په برخه کې غلط نظريات:

د ادب او احترام په برخه کې د يوه ضرورت معلومـات وړانديز لازم دى او هغـه دا چې څو غلط نظريـات رواج شـوي چې خلـک د بزرګـانو ګمـراه او نااهله اولاد د تعظيم وړ بولي او د اسلام د عـزت او وقـار معيـار رنـګ او نسل نه دى، بلکې د عـزت او تکـريم سـبب يې تقـوى ګڼلې ده، لـه دې املـه ضرور ده چې دغه معيار د ادب او احترام لپاره نظر کې ونيـول شي څکـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د پیر اولادوالی د عزت او احترام کولو لپاره کافي نه دی، حقیقت دا دی چې د پیغمبر اولاد د ډېر احترام وړ دی خو چې نیکو اعمالو لرونکي وي بیاد پیر اولاد هم په دې ډول چې د صالح اعمالو لرونکي وي د احترام وړدی ځکه چې د قیامت په ورځ وراثت فایده نه لري او نه نسب ګټه رسوي، بلکې هله جنت د ایمان او صالح عمل ثمره ده.

یو ضروري وضاحت:

د اولیاوو په مزاراتو د حیوان د ذبح نذر کول یا یې د کوم شخصیت په نوم نذر او نیاز کول معترضین د مشرکینو له طریقې سره مشابهت ګڼي. له دې امله ورته شرک وايي او دا څیزونه حرام بولي.

دې برخه کې عرض دا دی چې څوک په څاروي د ذبح په وخت د بت نوم اخلي یا څوک بتانو ته نیاز کوي وايي ثواب یې صالحاتو ته رسیږي یا د څاروي په ذبحه کې د خدای تعالی د نوم د یادولو په ونج د بت (غیر الله) نوم واخلي او ذبح کړی شي بې شبهې دا شرک او هغه مذبوحه حرامه ده ځکه چې قرآن کریم کې راغلي دي:

[إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنزِيرِ وَمَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللّهِ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلاَ عَادٍ فَلا إِثْمَ عَلَيْهِ إِنَّ اللّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ][۲۸۵]

ژباړه: بېشکه هم دا خبره ده چې حرام کړی دی (الله) په تاسې باندې (خوراک) د مردارې او (حرام کړی دی الله خوراک د) وینې (بهېدونکې) او (حرام کړی دی الله خوراک د) غوښې د خنزیر او (حرام کړی دی الله خوراک د) هر هغه حلال کړی شوي چې اواز کړی شوی وي په هغه باندې (په وخت د ذبح کې) بې له پاک الله نو هغه څوک چې اړ (ضرورتمند) شي (د دې حرامو خوړلو ته) حال دا چې نه ظلم کوونکی او نه تجاوز کوونکی وي (له قدر د

[۲۸۵]. البقره / ۱۷۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کفافه) نو نشته گناه په ده باندې، بېشکه چې الله لوی بخښونکی پوره رحم لرونکی دی.

د خدای تعالی دې فرمان کې روښانه راغلي دي چې په کومې مذبوحې چې غیر له خدای تعالی د څه شي نوم یاد شوی وي حرامه ده، دې کې مختلف صورتونه دي، یو دا چې یو ګډوری د الله تعالی په نوم ذبح شي او د ذبح په وخت د الله تعالی نوم (بسم الله الله اکبر) وربانديې ووایي د قرآني ایاتو له احکامو سره یې سم نیاز او نذر کړی وي ثواب یې اولیاوو، صلحاوو ته رسېدل غواړي، دا د اسلام د تعلیماتو په خلاف نه دي لکه چې په قرآن کریم کې راغلي دي:

[فَكُلُوا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ إِنْ كُنتُمْ بِآيَاتِهِ مُؤْمِنِينَ] [۲۸۲]

ژباړه: نو خورئ تاسې له هغه مذبوحې څخه چې یاد کړی شوی وي نوم د الله پر هغې باندې که یئ تاسې په ایاتونو د الله ایمان لرونکي.

په بل مبارک ایت کې داسې ارشاد دی:

[وَمَا لَكُمْ أَلاَّ تَأْكُلُوا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ وَقَدْ فَصَّلَ لَكُمْ مَا حَرَّمَ عَلَيْكُمْ إِلاَّ مَا اضْطُرِرْتُمْ إِلَيْهِ وَإِنَّ كَثِيراً لَيُضِلُّونَ بِأَهْوَائِهِمْ بِغَيْرِ عِلْمٍ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِالْمُعْتَدِينَ]

ژباړه: او څه مانع دی تاسې ته چې نه خورئ تاسې له هغې مذبوحې څخه چې یاد کړی شوی دی نوم د الله پر هغې (په وخت د ذبحې کې) حال دا چې: تحقیق واضح کړی دی (الله) تاسې ته هغه چې حرام کړي دي پر تاسې او دغه مذبوحه باسم الله له هغو څخه نه ده) مګر هغه محرمات چې اړ (محتاج) کړ شوي تاسې (خوراک د) هغو ته (نو هغه هم حلال دي) او بېشکه ډېر له خلکو خامخا ګمراه کوي (خلق په تحلیل او تحریم) په ارزوګانو خپلو بې له

---

۲۸۲. الانعام / ۱۱۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهې (او تحقیقه) او برهانه، له جهله) بېشکه رب ستا هم دی ښه عالم (دانا) دی په تېرېدونکو (له شرعي حدودو هم).

له پورتنیو مبارکو ایاتونو منکشفېږي چې حرام هغه مذبوحه ده چې غیر له الله تعالی د بل شي نوم پرې یاد شوی وي او کوم چې د خدای تعالی نوم د ذبح په وخت کې ورباندې ویل شوی وي حرام نه دی، بلکې حرام ویل ورته د قرآني ایاتو نه خلاف دی له دې امله د خدای تعالی د غوره بندګانو د مرکزونو په (لنګر) کې د خدای تعالی په نوم ذبح کیږي دې طرح ته چا حرام نه دي ویلي، بلکې یو شریف صورت حال یې بللی دی او د شیخ عبدالقادر جیلاني ته د ثواب رسېدلو یوه طریقه ده او د شرک شائبه پکې نشته حرام ویل یې ورته درست نه دی ګڼلی ځکه حرام هغه دي چې په سود، غلا او نورو ناجائزو طریقو کمایي شي په ناجائزې کمایۍ لنګر چلول هم حرام دي، او د صوفیانو لګښت له حرام مال هم حرام دی، د قرآن کریم دتلاوت د قبولیت دعا ته ناجائز یا حرام ویل مناسب نه دي.

اوس د ذکر شوي توپیر له مخې خانقاه کې په سلهاو شاګردان فرض تعلیم او تدریس کوي صوفیه نړۍ سر تر پښو د شفقت او محبت اشخاص او روحاني کشش لرونکي دي هر وخت د فقراوو او طالبانو زیات موجودوالی ورسره حقیقت دی نو د نذر او نیاز ورول صوفیانو ته یې ورکول او وېشل په اصل کې طلبه وو او فقراوو سره په اصل کې د تعلیم او تدریس له مشین سره مرسته ده په سوونو داسې طریقې رائجې دي چې شرعاً ورته قباحت نه ویل کیږي او شرک ګڼل یې سراسر بهتان دی، د خدای تعالی د رضا او خوشحالۍ غوښتل د خدایتعالی د نیکو بندګانو کار دی، قرآن کریم ایمان او تقوی او ولایت معیار ګرځولی داسې ارشاد یې فرمایلی دی:

[أَلا إِنَّ أَوْلِيَاءَ اللَّهِ لا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلا هُمْ يَحْزَنُونَ (٦٢) الَّذِينَ آمَنُوا وَكَانُوا يَتَّقُونَ (٦٣) لَهُمُ الْبُشْرَى فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الآخِرَةِ لا تَبْدِيلَ لِكَلِمَاتِ

(c) ketabton.com: The Digital Library

اللّه ذَلكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ (۲۴) وَلا يَحْزُنْكَ قَوْلُهُمْ إِنّ الْعِزّةَ لِلّهِ جَمِيعاً هُوَ السّمِيعُ الْعَلِيمُ (۲۵)] [۲۸۷]

ژباړه : واورئ خبردار شئ چې بیشکه دوستان د الله نشته هیڅ قسم ویره په دوی (له کوم مکروه) او نه به دوی خفه کیږي (هیڅېږي له قوت د کوم مامول نه) (دغه دوستان) هغه کسان دي چې ایمان لري او وي دوی چې ځان ساتي (له معاصیو او ویریږي له الله نه) دوی ته زیری دغه ژوندون لږ خسیس کې او په اخرت کې نشه هیڅ بدلول د کلماتو د الله تعالی ته دغه (زیری د دواړو جهانو) هم دغه دی بری ډیر لوی ا و نه دې خفه کوي تا (ای محمده!) خبرې د دوی (چې الله نه مني ستا تکذیب کوي او ډاروي دې) بیشکه چې زور خاص الله لره دی ټول هم دی دی ښه اوریدونکی (د ګردو ټولو اقوالو) ښه خبردار (په ټولو احوالو).

د ولایت معیار محض په قبر د مجاورینو راټولیدل نه دي، بلکې ایمان او صالح عمل او تقوی ده، د خدای تعالی غوره بنده هغه دی چې د خدای تعالی عبادت او د رسول الله صلی الله علیه وسلم اطاعت کوي د جامو او د هغو په رنګو او ډولو ولي کیدلای نه شي. څوک چې د مرشد یا ولي تلاش کوي د هغه جامو ته نه ګوري، بلکې د هغه صالح عمل ته، د تقوی څښتنانو ته قربت حاصلیږي، د تقوی د څښتنانو صحبت په دنیا او اخرت کې نافع دی، د خدای تعالی دوستي د نورو ښو کسانو له دوستیو امتناع نه لري.

وروستۍ خبره :

څرګنده خبره ده چې د الله تعالی له طاقت سره برابری نشته، الله تعالی یو دی په ذات او صفاتو او عباداتو کې شریک نه لري په کائناتو کې د رحمة للعلمین مقدس ذات حضرت محمد صلی الله علیه وسلم مجسم نور دی

---

[۲۸۷]. یونس / ۲۲-۲۵.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مؤمنان په یقین سره (اشهد ان محمداً عبده ورسوله) وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د خدای تعالی بنده او رسول دی، مسلمان له سره دې سوچ او فکر کې نه ولویږي چې خدای جل جلاله په ذات صفات یا عبادتو کې څه شی شریک وبولي نه الله تعالی شریک لري او نه مسلمان دا سوچ او فکر کوي، دې برخه کې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

[عن عقبه بن عامر ان رسول الله صلی الله علیه وسلم خرج یوماً فصلی علی اهل احد صلاته علی المیت ثم انصرف الی المنبر فقال: انی فرطکم و انا شهید علیکم و انی والله لا نظر الی حوضی الان و انی قد اعطیت مفاتیح خزائن الارض او مفاتیح الارض و انی والله ما اخاف علیکم ان تشرکوا بعدی ولکنی اخاف علیکم ان تنافسوا فیها][۲۸۸]

یعنې: له عقبه زوی د عامر روایت دی چې یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم راووت په احد والاوو یې د جنازې لمونځ ادا کړ بیا منبر ته وخوت ویې ویل: بېشکه زه پر تاسې شاهد یم او قسم دی چې زه مې همدا اوس حوض ته ګورم او د ځمکې د خزانو کیلي ګانې راکړ شوي دي او قسم دی چې زه په تاسې دا وېره نه لرم چې مشرکان به شئ، لکن په تاسې وېرېږم چې په دې کې به له یو بل سره سیالي کوئ.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم څرګند ارشاد دی چې پس له ما مؤمن سره د شرک یا کفر ګنجایش قطعاً نشته، دې وخت کې به بېګاه او سبا د کفر او شرک چالانېدلو په ځای مؤمنانو سره د محبت او لوروني د فضا پیدا کولو کوشش کېږي، چې امت د بد امنۍ ښکار کېدلو نه نجات وموميږ، انبیاوو کرامو په تېره رسول الله صلی الله علیه وسلم او د امت پاکان وسیله کوي، عثماني تفسیر د (ایاک نعبد و ایاک نستعین) تفسیر لاندې لیکلي دي...

---

[۲۸۸]. رواه البخاری کتاب الرفاق.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حقیقي مرسته د الله تعالی ده خو که کوم بنده د ظاهري استعانت لپاره واسطه کړی شي، دا استعانت په حقیقت کې د خدای تعالی استعانت دی.

په عثماني تفسیر کې راغلي دي:

څوک چې الله تعالی سره څوک شریک یا معبود وګرځوي دا شرک دی په دې کې شک نشته چې دا نه معاف کیږي، قرآن کریم او نبوي احادیثو تشریحات ورکړي چې له خدایتعالی وېره او له رسول الله صلی الله علیه وسلم شرم په کاردی، سربېره پر دې انبیا او صلحا وسیله ګرځول د معجزو او کراماتو حق ګڼل قطعاً شرک نه دی، دا کمالات د خدای تعالی خاصه عطا ده د لوړو مرتبو والا وو ته یې عطا کړی دی فرمایلي یې دي:

[... ذَلِكَ فَضْلُ اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ][۲۸۹]

ژباړه: دا د الله فضل دی هغه چا ته یې ورکوي چې ورته خوښه یې شي او الله تعالی د ستر فضل خاوند دی.

دعا کوم چې الله تعالی دې د خپل محبوب حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم په مخ ما او ټولو مؤمنانو ته له هر ډول پټ او ښکاره شرک نه پاکېدل او پاک ساتل راپه برخه کړي او د اسلامي امت ټول افراد په متحد خلافت سرفراز کړي او د تېر شوي عظمت له اعادې زیات نعمت راعطا کړي (ما او زما مور او پلار استادان حق لرونکي اولادونه او ټول مسلمانان وبخښی، دنیا او اخرت مو سم کړی، له مونږ رضا شی)

امین --- سید المرسلین یا رب العلمین.

[اللهم صلی علی سیدنا محمد و علی ال سیدنا محمد افضل صلوتک بعدد معلوم لک و بارک و سلم و صلی علیه اشهد ان لا اله الا الله وحده لا شریک له و اشهد ان محمداً عبده ورسوله الله اللهم انا نعوذ بک من ان نزل او نزل او تضل او نظلم او یظلم علینا او نجهل او یجهل علینا

---

[۲۸۹]. الحدید / ۲۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library

و اخر دعونا ان الحمد لله رب العلمين

يو خبر

## د فروغ اسلام د تحریک پېژند ګلوي :

دا يو حقيقت دی چې په خلکو کې اسلامي سوچ او فکر پيدا شوی دی. د شپې او ورځې د ديني تحفظ په برخه کې به عملاً د تحريکاتو په سرګرمۍ په ټولنيز ډول زيار او محنت باسي د فروغ اسلام د تحريک مشين زيات د پاک قرآن د دروسو او د شريفو احاديثو لړۍ جاري کړې نامتو علماوو په کې څېړنې کړي عام او خاص ترې استفاده کوي، سربېره پر دې د ذکر او فکر محافلو ته ستر اهميت ورکوي، د دغه تحريک مشين د تشدد او نفرت په ونج د محبت او اتحاد د اصولو په منظر کې نيولو باندې ولاړ دی، د تحريک مشين چلوونکی اکثراً تعليم يافته او د دين محنت ګالونکي دي مخلص مرستيالان لري په انفرادي او اجتماعي حيثيت د ديني فکر خپرونو باندې لګيا دي کار کوي، بنيادي نکتې يې د رسول الله صلی الله عليه وسلم عشق او صحابه وو کرامو رضی الله عنهم محبت دی.

د دغه تحريک انتظامي کميټه د تشکيل له مقررۍ سره سم مينه والو ته خبر روکوي چې د دې تحريک رکنيت په چا پورې خاص محدود او محصور نه دی، بلکې د اهل سنت هر څوک کولای شي چې د افهام او تفهيم له لارې د دې تحريک رکنيت حاصل کړي. د متين دين خدمت د صادق امين صلی الله عليه وسلم په محبت کې وکړي. د اهل سنت ټولو ورونو ته دې مشين کې د شرکت کولو بلنه ورکوو.

مخلص حافظ عبدالرؤف د فروغ اسلام تحريک صدر

عربي ايم اې – د اسلامياتو ايم – اې

دې کمېټې د (حقيقت شرک) په نوم کتاب هم په اردو خپور کړی چې د دې کتاب په دې برخه کې ترې اعظمي استفاده شوې ده د حوالې په ډول مينه وال مراجعه ورته کولای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په درناوی
الحاج پروفیسور دوکتور قاضي حفیظ الله ښاد جبار خېل
یکشنبه ۲۰۰۶/۲/۱۹ – ۳۰ دلو ۱۳۸۴ – ۲۱ محرم الحرام ۱۳۲۷
ارباب روډ پېښور ارباب عارف کالوني دوهمه کوڅه د مهاجرت په وخت کې.

# دعا

الله مونږ مسلمانان لرو دا تمه
عقیده مو ساته ستا په خوښه سمه
عبادت ستا کې کمی نه مو وساته    نیمګړتیا راوبخښه له خپل کرمه
د بشر چوپړ کې داسې متره راکړه    په ایمان چې خلاص کفار شي له تورتمه
ما له دې دنیا ژوندی جنت ته بوزه    زښت ډار یږم د مرګي انځور له غمه
ملا الاعلی محمود ځای د حضرت دی
ښاد دې هم د یوال شریک ورسره یمه

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ماخذونه

١_ قرآن مجید.
٢_ سرگذشت ایمان
٣_ تجلی خدا در افاق و انفس
۴_ محمد علی سادات، اصول و مبانی خدا شناسی استدلالی چاپ سال ۱۳۲۱ انتشارات هدی ایران.
۵_ پوهاند اسد الله شینواری، خداجویان لکچر نوټ د افغان پوهنتون.
٦_ کتاب الانصاف طبع استنبول ترکیه.
٧_ هفتاد و سه ملت به ۷۸۰ هـ کال د دکتور محمد جواد مشکور په اهتمام او تصحیح چې د پوهنتون استاد دی، لیکوال یې معلوم نه دی خو د اهل سنت او جماعت پېرو معلومېږي.
٨_ فروغي، شرح حکمت د اروپا چاپ.
٩_ فخر الدین رازي، اعتقادات فرق المسلمین.
١٠_شیخ عطار، تذکرة الاولیاء طبع طهران.
١١_ تبصرة العلوم.
١٢_ احیاء العلوم غزالی.
١٣_ جامع الصغیر.
١۴_ شرح مواقف.
١۵_ فقه اکبر.
١٦_ شرح عقاید نسفی.
١٧_ الاربعین.
١٨_ د امام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه وصیت.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# د عقیده پوهنه مؤلف

الحاج پروفیسور ډاکټر قاضي حفیظ الله ښاد جبارخېل زوی د مولانا ملا عبدالحکیم خان زوی د محی الدین خان زوی د محمد عظیم خان زوی د رحمت خان چې عبدالجبار خان[۲۹۰] ته رسېږي او له هغه یې نسب سلیمان خان[۲۹۱] ته رسېږي او له هغه یې پورته د تاریخو له مخې چې د پښتنو د نسب لړۍ له یعقوب علیه السلام تېرېږي. نوح علیه السلام ادم علیه السلام ته وصل کېږي. په ۱۳۱۰ هـ.ش کال د افغانستان د ننګرهار ولایت د غلجایي حصارک د ناور کلي کې زیږېدلای. لومړۍ ښوونځی یې غلجایي حصارک کې شپږ کاله ویلی او له ۷-۱۲ ټولګي یې دارالعلوم شرعیه مدرسه د کابل پغمان کې ویلې ده چې استادان یې د مصر، عراق، افغانستان، پاکستان او انګلستان وو دیني، اجتماعي، سیاسي علوم یې هلته زده کړل. بیا د کابل پوهنتون د شرعیاتو له پوهنځي فارغ شوی ماستري، ایم فېل او Ph.D دکتورا یې په اسلامي علومو او عربي ژبې علومو او ادبیاتو کې د پاکستان پېښور پوهنتون نه ۱۳۹۰ هـ.ش کال ۸۰ کلنۍ کې فارغ شوی خو رسنیو کې ۸۲ کلنۍ کې فارغ ښودل شو او د نړۍ ریکارډ یې قایم کړی چې په دې منګ کې یې دکتورا کړې ده، په حنفي مذهب دی. په دیني، ادبي، تاریخي، فلکلوري برخو کې په عربي، دري او پښتو ژبو په نثر او شعر تر ۲۷۲ عنوانو پورې تالیفات لري. د عروضو یو بحر د (البحر القصیرا) د (القصیره) یعني (لنډیو) اشعارو د تقطیع او وزن

---

۲۹۰. چې اولاده یې جبارخېل نومېږي.

۲۹۱. چې اولاده یې سلیمان خېل یادېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولو لپاره وضع کړي. د توضیح المیراث تالیف يې ډېر مشهور شوی او د (قرآن پوهنه) کتاب يې تراوسه څلور ځلې چاپ شوی. د فلسفې کتاب يې د پېښور پوهنتون د دکتورا پوهنځي يوه سمستر کې تدریسېږي. د تاریخ اسلام پښتو ژبه او ادبیات د افغانستان دیني مدرسو کې درسي کتابونه دي. د یوولسم او نهم ټولګي تفسیرونه يې د معارف وزارت په لیسو کې درسي کتابونه دي. ټول کتابونه يې د رسمي هیئات له نظر ورکولو وروسته چاپ شوي دي چې شمېر يې له ۵۳ عنوانو زیات شوي دي. د ده په دکتورا د پېښور د سماء ټلویزیون د مشرق اخبار او د نیوز مجلې پرې نشرات کړي او د امریکا، انګلستان، هند او ترکیې علماوو هم په نیټ کې پرې ډېرې لیکنې کړي، شمشاد او د ننګرهار ملي او شرق تلویزینو هم زما مصاحبې پرې نشر کړي دي او د پېښور د پوهنتون پرې اویا زره کالداري رابخښلي او د پېښور قنسل راته د اکاډمیسن علمي رتبه او یو کور راته جائزه پیشنهاد کړی.
په قضاء، معارف، لوړو تحصیلاتو وزارتو کې مې دندې اجراء کړي، د ممتاز استاد مدال د عالي تحصیلاتو وزیر (صرابي) زما په ټټر ټومبلی دی او د دکتورا د پګړۍ د نېغي شملې افتخار د پېښور پوهنتون راکړی دی.
اوس مې تالیفات د افغانستان د علومو اکاډمۍ څېړنې لاندې نیولي څو چې د اکاډمیسن علمي رتبه ورتیا مې وټاکي او د کور د راکولو موضوع مې د افغانستان خارجه وزارت مربوطو څانګو ته لیکلې موضوع له دوران لاندې ده.

حسبی الله نعم الوکیل، نعم المولا و نعم النصیر

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**